سلام پوهنتون
د شرعیات او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

د افغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

# د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې څېړنه او په معاملاتو کې یې تطبیقي بېلګې

(د ماسترۍ رساله)


محصل: صفي الله " آخندزاده "
لارښود استاذ: دکتور نجیب الله " صالح "


کال: 1402هـ. ش – 1445هـ. ق

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې څېړنه

# او په معاملاتو کې یې تطبیقي بېلګې

## (د ماسترۍ رساله)

محصل: صفي الله «آخندزاده»

لارښود استاذ: دکتور نجیب الله «صالح»

کال: 1402هـ. ش – 1445هـ. ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

علمي معاونیت

د فوق لیسانس برنامو آمریت

د شرعیات اوقانون پوهنځی

د فقهي او قانون ماسترۍ برنامه

---

# تـــصـدیـق پـــانـــه

ښاغلی (صفي الله) د (اسد الله) زوی د ID: MSF-S1401-909 نمبر لرونکی، د فقهي او قانون د (لسمي) دورې محصل، خپله د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان یې دی:

(د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې څېړنه او په معاملاتو کې یې تطبیقي بېلګې)

په ۹ / ۱۲ / ۱۴۰۳ هـ ل نېټه بریالیتوب سره دفاع کړه او د حـــکم پلاوي د ارزونې پر بنسټ د ۹۲ (نمرو په عدد) دوه نوی (نمرو په حروفو) ور وګرځېد، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي غړي :

| شماره | داستاذ نوم | مسئولیت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاذ وزیر محمد سعیدي | دحکم پلاوي غړی | |
| ۲ | دکتور محمد ابراهیم صافی | د حکم پلاوي غړی | |
| ۳ | دکتور نجیب الله صالح | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

د فوق لیسانس برنامو آمر.................... علمي مرستیال ....................

## ډالۍ

**خپله دغه لیږ هڅه!**

تر ټولو د مخه لومړی خپل ګران او معزز پلار او خوږې مورجانې ته ـ چې تل یې ماته د اسلامي شریعت د نیغې لارې لارښونه او تشویق راکړی دی، او د تعلیم او تحصیل په هره عرصه او برخه کې یې زما د اوږو دروند بار سپک او په خپلو کمزورو او ضعیفه اوږو بار کړی او ماته یې د هیڅ نوع کمي احساس هم نه دی راکړی او تل یې نازولی او روزلی یم ـ ډالـــــۍ کـــوم.

دوهم ټولو مخصلو او مشفقو استاذانو ته چې په رأس کې یې زما ګران او معزز پلار ـ الحاج استاذ العلماء مولوي اسدالله آخندزاده قرار لري ـ ډالـــــۍ کـــوم.

دریم ټولو هغو دوستانو او ملګرو ته چې زما سره یې د تعلیم او تحصیل په برخه کې نه ستړې کېدونکې همکارۍ کړې او په مالي برخه کې یې زما ماته ملا را تړلې چې په رأس کې یې بیا زما ګران او معزز پلار الحاج استاذ العلماء مولوي اسدالله آخندزاده قرار لري ډالـــــۍ کـــوم.

په درناوي

صفي الله «آخندزاده»

# مننلیک

زه تر ټولو د مخه په ډېره عاجزۍ او سرټيټۍ سره د هغه خالق، رحمٰن، رحيم، قدير، سميع، عليم، وهاب او لوی ذات الله متعال ﷻ حمد، ثناء او صفت وايم، چې په خپل فضل او كرم سره يې پر ما عاجز بنده بې شمېره پيرزوينې، نعمتونه او احسانات كړي دي. او د خپل ژوند په هره شېبه كې د خپل واحد لايزال خالق ذات شكر اداء كوم او دا هيله تري لرم چې زما د ژوند پاتې ټولې شېبې د اسلامي شريعت او د اسلام د مقدس دين په واقعي خدمت كې تېرې او قبولې كړي.

د الله متعال ﷻ له حمد، ثناء او صفت څخه وروسته د هغه په غوره استازي امام الأنبياء محمد رسول الله ﷺ او د هغه په كورنۍ او اصحابو رضي الله عنهم باندې درود او سلام وايم، چې د بې شمېره ځاني او مالي قربانيو او خپلو سرونو، وينو او خوږو بدنونو د نذراني په بدله سره يې زمونږ تر ټاټوبي پورې د اسلام د مقدس دين بله ډېوه را رسولې ده، چې همدا ډېوه د تاريخ په اوږدو كې تر نن ورځې پورې د مخلصو او دين پرورو واقعي مجاهديو او شهيدانو د سرونو او وينو په بدله كې بله ده او لا به هم وي.

وروسته: تر ټولو د مخه په وياړ سره د خپل ګران او معزز پلار او خوږې مورجانې څخه مننه كوم چې تل يې زه د تعليم او تحصيل په هره برخه كې تشويق او حمايه كړی يم او زما د اوږو دروند بار يې په خپلو كمزورو او ضعيفه اوږو بار كړی او ماته يې د هېڅ نوع كمي احساس نه دی راكړی مننه كوم.

په دوهم قدم كې د لوړو زده كړو وزارت، د سلام پوهنتون د رهبرۍ، ټولو استاذانو، اداري كارمندانو او په ځانګړي ډول د شرعياتو پوهنځی د فقه او قانون د ماسترۍ د برنامې له استاذانو او اداري كارمندانو څخه مننه كوم، چې د علم او پوهې په دغه ډګر كې يې زما سره نه سترې كېدونكې هلې ځلې كړې دي.

په پای كې د خپل مهربان او مشفق مشرف استاذ ښاغلي دكتور نجيب الله «صالح» د بې شمېره احسان شفقت، مهربانۍ، اخلاص، حوصلې او واقعي لارښونې له حده زيات مديون او مننوی يم، چې د دې موضوع په ټاكلو، تېروتنو، اصلاح او د علمي منابعو او سرچينو په لارښونه كې يې هېڅ نوع لازمه همكاري را څخه نه ده سپمولې او تل يې د يو مخلص او مشفق ملګري او استاذ په څېر په ورين تندي سره تشويق او حمايه كړی يم او د دغه څېړنې او ليكنې د ستونزو د حل په هره برخه كې يې راته لازمه لارښونه او همكاري كــړې ده.

په درناوي

صفي الله «آخندزاده»

## لنډيز

څرنګه چې زما د ماسترۍ د رسالې د تحقیق او څېړنې موضوع (**د «الْأُمُورُبِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې څېړنه او په معاملاتو کې يې تطبيقي بېلګې**) تر عنوان لاندې وه او د الله متعال جل جلاله په فضل او توفیق سره مې د مخلص او مشفق استاذ ښاغلي دکتور نجیب الله «صالح» تر اشراف او لارښونې لاندې تکمیل کړه نو لنډېز يې په لاندې توګه په څو لنډو ټکو کې بیانوم:

1. په دغه څېړنه کې د فقهي قواعدو پېژندنه، اهمیت، فوائد، د فقهي قواعدو تفکیک د فقهي ضوابطو او اصولي قواعدو سره او همدارنګه د فقهي قواعدو منځته راتګ، تدوین او تنظیم په تفصیلي توګه بیان شوي دي.
2. په دغه څېړنه کې د فقهي قواعدو مصادر، د فقهي قواعدو د مصادرو ډولونه او په فقهي قواعدو باندې د استدلال حکم په تفصیلي توګه بیان شوي دي.
3. د «الْأُمُورُبِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې ارکان، شرائط، د قاصد، قصد او منوي شرائط او همدارنګه د «الْأُمُورُبِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مشروعیت دلائل او اسباب او ځانګړې اهمیت په تفصیلي توګه بیان شوي دي.
4. د «الْأُمُورُبِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مفرداتو مفصله شرحه، د نیت اساس، نیت ته د قرآنکریم سنت نبوي صلی الله علیه وسلم پاملرنه، د نیت محل، وقت، هدف، حقیقت او اقسام په تفصیلي توګه بیان شوي دي.
5. د قصد او نیت د صریح لفظ سره د تعارض په اړه مختلفې نظریې او د اسلامي فقهي موقف او د نیت د مشروعیت موخه په تفصیلي توګه بیان شوي دي.
6. د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د اړونده مروجو او معاصرو معاملاتو مختلفې تطبيقي بېلګې او اړونده ګڼ شمېر متفرقه مسائل او ځینې استثناءات په تفصیلي توګه بیان شوي دي.

## د موضوعاتو نوملړ

سریزه........................................................................ 1
د موضوع ارزښت.............................................................. 2
د موضوع د اختیار لاملونه.................................................... 3
د تحقیق اصلي پوښتنې ......................................................... 4
د تحقیق مخینه................................................................... 5
د تحقیق کړنلاره ................................................................. 5
د تحقیق موخې ................................................................... 6
د تحقیق ستونزې................................................................. 6
خطه او د تحقیق پلان........................................................... 6

### لومړی فصل

### د فقهي قاعدې پېژندنه

لومړی مبحث: د فقهي قاعدې مفهوم.......................................... 8
لومړی مطلب: د فقهي لغوي او اصطلاحي تعریف ............................ 8
لومړی جز: فقه په لغت کې: ................................................. 8
دوهم جز: فقه په اصطلاح کې: ................................................ 10
دوهم مطلب: د قاعدې لغوي او اصطلاحي تعریف.............................. 11
لومړی جز: قاعده په لغت کې:.................................................. 11
دوهم جز: قاعده په اصطلاح کې:............................................... 12
دریم مطلب: د فقهي قاعدې او اصولي قاعدې تر منځ توپیر..................... 13
څلورم مطلب: د فقهي قاعدې او فقهي ضابطې ترمنځ توپیر...................... 17
پنځم مطلب: د فقهي قواعدو اهمیت او فوائد................................... 19
دریم مطلب: د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې ځانګړی اهمیت ............... 23
شپږم مطلب: د فقهي قواعدو منځ ته راتګ .................................... 24
اووم مطلب: د فقهي قواعدو تدوین او تنظیم..................................... 28
حنفي مذهب ..................................................................... 31

مالکي مذهب ........................................................................ 31
شافعي مذهب ........................................................................ 32
حنبلي مذهب........................................................................ 32
دوهم مبحث: د فقهي قواعدو مصادر او د استدلال حکم.......................................... 33
لومړی مطلب: د فقهي قواعدو د مصادرو تقسیم بندي............................................ 33
دوهم مطلب: هغه فقهي قواعد چې مصدر يې شرعي نصوص وي .................................. 33
لومړی جز: کتاب الله: ................................................................ 33
دوهم جز: سنت نبوي: ................................................................ 35
دريم مطلب: هغه فقهي قواعد چې مصدر يې غير نصوص وي........................................ 36
څلورم مطلب: د احکامو په برخه کې په فقهي قواعدو د استدلال حکم.................................. 37
لومړی سبب: ........................................................................ 38
دوهم سبب: ........................................................................ 39
دريم مبحث: د فقهي قاعدې ارکان او شرائط.................................................. 44
لومړی مطلب: د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې ارکان.......................................... 44
دوهم مطلب: د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې شرائط ........................................ 45
دريم مطلب: د قاصد او يا نيت کونکي شرائط .................................................. 45
څلورم مطلب: د مقصود او يا منوي شرائط...................................................... 46
پنځم مطلب: د قصد او يا نيت شرائط.......................................................... 47
څلورم مبحث: د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې د مشروعيت دلائل ................................ 49
لومړی مطلب: قرآن کريم ............................................................ 50
دوهم مطلب: سنت نبوي «صلى الله عليه وسلم» .......................................... 52
دريم مطلب: اجماع ................................................................ 53
څلورم مطلب: غير مقصود افعالو ته د شارع له لوري نه اعتبار...................................... 55
پنځم مطلب: عقل................................................................ 56
پنځم مبحث: د مقصد او نيت د مشروعيت اسباب.................................................. 57
لومړی مطلب: لومړی سبب د افعالو تر منځ توپير ................................................ 57
دوهم مطلب: دوهم سبب د الله جل جلاله لوري ته نږدېوالی ........................................ 58

## دوهم فصل

## د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې پېژندنه

لومړی مبحث: قصد ........ 61
لومړی مطلب: د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې د مفرداتو شرح ........ 61
لومړی جزء: الأمور: ........ 61
دوهم جزء: مقاصد: ........ 62
دوهم مطلب: د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې مفهوم ........ 62
دریم مطلب: د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې لاندې مهم متفرع فقهي قواعد ........ 63
څلورم مطلب: د بعضو مربوطه اصطلاحاتو پېژندنه ........ 67
لومړی نیت: ........ 67
دوهم إراده: ........ 68
دریم إذعان: ........ 68
څلورم إذن: ........ 68
پنځم عزم: ........ 69
دوهم مبحث: نیت ........ 69
لومړی مطلب: نیت اساس د عمل دی ........ 70
دوهم مطلب: نیت ته د قرآنکریم پاملرنه ........ 70
دریم مطلب: نیت ته د سنت نبوي «ﷺ» پاملرنه ........ 72
څلوم مطلب: د قصد او نیت محل او ځای ........ 73
لومړی جزء: قرآنکریم: ........ 74
دوهم جرء: سنت نبوي «ﷺ»: ........ 76
پنځم مطلب: د قصد او نیت وخت ........ 77
شپږم مطلب: د نیت هدف او مقصد ........ 78
لومړي هدف او مقصد: ........ 78
دوهم هدف او مقصد: ........ 79
اووم مطلب: د نیت حققیت ........ 80

اتم مطلب: د قصد اقسام........................................ 83
لومړی: په خارج کې د وجود او تحقق له حیثه: ........................................ 83
دوهم: په حقیقت د عبادت کې د دخول او عدم دخول له حیثه: ........................................ 83
دریم: د نیت او قصد د متعلَق «منوي» له حیثه: ........................................ 84
څلورم: د نیت په سبب د تمیز او توپیر له حیثه: ........................................ 85
پنځم: د فعل سره د مقصود د تعلق له حیثه: ........................................ 85
شپږم: د ظاهر لفظ سره د موافقت او مخالفت له حیثه: ........................................ 86
دریم مبحث: د قصد او نیت تعارض له صریح لفظ سره ........................................ 87
لومړی مطلب: د باطني ارادې نظریه ........................................ 87
دوهم مطلب: د ظاهري ارادې نظریه........................................ 89
دریم مطلب: د مقصد او صریح لفظ د تعارض په هکله د اسلامي فقهي موقف ........................................ 90
څلورم مطلب: د نیت د مشروعیت موخه........................................ 92

## دریم فصل

## د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې تطبیقي بېلګې او اړونده مسائل

لومړی مبحث: په معاملاتو کې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې تطبیقي بېلګې ........................................ 95
لومړی مطلب: د مال په ورکړه کې قصد او نیت د ورکړې ماهیت ته تغیر ورکوي ........................................ 96
دوهم مطلب: د لقطې حکم په تغیر د نیت سره تغیر کوي........................................ 97
دریم مطلب: له خوراک څخه منع کول په تغیر د نیت سره د اباحت، طاعت او حرمت حکم خپلوي... 98
څلورم مطلب: قتل په تغیر د نیت سره د عمد او خطاء حکم خپلوي ........................................ 99
پنځم مطلب: د طبیب امتناع د مریض له معالجې څخه په تغیر د نیت سره تغیر کوي........................................ 99
شپږم مطلب: د جنس پیر او پلور د نیت په تغیر سره تغیر کوي ........................................ 100
اووم مطلب: د وصي تصرف په مال د یتیم کې په تغیر د نیت سره تغیر کوي........................................ 102
آتم مطلب: په طلاق کې د کنایي الفاظو کارول په نیت پورې تړاو لري ........................................ 103
نهم مطلب: نکاح المحلل په تغیر د نیت سره تغیر کوي ........................................ 104
لسم مطلب: په دام کې د ښکار بندېدلو حکم په تغیر د نیت سره تغیر کوي ........................................ 107
دوهم مبحث: د «الأموربمقاصدها» فقهي قاعدې معاصرې تطبیقي بېلګې........................................ 109

لومړی مطلب: په هدایاوو کې معاصر تعامل ........................................ 109
دوهم مطلب: وکاله بالاستثمار ........................................ 110
دریم مطلب: په بیع العِینة کې د معاصر تعامل بېلګې ........................................ 113
څلورم مطلب: د قرض حسن حکم په تغیر د نیت سره تغیر کوي ........................................ 117
پنځم مطلب: په نیت او قصد کې تردد ........................................ 119
شپږم مطلب: د ښځو تزیین او سینګار ........................................ 120
دریم مبحث: د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې اړونده متفرقه مسائل ........................................ 121
لومړی مطلب: د «النيَّة داخلة تحت الإختيار» فقهي قاعدې معنی او مدلول ........................................ 121
دوهم مطلب: د «الأصل أن النية اذا تجردت عن العمل لا تكون مؤثرة، في الأمور الدنيوية» فقهي قاعدې
معنی، مفهوم او تطبیقي بېلګې ........................................ 124
دریم مطلب: هغه شرعي احکام چې د نیت او قصد په بدلون سره بدلون نه مومي ........................................ 124
څلورم مطلب: په یمین کې د حالف او که د مستحلف نیت اعتبار لري؟ ........................................ 125
پنځم مطلب: د ژبې او زړه اختلاف ........................................ 127
شپږم مطلب: د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې استثناءات ........................................ 129
پایلې ........................................ 130
وړاندیزونه ........................................ 131
د قرآني آیتونو نوملړ ........................................ 132
د نبوي احادیثو نوملړ ........................................ 132
د اعلامو نوملړ ........................................ 136
مصادر او مأخذونه ........................................ 137
خلاصة البحث «عربي» ........................................ 137
Summary of the Research ........................................ 145

## سریزه

بِسْمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیْم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِینَ، الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ، مَالِكِ یَوْمِ الدِّینِ إِیَّاكَ نَعْبُدُ وَإِیَّاكَ نَسْتَعِینُ وَالصَّلاةُ وَالسَّلامُ عَلٰى سَیِّدِ الأَوَّلِینَ والآخرینَ مَحْبُوبِ رَبِّ الْعٰلَمِینَ، إِمَامُ الرُّسُلِ وَالنَّبِیِّینَ مُحَمَّدٌ خَاتِمُ النَّبِیِّینَ وَعَلٰى آلِه وَأَصْحٰابِه الطَّیِّبِیْنَ الطّٰاهِرِیْنَ.

**أَمَّـــابَعْدُ!** د اسلام مقدس او مبارک دین د ټول بشریت لپاره رالېږل شوی دین دی، او د قیامت تر ورځې پورې د پلي کېدو وړ دی، بشریت په دې مکلف دی چې د ځمکې پرمخ د الله متعال ﷻ احکام پلي او عملي کړي چې په همدې موخه د الله متعال ﷻ له لوری ګڼ شمېر انبیاء او رسولان علیهم السلام هم را استول شوي دي.

انسان ته کامل اختیار ورکړل شوی دی چې د رحمٰن او که د شیطان لاره خوښوي او د دواړو لارو لارښونې او پایلې ورته د انبیاوو او رسولانو علیهم السلام په ژبو بیان شوې دي، خو هغه څوک چې د رحمٰن لاره یې غوره کړې ده په دې مکلف شوي دي چې په ټولو مؤمَن بِه شیانو باندې ایمان راوړي او د الله متعال ﷻ ټول احکام او ارشادات وپېژني او د خپل ژوند په ټولو برخو کې یې پلي کړي؛ ځکه د اسلام مقدس دین د اسلامي عقیدې تر څنګ د عمل دین دی، عقیده او عمل سره لازم او ملزوم دي یواځې عقیده پرته له عمله او یا هم یواځې عمل پرته له عقیدې مطلوب نه دي.

د اسلام د مقدس دین ټول او یا هم اکثریت ارشادات او احکام په عربي ژبه کې دی او د هر چا لپاره ناشونې ده چې نېغ په نېغه د اسلام د مقدس دین له سپېڅلو ارشاداتو او احکامو څخه استفاده وکړي؛ ځکه چې له یو لوري استعدادونه متفاوت دي او له بل لوري بشر مکلفیت لري چې په دې مجازي نړۍ کې پېشرفت وکړي او د هر وخت او زمان لپاره په هره برخه کې قانع کوونکي سپېڅلي قرآني او نبوي ارشادات او احکام له ځان سره ولري؛ ترڅو په هره برخه کې د بشري ټولنې اړتیاوې پوره، ستونزې یې حل او رفاهیت رامنځته کړي؛ په همدې موخه فقهاوو او مجتهدینو رحمهم الله د قرآن او نبوي سنتو په رڼا کې ګڼ شمېر اجتهادونه او استنباطونه پیل کړل؛ ځکه چې له یو لوري قرآني او نبوي ارشاداتو او احکامو د مبادیوو حیثیت درلود

او له بل لوري ورځ تر بلې معاصر موضوعات او مسائل را منځته کېدل او په پایله کې فروعات ډېر زیات شول؛ نو فقهاوو او مجتهدینو رحمهم الله اساسي او اصولي قواعد د قرآني او نبوي ارشاداتو او احکامو په رڼا کې وضع کړل تر څو د هرې فقهي قاعدې لاندې ګڼ شمېر معاصر فروعات را جمع او د بشري ټولنې ټولو اړتیاوو او غوښتنو ته د اسلامي شریعت د سپېڅلو ارشاداتو او احکامو په رڼا کې رسیده ګي وکړي او د بشري ټولنې شته ستونزې حل، اړتیاوې پوره او رفاهیت رامنځته کړي.

د فقهي قواعدو پوهه او په عملي ډګر کې ئې تطبیق له یو لوري په معاصر وخت کې د اسلامي نظام او ټولنې جدي غوښتنه او اړتیا بلل کېږي او له بل لوري د فقهي قواعدو په برخه کې ګڼ شمېر علماوو کرامو هر اړخیزه لیکنې او څېړنې هم کړې دي چې اکثریت یې په عربي ژبه کې شوې دي او د ګوتو په شمار یې کېدای شي په پښتو ژبه کې شوې وي، څرنګه چې د فقهي قواعدو موضوع د معاصر وخت د غوښتنې پر بنیاد یوه پراخه موضوع ګڼل کېږي؛ نو زما له زیاتې مودې راهیسې دا هیله وه چې د فقهي قواعدو په برخه کې د رحمٰن متعال ﷻ په توفیق سره په روانه ساده پښتو ژبه یوه مختصره څېړنه او لیکنه وکړم هماغه وو چې الله متعال ﷻ زما هیله نن په واقعیت بدلوي چې د ماسترئ دورې د بشپړېدو په موخه نن ورځ (د **«الْأُمُورُبِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې څېړنه او په معاملاتو کې یې تطبیقي بېلګې)** تر عنوان لاندې خپله د ماسترئ رساله په روانه او ساده پښتو ژبه کې د قدرمن او مشفق استاذ ښاغلي دکتور نجیب الله «صالح» تر اشراف لاندې د الله متعال په توفیق، فضل او کرم سره انتخاب او تکمیل کړه.

## د څېړنې ارزښت:

1. د فقهي قواعدو موضوع یوه پراخه او اهمه موضوع بلل کېږي؛ ځکه د اسلام مقدس دین یوائینی نړیوال دین او نظام دی او د ټول وخت لپاره د تطبیق وړ دی، او د بشري ټولنې د رفاهیت او مترقي کېدلو لپاره په هر برخه کې ثابت او متغیر الهي ارشادات او احکام لري او دا هر څه هغه وخت ترلاسه کېدای شي، چې د بشري ټولنې معاصرې اړتیاوې د اسلامي معاصرې فقهې په رڼا کې تعبیر شي.
2. فقهي قواعدو ته پاملرنه په حقیقت کې د ګڼ شمېر معاصرو فقهي فروعاتو په معنی ده، که څوک غواړي چې د فقهې په ګڼ شمېر فقهي فروعاتو او جزئیاتو علم او پوهه ترلاسه کړي، باید د فقهې په بنسټیزو قواعدو علم او پوهه حاصله کړي؛ ځکه د فقهي فروعاتو او جزئیاتو په اړه پوهه او علم پرته د فقهي قواعدو له پوهې او علم څخه ناشونی دی.

3. په فقهي قواعدو نه پوهه او علم د اسلامي شريعت د مقدس دين په ارشاداتو او احکامو باندې د نه پوهې معنی لري او له بل لوری د فقهي قواعدو په زده کړې سره د ټولنې زياتې ستونزې حل فصل کېږي او له اسلامي نظام سره د وضعي قوانينو په تسويد، جوړښت او پلي کېدو کې بې ساري مرسته کوي.
4. په فقهي قواعدو پوهه د يوه فقيه لپاره خورا زيات اړين دي؛ ځکه دا قواعد د ډېرو فروعاتو د پلټنې او مطالعې په نتيجه کې لاسته راغلي، او د يوې قاعدې دروسته زده کړه د زياتو فروعاتو د زده کړې په معنی دي، او همدارنگه د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده هم د معاملاتو په برخه کې ګڼ شمېر فروعات تر خپل چتر لاندې را ولي، نو لازمه ده چې په اړه يې لازمه څېړنه او تحقيق وشي.
5. د «الْأُمُورُبِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده په اړونده فروعاتو کې د افتاء او قضاء په برخه کې يوه غني منبع ګڼل کېږي او د همدې قاعدې په برکت سره په باحث کې يوه قوي فقهي ملکه پيداکېږي، چې په سبب يې ورته هغه لاره روښانه کېږي کومه چې د فقهي د ګڼ شمېر مختلفو ابوابو د احکامو او معاصرو موضوعاتو، معاملاتو او تکراري مسائلو د پېژندلو او استنباط لپاره اړينه بلل کېږي.
6. څرنگه چې د فقهي قواعدو موضوع خورا زياته مهمه او ارزښت لرونکي موضوع ګڼل کېږي نو په همدې اساس ما هم وغوښتل چې <u>د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې څېړنه او په معاملاتو کې يې تطبيقي بېلګې</u> ترعنوان لاندې خپله د ماسترئ رساله تکميل او بشپړه کړم.

## د څېړنې د انتخاب لاملونه:

1. په معاصر وخت کې د قضاء په برخه کې ترې زياته استفاده کول او ګڼ شمېر معاصر موضوعات د فقهي قواعدو د احکامو او ارشاداتو په رڼا کې حل فصل کول.
2. د يوې فقهي قاعدې هر اړخيزه زده کړه، د بې شمېره فقهي فروعاتو، د زده کړې په معنی ده.
3. په فقهي قواعدو نه پوه په اوسنيو وضعي ملي او بين المللي قواعدو د نه پوهې په معنی ده.
4. د ملي او بين المللي قوانينو په تسويد، جوړښت او استدلال کې د فقهي قواعدو څخه بې ساري استفاده کول.
5. ګڼ شمېر خواره واره او شيندلي فقهي احکام، مسائل او جزئيات د يوې فقهي قاعدې په اساس په يوه تار کې منظم کول.

6. د فقهي محدودو قواعدو زده کړه د فقهي په څېړونکي کې فقهي ملکه پیاوړې کوي او هغه د خپل مذهب مطابق د احکام په پېژند ګلوي قادروي.
7. د فقهي قواعدو زده کړه د فقهي جزئیاتو پلټنه اسانه کوي.
8. د فقهي قواعدو زده کړه د قرآني او نبوي ارشاداتو او احکامو د زده کړې معنی لري.
9. د فقهي قواعدو زده کړه د معاصرو مسائلو په فقهي تکییف کې هر اړخیزه مرسته کولای شي.
10. زمونږ په ټولنه کې اکثره معاملات یواځې په شکلیاتو باندې ولاړ دي او د معاملاتو دیانتي اړخ او مقصد ته هېڅ نوع توجه شتون نه لري.

نو پورته لاملونو ته په کتو سره زه تل د دې مشتاق وم چې د فقهي قواعدو په برخه کې پراخه او وسیعه مطالعه ولرم او تل مې د دې هڅه او کوښښ کولو چې د فقهي قواعدو په برخه کې یوه لیکنه وکړم هماغه وو چې د ماسترئ رساله مې **(د «الْأُمُورُبِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې څېړنه او په معاملاتو کې یې تطبیقي بېلګې)** تر عنوان لاندې د ماسترئ د رسالې په موخه په روانه او ساده پښتو ژبه کې د مخلص او مشفق استاذ ښاغلي دکتور نجیب الله «صالح» تر لارښوونې او اشراف لاندې د رب المنان ذات په توفیق، فضل او کرم سره انتخاب او تکمیل کړه.

## د څېړنې اصلي پوښتنې:

1. د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې معنی څه ده؟
2. د فقهي قاعدې مخینه او په اړه د علماو اندونه څه دي؟
3. د فقهي قاعدې او فقهي ضابطې تر منځ توپیر څه دی؟
4. د فقهي قاعدې او اصولي قاعدې تر منځ توپیر څه دی؟
5. د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مشروعیت دلائل څه دی؟

## د څېړنې فرعي پوښتنې:

1. آیا په معاملاتو کې اعتبار مقصد او معنی ته دی؟ او که الفاظو ته؟
2. د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې متفرع عنها قاعدې کومې دي؟
3. آیا د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې تطبیقي بېلګې په معاملاتو کې شتون لري؟

4. آیا د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده استثناءات لري؟
5. آیا د «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د حکم لاندې معاصر معاملات راتلای شي؟

## د څېړنې مخینه:

د اسلامي فقهي تاریخ ته که په غور سره وکتل شي، ځرګندیږي چې په کافي او لازمه اندازه پکې د فقهي قواعدو د پس منظر په اړه بحث نه دی شوی؛ له همدې امله د یوه څېړونکی لپاره به دا ګـــرانه وي چې د فقهي قواعدو پیدایښت او تاریخ په دقیقه توګه معلوم کړي؛ ځکه چې د فقهي قواعدو منځ ته راتګ په دوو پړاوونو کې را منځته شوی دی چې لومړی پړاو یې د فقهي قواعدو پیل او منځ ته راتګ دی او دوهم پړاو یې د فقهي قواعدو وده او تدوین دی، دا چې په وروستیو کې د فقهي قواعدو موضوع ته باحثینو او علماوو کرامو رحمهم الله خاصه پاملرنه کړې ده او په دې اړه یې ګڼ شمېر مؤثق او معتمد کتابونه، بحثونه او مقالې لیکلې دي چې په دې څېړنه او تحقیق کې مې د ځینو څخه استفاده هم کړې ده چې د بېلګې په توګه یې ځینې په لاندې ډول دي:

1. شرح القواعد الفقهیة، الشیخ احمد بن الشیخ محمد الزرقا.
2. درر الحکام شرح مجلة الأحکام،علي حیدر.
3. القواعد الفقهیة بین الأصالة والتوجیه، الشیخ. د.محمد بکر اسماعیل.
4. الأشباه والنظائر علی مذهب ابي حنیفة النعمان، علامة الشیخ زین العابدین بن ابراهیم بن محمد الشهیر بابن نُجیم.
5. قاعدة الأمور بمقاصدها.
6. القواعد الفقهیة الکبری و ما تفرع عنها
7. التحقیق الباهر شرح الاشباه والنظائر، هبة الله التاجي.

## د څېړنې تګلاره:

څرنګه چې زما د ماسترۍ دورې څېړنه او تحقیق په استنباطي او استقرائي کړنلاره باندې ولاړ او متکي دی نو په همدې اساس مو په دغه تحقیق او څېړنه کې را ټول شوي او جمع شوي مواد له مختلفو معتبرو کتابونو څخه په روانه ساده پښتو ژبه را ټول او جمع کړي دي، څرنګه چې زما د ماسترۍ د بحث او څېړنې موضوع په معاصر وخت کې زیاته مهمه او اړینه ده؛ نو په همدې اساس مو په یاده څېړنه کې د

ډېرو مهمو موضوعاتو څېړنه په مستنده توګه له مستنده مراجعو څخه کړی ده، چې إن شاء الله له يو لوري به همدا تحقيق او څېړنه د لوستونکي معلومات زيات کړي او له بل لوري به د معاملاتو د مقاصدو او په هره معامله کې د نيت د ارزښت او اهميت په اړه هر اړخيزه پوه ترلاسه کړي، او په ياده څېړنه کې د احاديثو تخريج او حکم او د غريبو الفاظو بيانولو ته هم خاصه پاملرنه شوې ده.

## د څېړنې موخې:

1. له دې څېړنې او تحقيق څخه مو لومړی تر ټولو د مخه د الله متعال ﷻ رضاء لاسته راوړل وو.
2. د اسلامي شريعت په سپېڅلو احکامو او ارشاداتو د عامو وګړو پوهول او پلي کول.
3. په مالي او معاصرو معاملاتو کې اسلامي فقهي ته د لوستونکو پام را اړول.
4. لوستونکي د معاملاتو په صحت، فساد او بطلان باندې پوهه کول.
5. لوستونکي د فقهي قواعدو په اهميت او ارزښت باندې پوهه کول.
6. په هره معامله کې دیانتي او قضائي اړخ په ګوته کول.
7. د فقهي جزئياتو د اساني زده کړې لاره په نښه کول.
8. په خپل علم او زده کړه کې يو څه نوښت راوستل.
9. د معاملاتو د اصلي مفهوم او هدف درک کول.
10. د لوړوزده کړو وزارت د لايحې مطابق د خپل مسؤليت او دندې ترسره کول.

## د څېړنې ستونزه:

دايو حقيقت دی چې هره څېړنه او تحقيق هغه وخت صورت مومي چې په ټولنه کې ستونزه درک او محسوس شي، نو زما د څېړنې او تحقيق ستونزه دا وه چې په ټولنه کې د وګړو ترمنځ مروج معاملات اکثره يواځې په شکلياتو باندې بناء وو او د معاملاتو اصلي مفهوم او مقصود ته توجه نه وه؛ چې له امله يې د ګڼ شمېر معاملاتو شرعي حيثيت په يو غير شرعي حيثيت بدلېدلو، نو په همدې اساس مو ياده موضوع د ماسترۍ د رسالې لپاره انتخاب کړه تر څو عام وګړي له يو لوري د مروجو او معاصرو معاملاتو په شرعي مفهوم، مقصد او حيثيت باندې پوه شي او له بل لوري د معاملاتو په برخه کې ياده ستونزه حل شي.

## د څېړنې ساختمان او پلان:

د دې لپاره چې موضوع هر اړخیزه و أوسېږي، په دغه څېړنه کې ما د مختلفو کتابونو د لړلیکونو څخه په استفادې سره خپله څېړنه په سریزه او دریو أصلي فصلونو باندې وېشلې ده: چې لومړی فصل په پنځو مبحثونو او هر مبحث په ګڼ شمېر مطالبو باندې مشتمل دی، چې د فقهي قاعد هر اړخیزه پېژندنې ته ځانګړی شوی دی. دوهم فصل هم په پنځه مبحثونو او ګڼ شمېر مطالبو باندې مشتمل دی، چې **د** «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې هر اړخیزې پېژندنې او هر اړخیزې څېړنې ته ځانګړی شوی دی. دریم فصل په دریو مبحثونو او ګن شمېر مطالبو باندې مشتمل دی، چې د **د** «الأموربِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې تطبیقي بېلګو او اړونده مسائلو ته ځانګړی شوی دی. او په آخر کې پالیه، وړاندیزونه، د آیتونو، احادیثو، أعلامو، مصادرو لړلیکونه، خلاصه په عربي او انګلیسي ژبو کې ذکر شوي دي.

## لومړی فصل

## د فقهي قاعدې پېژندنه

په دغه څپرکي کې به د فقهي قاعدې هر اړخیزه پېژندنه، د فقه لغوي او اصطلاحي معنی، د قاعدې لغوی او اصطلاحي معنی، د فقهي قاعدې او اصولي قاعدې ترمنځ توپیر، د فقهي قاعدې او فقهي ضابطې ترمنځ توپیر، د فقهي قواعدو اهمیت، منځته راتګ، تدوین، تنظیم، مصادر او په خاصه توګه د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې ځینې اړوند مهم او اساسي مسائل بیان شي.

## لومړی مبحث

## د فقهي قاعدې مفهوم

په دې مبحث کې د فقهي قواعدو پېژندنه او بیا د هغې توپیر د اصولي قاعدو او فقهي ضوابطو سره څېړل شوي، د دې ترڅنګ د فقهي قواعدو ارزښت اهمیت او مفهوم تر څېړنې لاندې نیول شوي دي او همدارنګه د فقهي قواعدو پیل، پرمختګ، تدوین او اړونده پړاوونو څخه په پوره تفصیل سره بحث شوی دی.

## لومړی مطلب

## د فقهي لغوي او اصطلاحي تعریف

څرنګه چې مونږ په دې بحث کې له فقهي قاعدې څخه بحث کوو نو لازمه ده چې لومړی د فقهي قاعدې عنوان چې له دوو مختلفو کلماتو څخه جوړ شوی دی چې یوه «فقه» او بله «قاعده» ده؛ نو لومړی باید همدا کلمات د لغت او اصطلاح له پلوه څرګند او ښکاره شي.

**لومړی جزء: فقه په لغت کې:**

فقه په لغت کې پوهې او فهم ته ویل کیږي لکه څرنګه چې الله ﷻ فـــرمايي:

(قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ) «[1]».

1 سورة هود آیت «۹۱».

ژباړه: وویل قوم د ده (په ځواب کې) ای شعیبه نه پوهېږو مونږ په ډېرو هغو خبرو چې ته یې وایې او بېشکه مونږ خامخا وینو تا په مونږ کې کمزوری، او که نه وی دغه خپلوان ستا نو خامخا سنگسار کړی به وې مونږ ته او نه یې ته پر مونږ قدر عزتناک.

یو شمېر علماء بیا وایي: چې فقه دقیقي پوهې ته وایي ځکه چې د شعیب علیه السلام قوم د هغه په ژبه پوهېدلو البته دهغه د خبرو په دقیقه معنی، مفهوم او موخه نه پوهېدل.

همدا شان د سورت النساء په مبارک سورت کې الله ﷻ فرمایي:

(أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكُكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَذِهِ مِنْ عِنْدِكَ قُلْ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ فَمَالِ هَؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا) «[2]»

ژباړه: هر چېرته چې اوسئ تاسي پیدا به کړي تاسي لره مرگ اگر که اوسئ تاسي په برجونو «په کلاگانو ماڼیو» ډېرو لوړو محکمو مضبوطو کړی شویو کې؛ او که ورسېږي دوی ته څه نیکي (لکه پراخي) نو وایي دوی دا (نیکي) له (جانبه د) الله ده او که ورسېږي دوی ته څه بدي (لکه قحط) نو وایي دوی دا (بدي) له جانبه ستا ده؛ ووایه (ای محمده! دوی ته) دا ټول (خیر او شر) له «جانبه د» الله ﷻ دي پس څه سبب دی د قوم لره چې نه دي نږدې (دې ته) چې پوه شي دوی په هېڅ خبره باندې.

همدا راز الله ﷻ په لاندې کې شمېر آیتونو کې فرمایي:

(تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَوَاتُ السَّبْعُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا) «[3]»

ژباړه: تسبیح وائي ده ته اسمانونه اووه واړه او ځمکه او هغه څوک چې په دوی کې دي او نشته هېڅوک (له مخلوقاتو) مگر چې تسبیح وائي سره له ثناء د دغه (الله ﷻ) مگر نه پوهېږئ تاسي په تسبیح د هغوی بېشکه دغه (الله ﷻ) دی ښه تحمل والا (په تأخیر د عقوبت د پاره د انابت) ښه رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

---

2 سورة النساء «۷۸».

3 سورة اسراء «۴۴».

(قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ انْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآَيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ) «[4]»

ژباړه: ووایه (ای محمده!) هم دغه الله ﷻ قادر دی په دې چې ولیږي په تاسې عذاب له پاسه ستاسې (لکه د لوط قوم او اصحاب فیل) یا له لاندې د پښو ستاسو (لکه فرعونیان او قارون) یا ګډ کړي تاسې فرقې فرقې او ور وڅکي الله ﷻ ځینو ستاسو ته جنګ (او سختي) د ځینو (نورو) و ګوره (ای محمده!) څرنګه راز راز بیانوو مونږ آیتونه (خپل) له پاره د دې چې دوی پوه شي.

همدا شان فقه په لغت کې داسې تعریف شوې ده: الفقه لغة فهم غرض المتكلم من كلامه «[5]»

ژباړه: فقه په لغت کې فهم د غرض د کلام د متکلم دی.

لنډه دا چې فقه پر یوه شي پوهېدلو او علم حاصلولو ته ویل کېږي؛ خو استعمال یې په قرآن کریم کې د دې لاربنونه کوي چې مطلق علم ترې مراد نه دی، بلکې دقیق فهم، قوي ادراک او د متکلم په مطلب پوهېدل ترې مراد دي. «[6]»

**دوهم جزء: فقه په اصطلاح کې:**

فقه په اصطلاح کې ګڼ شمېر بېلا بېل تعریفونه لري؛ دا چې زمونږ اصلي موضوع د فقهي څېړنه نه ده نو د فقهاوو د یو څو مهمو تعریفونو یادونه کوو.

لومړی: امام ابوحنیفه رحمه الله ﷻ فقه داسې تعریف کړی ده:

«بأنه معرفة ما للنفس و ما عليها».

ژباړه: پېژندل دنفس دي په ټولو هغه حقوقو چې ده لره دي او په ټولو هغو واجباتو چې په ده باندې دي.

دا تعریف د فقهي لپاره هغه عام تعریف دی چې اعتقادي او اخلاقي مسائل او ټوله عملي فقه پکې شاملېږي دا تعریف په هغه وخت کې غوره او مناسب تعریف وو چې فقه له نورو شرعي علومو څخه بېله نه وه البته په اوسني وخت کې فقه له نورو علومو څخه بېله شوې ده اوموضوع یې یواځې په عملي احکامو

---

4 سورة الأنعام «٦٥».

5 محمد عبد الرؤوف المناوي، كتاب: التوقيف على مهمات التعاريف، ناشر: دار الفكر المعاصر، دار الفكر بيروت دمشق، الطبعة: الأولى، «١٤١٠»، تحقيق: د. محمد رضوان الداية، عدد الأجزاء: «١»، جـ «١» صـ «٥٦٢».

6 عبدالكريم زيدان، كتاب: الوجيز في اصول الفقه، ناشر: مكتبه الفاروقيه محله جنگی پشاور، طبعة جديدة منقحة ومصححة، صـ «١٠».

پورې ځانګړې شوې ده؛ نو له همدې امله احنافو په پورتني تعریف کې د «عملاً» کلمه زیاته کړې ده تر څو له اعتقادیاتو او وجدانیاتو څخه جلا شي؛ نو اوس یې تعریف داسې کېږي:

«بأنه معرفة ما للنفس و ما علیها من الأحکام العملیة.» «[7]».

او ځینو نورو فقهاوو بیا فقه داسې تعریف کړې ده:

دوهم: «الفقه علم بالمسائل الشرعیة العملیة المکتسبة من أدلتها التفصلیة» «[8]»

ژباړه: فقه په هغه شرعي عملي مسائلو باندې علم حاصلول دي چې له تفصیلي دلائلو څخه اخیستل شوي وي.

په دې تعریف کې فقه د یوه مستقل علم په توګه تعریف شوې، له همدې امله دا تعریف نسبت نورو تعریفاتو ته شاید جامع او مانع تعریف وي؛ ځکه ډېر قیدونه لري چې فقه له نورو علومو څخه بېلوي.

## دوهم مطلب

## د قاعدې لغوي او اصطلاحي تعریف

څرنګه مو چې فقه په لغت او اصطلاح کې تعریف کړه او د لغوي تعریف له لحاظه مو یې ګڼ شمېر مثبته او کره دلائل له کتاب الله او سنت نبوي څخه هم ذکر کړل او ترڅنګ مو د فقهې بېلا بېل اصطلاحي تعریفات هم ذکر کړل؛ نو اړینه ده چې اوس مهال د فقهي قاعدې دوهمه برخه (د قاعدې) لغوي او اصطلاحي څېړنه هم په لاندې توګه و څېړل شي.

**لومړی جزء: قاعده په لغت کې:**

قاعده په لغت کې بنسټ او اساس ته ویل کېږي، په عربي ژبه کې ویل کېږي: «قواعد البناء» یعنې د ودانۍ بنسټونه او یا هم ویل کېږي: «قواعد البیت» یعنې د کور بنسټونه.

همدا رنګه الله جلاله په سورت البقرة کې فرمايي:

(وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ) «[9]»

7 تائب، برکت الله تائب، کتاب: فقهي قواعد، څېرندویه ټولنه: حکمت څېرندویه ټولنه جلال آباد، چاپ: «۲» صـ «۱۴».

8 علی حیدر، کتاب: دررالحکام شرح مجلة الأحکام، ناشر: دارالکتب العلمیة لبنان بیروت، عددالأجزاء: ۱۶ جـ «۱» صـ «۱۶».

9 سورة البقرة «۱۲۷».

ژباړه: او یاده کړه (ای محمدهﷺ!) چې پورته کول ابراهیم او اسماعیل بنیادونه (دیوالونه) د کعبې شریفې، (ویې فرمایل) ای ربه زمونږ ته قبول کړې (دا کار) له مونږ څخه، بېشکه ته همدا ته چې یې ښه اورېدونکی ښه پوهېدونکی یې.

او همدا رنګه قاعده په لغت کې «أساس الشيء» ته ویل کېږي «[10]»

د قاعدې معنی په پورته مثالونه کې حسي ده لکه څرنګه چې په حسي معنی کې استعالیږي، همدا ډول په معنوي توګه هم استعمالیږي، لکه چې وایي: «قواعد الدین، قواعد الإسلام» یعني د دین بنسټونه د اسلام بنسټونه او د یادوني وړ ده چې د قاعدې جمع قواعد ده یعني د یوه شي بنسټ او بنیاد، که دا شی حسي وي که معنوي وي.

**دوهم جزء: قاعده په اصطلاح کې:**

القاعدة: «هي قضية كلية منطبقة على جميع جزئياتها» «[11]».

ژباړه: قاعده عبارت له هغه کلي قضیې څخه ده چې په خپلو ټولو جزئیاتو باندې منطبق کېږي.

او همدا شان قاعده درر الحکام شرح مجلة الأحکام داسې تعریف کړې ده:

«هو الحكم الكلي أو الأكثري الذي يراد به معرفة حكم الجزئيات» «[12]».

ژباړه: قاعده په لغت کې اساس د شي ته وایي او په اصطلاح د فقهاوو کې قاعده عبارت له هغه کلي یا اکثري حکم څخه ده چې د جزئیاتو احکام پرې پېژندل کېږي.

په دې تعریف سره د کتاب مؤلف علي حیدر وایي: د کلي قاعدې څخه د جزئیاتو د حکم پېژندني لاره داده چې:«قاعدة: الْقَدِيمُ يُتْرَكُ عَلَى قِدَمِهِ» یعني قدیم شی په خپل قدامت پاتې کېږي. په دې سره دا یوه کلیه شوه او جزئیه یې دا ده چې: « د زید د کور لاره قدیمي ده.» د دې عمومي قاعدې څخه دا معلومېږي کله چې د زید د کور لاره قدیمي وي؛ نو باید په لازمي او حتمي توګه په خپل قدامت پاتې شي، ځکه قدیم په خپل قدیمي حالت پاتې کېږي«[13]».

---

10 دررالحكام شرح مجلة الأحكام، جـ «١» صـ «١٩».

11 جرجاني، علي بن محمد بن علي، كتاب: التعريفات، تحقيق: إبراهيم الأبياري، ناشر: دار الكتاب العربي – بيروت، الطبعة: الأولى «١٤٠٥» عدد الأجزاء: «١» جـ «١» صـ «٢١٩».

12 علي حيدر، الكتاب درر الحكام شرح مجلة الأحكام، تحقيق تعريب: المحامي فهمي الحسيني، الناشر: دارالكتب العلمية، مكان النشر: لبنان – بيروت، عدد الأجزاء: «١٦»، جـ «١»، صـ «١٧».

13 دررالحكام شرح مجلة الأحكام، جـ «١» صـ «١٩».

او یا هم په بل عبارت: قاعده له هغې کلي یا غالب حکم څخه عبارت ده چې په خپلو ټولو جزئیاتو او یا اکثریت باندې منطبق کېږي.

قاعده د علماوو په اصطلاح کې په څو معنی ګانو دلالت کوي لکه: أصل، قانون، مسأله، ضابط او مقصد چې سره مترادف دي او تعریف یې داسې شوی دی چې دا یو کلي امر دی چې په خپلو ټولو جزئیاتو باندې منطبق کېږي، لکه چې د همدې جزئیاتو احکام د همدې قاعدې څخه پېژندل کېږي او دا د هغه چا لپاره څرګندېږي چې د استعمالاتو او مواردو پلټنه یې کړې ده: قاعده هغه کلیه ده چې د جزئیاتو احوال او څرنګوالی د هغې په واسطه پېژندل کېږي. «[14]».

په پورته اصطلاحي تعریفونو کې غوره او راجح تعریف لومړنی تعریف دی؛ ځکه چې له یو لوري جامع او مانع دی او له بل لوري لنډ او آسانه تعریف بلل کېږي «[15]».

## دریم مطلب

## د فقهي قاعدې او اصولي قاعدې تر منځ توپیر

څرنګه چې فقه او اصول فقه دوه داسې مرتبط علوم دي چې حتی نېږدې ده چې د یو علم یقین پرې وشي ځکه یو اصل دی او بل فرع «کأصل الشجرة و فرعها» ځکه اصولي باید فقیه وي او فقیه باید اصولي وي او که چېرته داسې نه شي نو استنباط د حکم به له دلیل څخه څرنګه ممکن وي؟ او همدا شان به څرنګه یو څوک مجتهد شي چې اصولي نه وي؟

سره له دې داسې هم ممکنه ده چې وویل شي: «إنهما علمان متمايزان فأحدهما مستقل عن الآخر من حيث موضوعه و استمداده و ثمرته والغاية من دراسته»«[16]».

ژباړه: فقهي قواعد او اصولي قواعد دوه جدا ځانګړي علوم دي، چې هر یو د خپل موضوع، سرچینې نتیجې او د مطالعې هدف له لحاظه خپلواک دي.

---

14 فقهي قواعد، صـ «۱۵».

15 باحسين، يعقوب بن عبدالوهاب، كتاب: قاعدة الأمور بمقاصدها، ناشر: مكتبة الرشد الرياض، الطبعة الأولى «۱۴۱۹هـ -۱۹۹۹م» صـ «۱۴».

16 صديقي، محمد بن أحمد البُورنُو أبوالحارث الغزِّي، الكتاب: موسوعة القواعد الفقهية، الناشر: دار الرسالة العالمية، الطبعة الثانية «۱۴۳۱هـ ۲۰۱۰م» جـ «۱» صـ «۲۵».

د هر علم قواعد د بل علم د قواعدو څخه متميز او جدا دي؛ ځکه چې د دواړو علومو موضوعات جدا دي د اصول فقه د علم موضوع اجمالي دلايل او احکام دي او د فقهي د علم موضوع د مکلفينو افعال دي.

اولين شخص چې د دغه دواړو علومو د قواعدو تر منځ يې توپير را منځته کړی دی په مقدمه د کتاب خپل الفروق کې هغه امام شهاب الدين القرافي دی «[17]».

که چېرې مونږ د اصولي او فقهي قواعدو په اړه دقيق نظر وکړو؛ نو مونږ به د اصولي او فقهي قواعدو تر منځ لاندې توپيرونه و وينو:

**لومړی:** اصولي قواعد په زياته کچه تر الفاظو او دلالت يې په احکامو پورې تعلق لري؛ اما فقهي قواعد د احکامو په ذات پورې تعلق لري.

**دوهم:** اصولي قواعد د دې لپاره را منځته شوې دي چې مجتهد ته طُرُق د استنباط، استدلال، مناهج د بحث او نظر په استخراج د کلي احکامو کې له اجمالي دلايلو څخه دقيق کړي، اما فقهي قواعد د دې لپاره را منځته شوې دي چې ګڼ شمير مختلفة الابواب مسائل په يو واحد حکم کې سره وتړي هغه حکم چې په اړه يې فقهي قاعده بيان شوې ده.

**دريم:** په اصولي قواعدو باندې اجمالي احکام بناء وي او له همدې لارې فقيه جزئي مسائل له تفصيلي دلائلو څخه استنباط کوي، اما فقهي قواعد د متشابه حوادثو د حکم لپاره علت ګرځي او حتی کله کله اصل ګرځي.

**څلورم:** اصولي قواعد د اصولي فقه تر بابونو، ځايونو او مسائلو پورې محصور دي، اما فقهي قواعد محصور او معدود نه دي بلکې د عامې فقه په کتابونو کې زيات دي او تر دې مهاله پورې ټولې په يو خاص چوکاټ کې نه دي جمع شوي.

**پنځم:** اصولي قواعد چې کله په يوه مضمون باندې اتفاق وکړي بيا هېڅ استثناء نه لري؛ ځکه دا قواعد کليه شامله دي لکه قواعد د عربي ژبې، اما هر چې فقهي قواعد دي په خلاف د اصولي قواعدو دي؛ ځکه په يو سبب د اسبابو سره استثنائات لري لکه استثناء په نص، اجماع، ضرورت او داسې نورو اسبابو د استثناء سره له همدې جهته زياتره علماء په دې اند دي چې فقهي قواعد اغلبي او اکثري قواعد دي نه کلي او شمولي.

---

17 امام قرافي: اصلي نوم يې: شهاب الدين ابوالعباس احمد بن ادريس بن عبدالرحمن، په «۶۲۶هـ» کال مصر کې دنيا ته سترګې را خلاصې کړې دي او مالکي مذهبی دی،ډير تأليفات لري:(الفروق، الإحکام في تمييز الفتاوی عن الأحکام، القول المأنوس بتحرير ما في القاموس) او په (۶۸۴ هـ ) کې وفات شوی، کتاب: الأعلام المؤلف : خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزرکلي الدمشقي «متوفی: ۱۳۹۶هـ»، ناشر: دار العلم للملايين، الطبعة الخامسة عشر - أيار/ مايو ۲۰۰۲ م جـ «۷» صـ «۱۴۱».

د پورته توپيرونه له بيان او وضاحت څخه وروسته مونږ ويلای شو چې په مابين د دواړو علومو کې مشترک قواعد موجود دي، ليکن د نظر د زاويو څخه مختلف دي، هغه په داسې توګه چې اصولي قواعدو ته له دې حيثيته کتل کېږي چې دا يو اجمالي دليل دی چې يو کلي حکم ترې استنباط کېږي، اما فقهي قواعدو ته له دې حيثيته کتل کيږي چې دا يو جزئي حکم دی د مکلفينو د افعالو لپاره، د بېلګې په توګه د «الإجتهاد لاينقض بمثله، أو بالإجتهاد» قاعدې ته اصولي له دې اړخه ګوري چې د قضاتو د احکامو او مفتيانو د فتوی د نقض د عدم جواز په برخه کې پرې اعتماد کېږي په طريقه د عموم او اجمال سره.

اما فقيه پورته قاعدې ته له دې اړخه ګوري چې د مکلفينو په افعالو کې د يو حکم هغه علت روښانه کړي چې له امله يې حکم بيانېږي، لکه يو حاکم او يا قاضي په يوه مجتهد فيها مسئله کې حکم کوي لکه خلع چې دا طلاق دی او که فسخ د عقد د نکاح؟ نو که چېرې يې په عين مسئله خلع فسخ وګڼله او بيا يې اجتهاد تغير وکړ همدا خلع يې طلاق و ګڼلو په دغه دوهم اجتهاد سره لومړنی اجتهاد نه شي نقض کېدای «[18]».

د شيخ الاسلام ابن تيميه «[19]» رحمه الله په نظر د اصولي قاعدې او فقهي قاعدې تر منځ توپير په دې اعتبار دی چې اصول فقه عام دلايل دي او فقهي قواعد د عامو احکامو څخه عبارت دي.

د اصول فقهې د علم موضوع دلائل او احکام دي او د فقهي قواعدو موضوع د مکلف فعل د ی، د اصول فقهې مسائل هغه قواعد دي چې د شرعي احکامو د استنباط په لارو کې په کار را وړل کېږي اما شرعي احکام نه ګڼل کېږي، بلکې د شرعي احکام په استنباط کې ورڅخه ګټه اخيستل کېږي. مجتهد د شرعي احکامو په استنباط کې د همدې اصولي قواعدو په رعايت کولو له خطاء او ښويېدنې څخه ژغورل کېږي.

18 صديقي، محمد بن أحمد البُوْرنُو أبوالحارث الغزِّي، الكتاب: موسوعة القواعد الفقهية، الناشر: دار الرسالة العالمية، الطبعة الثانية «١٤٣١هـ ٢٠١٠ م» جـ «١» صـ «٢٥-٢٨».

19 ابن تيمية لنډه پېژندنه: نوم يې أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام ابن عبد الله بن أبي القاسم الخضر النميري الحراني الدمشقيّ الحنبلي، أبو العباس، تقي الدين ابن تيمية: الإمام، شيخ الإسلام.دی په حران نومې ځای کې په ٦٦١ه کې زيږيدلی دی پلار يې دمشق ته بوتله او مشهور شو نوموړی د اسلام د مبارک دين مفتي او شيخ کبير ؤ دده لپاره ډيرې زياتې ليکنې او تصنيفات دی چې يو څو يې دادي : الجوامع ، الفتاوى ، الإيمان ، الجمع بين النقل والعقل ، منهاج السنة ، مجموع رسائل ، الواسطة بين الحق والخلق، التوسل والوسيلة ، رفع الملام عن الأئمة الأعلام او داسې نورې ډيرې ليکنې شته نوموړی په ٧٢٨ه کال کې وفات شوی دی .وګوره : الزركلي، الاعلام للزركلي، جـ «١» صـ «١٤٤».

په حقیقت کې اصول فقه د استنباط لپاره قواعد ګڼل کېږي. مجتهد لومړی فقهي احکام د اصولي قواعدو په رڼا کې استنباط کوي، بیا هغه مشابه فرعي فقهي احکام په یوه قاعده کې مرتب کوي چې هغې ته فقهي قاعده ویل کېږي«[20]».

20 فقهي قواعد، صـ «۱۹».

## څلورم مطلب

## د فقهي قاعدې او فقهي ضابطې ترمنځ توپير

قاعده په ګڼ شمېر فقهي بابونو کې په مختلفو فروعاتو او مسائلو باندې احاطه کوي لکه: «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعده چې عباداتو، جناياتو، عقودو او داسې نورو فقهي بابونو ته شامله ده.

اما ضابطه د يو باب فروعات را جمع کوي لکه د بېلګې په توګه په لاندې حديث شريف کې:

عن ابن عباس قال سمعت رسول الله ﷺ يقول « إِذَا دُبِغَ الإِهَابُ فَقَطْ طَهُرَ» «[21]».

ژباړه: له ابن عباس «رضي الله تعالى عنه» څخه روايت دی چې وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چې ويل يې: هر هغه پوستکی چې رنګ کړل شي پس يقيناً هغه پاک شو.

پورتنی حديث شريف په خپله اړونده موضوع کې د يوې فقهي ضابطې په شان دي، او په يو خاص باب باندې احاطه کوي. يا په بل عبارت د فروعاتو د جمع کولو له اړخه قاعده عامه او شامله ده له ضابطې څخه«[22]».

د يادولو وړه ده چې ځينو فقهاوو د دې دواړو اصطلاحاتو تر منځ د کوم توپير پروا نه ده ساتلې، لکه څرنګه چې په دې اړه حاشيه رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار داسې صراحت لري:

«القاعده في الاصطلاح بمعنى الضابط وهو الامر الكلي المنطبق على جميع جزئياته» «[23]».

ژباړه: قاعده په اصطلاح کې د ضابطې په معنی ده او د هغه کلي امر څخه عبارت ده چې په خپلو ټولو جزئياتو تطبيق کېږي.

همدا راز ابن نجيم رحمه الله «[24]» سره له دې چې د هغو کسانو له جملې څخه دی چې د قاعدې او ضابطې تر منځ فرق يې واضح کړی، بيا هم په خپل تأليف کړي کتاب «الفوائد الزينية في فقه الحنفية» کې چې په

---

21 أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري، كتاب: الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، ناشر: دار الجيل بيروت + دارالأفاق الجديدة - بيروت، عدد الأجزاء: ثمانية آجزاء في أربع مجلدات، جـ «١»، صـ «١٩١»، رقم الحديث «٨٣٨».

22 دكتور صالح بن غانم السدلان، كتاب: القواعد الفقهية الكبرى و ماتفرع عنها، ناشر: دار بلنسية الرياض ١٤٠٧هـ ق، الطبعة الاولى ١٤١٧هـ ق صـ «١٤».

23 ابن عابدين، حاشيه رد المختار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار فقه أبو حنيفة ابن عابدين، الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر، سنة النشر: «١٤٢١هـ - ٢٠٠٠م»، مكان النشر: بيروت، عدد الأجزاء: «٨»، جـ «٤»، صـ «٥٤٧».

24 د ابن نجيم رحمه الله لنډه پېژندنه: هغه زين الدين بن ابراهيم بن محمد دی چې په نُجيم سره مشهور دی: د مصر حنفي فقيه عالم ؤ، هغه په فقه کې د (الأشباه والنظائر) (البحرالرائق في شرح كنز الدقائق او) د كنز الدقائق شرحه، او ( الرسائل الزينة)، ۴۱ فقهي رسالې او (الفتاوى الزينة) په نامه د

پنځه سوه فقهي ضابطو باندې مشتمل دی، په ډېرو ځایونو کې همدغه فقهي ضابطې د فقهي قواعدو مصداق ګرځولې دي.

له پورتنۍ یادونې څخه چې د قاعدې او ضابطې د معنی په اړه وشوه دا خبره لاسته راځي چې د قاعدې اوضابطې د فرق په اړه د علماوو خپل منځي یووالی شتون نه لري؛ نو ویلای شو چې اکثریت علماء د فرق ته قائل دي لکه: سبکي«[25]»، سیوطي او ابن نجیم «رحمهم الله» او داسې نور.

او دا د دې معنی نه لري چې دا دواړه اصطلاحات و کارول شي او معنی ته يې پاملرنه وشي او یا دا چې هېڅکله د یو د بل پرځای و نه کارول شي، ځکه یو شمېر علماوو دا دواړه اصطلاحات یو د بل پرځای استعمال کړي دي او کوم قاطع او فاصل حد یې ورته نه دی ټاکلی؛ ځکه د علمي اصطلاحاتو کارول او تداول د یو وخت په پرتله بل وخت ته بدلون مومي، یو وخت د یو لفظ کارول عام وي بیا د وخت په تېرېدو سره خاص کېږي«[26]».

د فقهي قاعدې او فقهي ضابطې ترمنځ عموم او خصوص مطلق دی پدې معنی چې قاعده په مطلقه توګه عامه ده یعنې د فقهي قاعدې لاندې د مختلفو بابونو اړونده فقهي مسائل راځي لکه د مثال په توګه: د «الْيَقِينُ لَا يَزُولُ بِالشَّكِّ» فقهي قاعدې لاندې ټول هغه فقهي مسائل راځي چې په هغه کې شک او یقین جمع شوي وي او دا په مختلفو بابونو لکه: طهارة، صلاة، صوم، زکاة او داسې نورو کې راځي.

او ضابطه په مطلقه توګه خاصه ده او ضابطې لاندې د یوه باب فقهي مسائل راځي لکه د مثال په توګه د «کل ما يُعتبَر في سجود الصلاة، يُعتبَر في سجود التلاوة» د دغه ضابطې په اړه د امام مالک رحمه الله

---

مشهورو کتابونو لیکوال دی، الأعلام للزرکلي جـ «۳» صـ «۶۴». المتوفی «۹۷۰هـ» الأشباه و النظائر علی مذهب أبي حنیفة النعمان، دارالکتب العلمیة، بیروت – لبنان صـ «۱۳۷».

25 د السبکي – رحمه الله – لنډه پېژندنه: امام تاج الدین عبدالوهاب بن علي بن عبدالکافي السبکي، (چې په ۷۷۱هـ کې وفات شوی)، د شافعي مذهب یو مشهور فقیه او قاضي ؤ هغه د امام تقي الدین السبکي زوی ؤ، چې د اسلام د مشهورو علماوو او محدثینو له جملې څخه شمېرل کېږي. تاج الدین السبکي، په فقه، اصول فقه، حدیث او اسلامي ادب کې مهارت درلود او ډېر کتابونه یې لیکلي دي. د هغه له مشهور ترینو تألیفاتو څخه یو یې کتاب «الأشباه و النظائر» دی، چې په کې د شافعي مذهب پر اساس فقهي قواعد او فروعي مسایل څېړل شوي دي «الأعلام للزرکلي، جـ «۳»، صـ «۲۹۲».

26 فقهي قواعد، صـ «۱۶».

ځیني ملګري وايي: دغه ضابطه هغه مسائل را جمع کوي چې تر دواړو سجدتین پورې خاص دي او بیا دغه دواړه سجدتین د لمانځه تر باب پورې خاص دي او بل باب ته تجاوز نه کوي«[27]».
زما په نظر که یو د بل پرځای و کارول شي کومه منفي اغېزه او ممانعت به و نه لري، او له بل لوري فقهاء هم په قاعدې او ضابطې د یو د بل پرځای کارولو کې له تسامح څخه کار اخلي، یواځې دومره ده چې که هره اصطلاح په خپل ځای کې وکارول شي؛ نو دا به غوره او افضله وي.

## پنځم مطلب

## د فقهي قواعدو اهمیت او فوائد

په فقهي قواعدو پوهه حاصلول د یوه فقیه لپاره خورا زیات اهم او اړین دي؛ ځکه دا قواعد د ډېرو فروعاتو د پلټنې او مطالعې په نتیجه کې لاسته راغلي، او د یوې قاعدې درسته زده کړه او په خپل ځای یې په درسته توګه تطبیقول د زیاتو فروعاتو د پوهې په معنی دي او همدارنګه په قواعدو پوهه فقیه، مجتهد او مستنبط له ګڼ شمېر اشتباهاتو او خطاګانو څخه ژغورلی شي قرافي د خپل کتاب «الفروق» په لومړی برخه کې داسې یادونه کړې ده:

امابعد! الله تعالی د محمدي معظم شریعت منار او شمله لوړه کړې، محمدي شریعت په اصولو او فروعو مشتمل دی، اصول یې په دوه ډوله دي:

**لومړی:** د اصول الفقه په نوم یادېږي، چې دا په غالبه توګه داسې قواعد دي چې احکام یې د عربي ژبې له الفاظو څخه سرچینه اخلي.

**دوهم:** فقهي قواعد د فقهي له بنسټیزو بې شمېره مرستندویه قواعدو څخه عبارت دي، هره قاعده یې په شریعت کې دومره فروع لري چې تر شمېر او حساب لاندې نه راځي، دا قواعد په فقه کې خوارا ګټور او مهم دي، فقیه چې د دغه قواعدو په اړه څومره معلومات زیاتوي، هغومره یې مقام او مرتبه لوړېږي، چاچې په مضبوطه توګه فقه له قواعدو سره زده کړه، هغه بیا د ډېرو فروعاتو او جزئیاتو زده کړې ته اړتیا نه لري؛ ځکه جزئیات په کلیاتو کې داخل دي.

27 صالح بن محمد بن حسن الأسمري، کتاب: مجموعة الفوائد البهية على منظومة القواعد الفقهية، ناشر: دارالصمَيْعي للنشر والتوزيع، الطبعة الأولى «۱۴۲۰هـ - ۲۰۰۰م» صـ «۲۰».

امام سیوطي «[28]» په خپل کتاب «الاشباه والنظائر» کې وايي:

«پوه شه چې په اشباهو او امثالو باندې علم حاصلول یو لوی فن او کمال دی، په دې برخه کې پوهه لاسته راوړل د فقهې په حقایقو، مدارکو او مأخذونو باندې پوهېدل دي، چې د همدې په واسطه فقه پېژندل کېږي او مسائل یې ذهن ته مستحضر کولای شي، او په تخریج کولو یې ځان قادر کولای شي تر دې چې د هغو مسائلو احکام پرې پېژندل کېږي چې له سره لیکل شوي هم نه وي او په دې سره د هغو واقعاتو او حوادثو په اړه معلومات لاسته راوړل کېږي چې د وخت په تېرېدو سره ختمېدلای نه شي، له همدې امله زمونږ ځینو ملګرو به ویلې: د فقه معنی د نظائرو او امثالو پېژندل دي«[29]».

اما د عمر «رضی الله عنه» له وینا ځخه د دې خبرې لپاره اصل پیدا شو هغه داسې چې کله عُمر بن الخطاب ابو موسی الاشعري ته لیک واستولو نو ابو موسی الاشعري ته یې ولیکل:

«اعْرَفْ الْأَشْبَاهَ وَالْأَمْثَالَ وَقِسْ الْأُمُورَ عِنْدَ ذَلِكَ»«[30]».

ژباړه: بېلګې او ورته شیان و پېژنه بیا په دې وخت کې مسائل قیاس کړه.

د مسائلو الحاق په خپلو نظائرو پورې ډېر غوره دی، تر دې چې نوی مستقل حکم ورته اختراع شي.

امام بن رجب حنبلي «رحمه الله تعالی» «[31]» په خپل کتاب «القواعد» کې د فقهي قواعدو د ارزښت په اړه وايي:

فقهي قواعد ډېر مهم او ګټور دي د فقیه لپاره د مذهب اصول تر ضبط او قید لاندې را ولي او هغه ته د فقهې د هغه مأخذ په ارتباط معلومات ورکوي چې ترې پټ وي، خواره واره فقهي مسائل ورته په یوه تار

28 د امام سیوطي لنډه پېژندنه: عبد الرحمن بن أبي بكر بن محمد بن أبي بكر، جلال الدين أبو الفضل السيوطي الخضيري ويعرف بالسيوطي، كان فقيها شافعيا، مفسرا شهيرا أديباً، مؤرخا، مصنفاً مكثرا، ولد سنة (٨٤٩ هـ/١٤٤٥م) وتوفي في القاهرة سنة (٩١١ هـ/١٥٠٥م) إذ مات والده وعمره خمس سنوات، فنشأ يتيماً وحفظ بعض الكتب ودرس العلوم على طائفة من المشائخ، وله (٦٠٠) مصنف، الكتاب: ترجمة الامام علي بن ابي طالب للسيوطي، خرجها ورتبها: رسول كاظم عبدالسادة، الطبعة: الأولى، سنة الطبع: ١٤٤٣هـ، الناشر: مؤسسة قصبة الياقوت للطباعة والنشر، صـ (٧).

29 فقهي قواعد، صـ «١٩».

30 دررالحكام شرح مجلة الأحكام، جـ «٤» صـ «٥٢٧».

31 امام بن رجب الحنبلي: زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بن رجب الحنبلي البغدادي ثم الدمشقي المتوفى سنة خمس وتسعين وسبعمائة. الكتاب: المدخل إلى مذهب الإمام أحمد بن حنبل، المؤلف: عبد القادر بن أحمد بن مصطفى بن عبد الرحيم بن محمد بدران «المتوفى: ١٣٤٦هـ»، المحقق: محمد أمين ضناوي، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الطبعة الأولى «١٤١٧هـ-١٩٩٦م»، جـ «١»، صـ «٢١٩».

کې منظم کوي او ډېر شرېدلي اخوا او دېخوا مسائل ورته مقيد کوي، ټول خواره او لرې مسائل ورته نېږدې کوي او د نظر خاوند بايد په دې هکله ښه غور او سوچ وکړي«[32]».

فقهي قواعد لوړه مرتبه او مقام لري؛ ځکه په دې څانګه کې پوهه تر لاسه کول فقيه ته ملکه او استعداد وربخښي، د همدې په پايله کې ګڼ شمېر جزئيات او فروعات په اسانه توګه پېژندلای شي او ذهن يې ښه وده کوي او د استنباط قوه يې مضبوطېږي.

لنډه دا چې که څوک غواړي د فقهي د علم په پراخ ډګر کې داخل شي، او پدې اړه هر اړخيز معلومات تر لاسه کړي؛ نو بايد په فقهي قواعدو باندې هر اړخيزه پوهه حاصله کړي تر څو په فروعاتو باندې د تطبيق وړتيا پيدا کړي.

دا يو ښکاره حقيقت دی چې فقهي قواعد زيات اهميت او فوائد لري او که يې يواځې د اهميت او فوائدو په اړه بحث او پلټنه وشي په ليکلو به يې کتابونه ډک شي، مګر زه په دې بحث کې يواځې د فقهي قواعدو د اهميت او فوائدو په اړه په لنډه توګه د لاندې نکاتو يادونه هم کوم:

**لومړی:** په مؤجزو او لنډو کلماتو کې ترتيب شوې دي حتی ځينې يې په دوه کليمو او يا څو لنډو کلماتو کې ترتيب شوې دي لکه: «الْعَادَةَ مُحَكَّمَةٌ» او«الْمَشَقَّةُ تَجْلِبُ التَّيْسِيرَ» فقهي قواعد.

**دوهم:** د فقهي قواعدو زده کړه، حفظ او ضبط د ګڼ شمېر متشابه مسائلو او احکامو د استحضار وسيله کېږي.

**دريم:** فقهي قواعد د افتاء او قضاء په برخه کې يوه غني منبع شمېرل کېږي.

**څلورم:** د فقهي قواعدو په برکت سره په باحث کې يوه قوي فقهي ملکه پيداکېږي چې په سبب يې ورته هغه لاره روښانه کېږي کومه چې د فقهي د ګڼ شمېر مختلفو ابوابو د احکامو او معاصرو موضوعاتو او تکراري مسائلو د پېژندلو او استنباط لپاره اړينه بلل کېږي.

**پنځم:** فقهي قواعد مرسته کوي تر څو فقهي مسائل تر خپلو مختلفو بابونو پورې په بېلا بېلو موضوعي فصلونو کې تر يو قياس لاندې جمع کړي، چې دا د فقه د علم په حفظ او ضبط کې مرسته کوي.

---

32 الكتاب: القواعد، المؤلف: ابن رجب الحنبلي، الناشر: مكتبة نزار مصطفى الباز، سنة النشر«١٩٩٩م»، مكان النشر مكة، عدد الأجزاء «١»، جـ «١»، صـ «٣».

**شپږم:** فقهي قواعد د عموميت او تجريد صفاتو لرونکې دي او دا په دې معنی چې فقهي قاعده بذاته يو شخص، يا څو اشخاصو او يا هم يوې مشخصي واقعې او پيښې ته نه متوجه کيږي، بلکې اعتبار عموم د لفظ لره دی نه خصوص د سبب لره؛ مګر دا چې داسي نص شتون ولري چې عموميت او تجريد يې منفي کړي.

**اووم:** فقهي قواعد هغه عامه احکام له ځان سره را اخلي، چې د فقهي مسائلو د اثبات لپاره دليل پرې نيول کيږي.

**اتم:** څرنګه چې اکثره فقهي قواعد د اصول فقهي له علم سره ارتباط لري؛ نو له همدې امله فقهي قواعد له يو باحث سره د بعضو اصولي موضوعاتو په زده کړه کې هم مرسته کوي او باحث لره په اصول فقه باندې د اطلاع فرصت برابروي«[33]».

**نهم:** فقهي قواعد فقهي فروعات تنظيموي او په مختلفو موضوعاتو کې ګڼ شمېر پاشلي فروعات چې يو حکم لري تر يوې قاعده لاندې راولي، چې له امله يې په فقهاوو او مفتيانو باندې د فقه د احکام حفظول اسانه کيږي، لکه څرنګه قرافي وايي: «من ضبط الفقه بقواعده استغنى عن حفظ أكثر الجزئيات لاندراجها في الكليات»

ژباړه: هر چاچې فقه سره له قواعدو زده کړه، نو د زياتو جزئياتو حفظ کولو ته اړتيا نه لري؛ ځکه چې دا جزئيات تر کلياتو لاندې دي.

ځکه د ټولو فقهي جزئياتو او فروعاتو حفظول د انسان له قدرت څخه بهر خبره ده؛ اما د قواعدو حفظول څومره چې زيات هم شي امکان لري.

**لسم:** د فقهي قواعدو زده کړه د قضاتو، مفتيانو او حاکمانو سره د نويو معاصرو مسائلو په حل کې مرسته کوي؛ نو له همدې وجهې ځينې وايي چې د فقهي قواعدو زده کړه په قضاتو او مفتيانو باندې فرض عين ده او په نورو باندې فرض کفايي ده.

**يولسم:** په فقهي قواعدو کې د أئمه وو او مجتهدينو تر منځ مواضع د اتفاق په تناسب اختلاف ته زيات دي او له بل لوري د فقهي قواعدو زده کړه په باحث کې د مختلفو مذاهبو د مقارنې ملکه پيدا کوي او له بل لوري باحث ته د اختلاف وجوه او اسباب په مابين د مذاهبو کې واضح او ښکاره کوي.

---

33 القواعد الفقهية الكبرى و ماتفرع عنها، صـ «٣٣».

**دولسم:** د فقهي قواعدو زده کړه د احکامو، حقوقو او واجباتو د را نیولو اندازه روښانه او رعایت کوي او عام وګړي د دین په محاسنو خبروي او د هغه وګړو دعوی باطلوي چې فقه ناقصه ګڼي او وايي: چې فقه يواځې جزئي مسائل حل کوي او کلي قواعد نه دي«34».

## شپږم مطلب

## د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې ځانګړې اهمیت

دا يو ځرګند حقیقت دی چې د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده ډېر لوړ اهمیت لري، که يواځې د يادې قاعدې د اهمیت په اړه بحث وشي کتابونه به پرې ولیکل شي، ځکه د انسان د ژوند د هرې برخې هرې برخې تول کړه وړه په خپله دائره کې را ولي او په جوامع الکلم سره ترې تعبیر کېږي؛ مګر زه د يادې قاعدې د اهمیت په اړه يواځې يوه لنډه يادونه کوم.

د يادې قاعدې د اهمیت لپاره يواځې دا هم کفايت کوي چې اصل په دغه قاعده کې دا قول د نبي کريم ﷺ دی چې فرمايي:

«عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ» «35».

ژباړه: له عمر بن الخطاب «رضی الله تعالی عنه» څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د عملونو صحت او عدم صحت په نیت پورې تړاو لري، او هر انسان لره هغه څه دي چې د هغه نیت يې کړی دی پس هر هغه څوک چې هجرت يې د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ لپاره وُ، نو هجرت يې د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ لپاره دی، او هر هغه څوک چې هجرت يې د دنيا لپاره وُ هغه ورته

34 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «۱» صـ «۳۰».

35 الكتاب: الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم و سننه و أيامه = صحيح البخاري، المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، المحقق، محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبدالباقي)، الطبعة الأولى «۱۴۲۲هـ»، عدد الأجزاء«۹»، جـ «۱»، صـ «۲۰». رقم الحديث «۵۴».

ورسېدله او يا د ښځې لپاره ؤ هغه يې په نکاح کړه؛ نو هجرت يې د هغه څه لپاه ؤ چې د څه په نيت يې هجرت کړی ؤ.

اوله بل لوري ټول ائمه په دې متفق دي چې پورتنی حديث شريف ثلث العلم دی او امام أحمد «رحمه الله» وايي: اصول د اسلام لاندې درې ګوني احاديث دي:

1. إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ.

ژباړه: يقيناً اعمال په نيت پورې تړاو لري.

2. مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرنَا فَهُوَ رَدٌّ.

ژباړه: هر څوک چې داسې يو عمل تر سره کوي چې په هغه باندې زمونږ امر نه وي «په شريعت کې اصل ونه لري» دا عمل رد دی.

3. الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ.

ژباړه: حلال او حرام دواړه ښکاره او معلوم دي «[36]».

د امام احمد «رحمه الله» د پورتني قول پر بنياد کله چې ټول دين په دريو احاديثو کې را ټول او جمع شي او له دريو څخه يې يوه برخه په هغه حديث شريف کې را ټوله شي چې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې اصل، اساس او بنسټ بلل کېږي؛ نو دا د يادې فقهي قاعدې لوړ ارزښت او اهميت په نښه کوي.

څرنګه چې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده ډېر لوړارزښت او اهميت لري؛ نو په همدې اساس ياده قاعده په اکثريت ابوابو د فقه کې هغه که عبادات وي او يا هم معاملات عملي کېږي او حتی تر دې پورې چې د يو شخص د ژوند ټول کړه وړه په همدې قاعده باندې ولاړ دي او له بل لوري که مونږ د همدې قاعدې اساس او بنسټ پيدا کوو نه هغه په هرو مرو په کتاب الله، سنت نبوي ﷺ اجماع او معقول کې موجود وي چې د يادې قاعدې د مشروعيت په برخه کې به إن شاء الله ترې يادونه وشي.

## اووم مطلب

## د فقهي قواعدو منځ ته راتګ

---

36 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «٥٢».

د اسلامي فقهي تاريخ که په غور سره وکتل شي، څرګندېږي چې په کافي او لازمه اندازه پکې د فقهي قواعدو د پس منظر په اړه بحث نه دی شوی له همدې امله د يوه څېړونکی او باحث لپاره به دا لړه ګرانه وبرېښي چې د فقهي قواعدو پيداينت او تاريخ په دقيقه توګه جوت کړي؛ مګر که د فقهي قواعدو د نشأت او منځ ته راتګ په اړه له دقت څخه کار واخلو نو؛ د فقهي قواعدو د نشأت پړاو هماغه د رسالت دوره وه چې الله متعال ﷻ خپل خواږه پيغمبر ﷺ په جوامع الکلم باندې ګويا کړ، د هغه ﷺ احاديثو مبارکه وو د عامه قواعدو حيثيت درلود؛ ځکه د هغې لاندې زيات فروعات راتلل، بلکې همدغه جامع کلمات د کلي قواعدو انځور وړاندې کوي د مثال په توګه هغه ﷺ فرمائي:

**لومړی:** «عَنْ عَائِشَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ «الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ» «[37]».

**ژباړه:** له حضرت عائشة «رضي الله عنها» له نبي كريم ﷺ څخه روايت کوي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: ګټه په تاوان ده«[38]».

**دوهم:** «عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ» «[39]».

**ژباړه:** حضرت أبي هريرة «رضي الله عنه» له رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د بې ژبو حيواناتو جنايت او ټپرى ضايع اوهدر دى.

**دريم:** «الْمُؤْمِنُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ»«[40]».

**ژباړه:** د مؤمنانوويني په ديت او قصاص کې سره برابرې دي، د يو عادي مسلمان له لوري امان ورکول داسې دي لکه چې د ټولو له لوري وي، دوی د نورو په مقابل کې يو موټی دي «[41]».

---

37 الكتاب: مسند الإمام أحمد بن حنبل، المؤلف: أحمد بن حنبل، المحقق: شعيب الأرنؤوط وآخرون، الناشر: مؤسسة الرسالة، الطبعة الثانية «١٤٢٠ه، ١٩٩٩م»، عدد الأجزاء «٥٠» «٤٥+٥ فهارس»، صـ «٢٧٢»، رقم الحديث «٢٤٢٢٤».

38 حكم الحديث: قال الشيخ الألباني: حسن. الكتاب: سنن ابن ماجه، المؤلف: محمد بن يزيد أبو عبدالله القزيني، الناشر: دارالفكر – بيروت، عدد الأجزاء «٢»، جـ «٢»، صـ «٧٥۴».

39 بخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، كتاب: صحيح البخاري، ناشر: دار ابن كثير، اليمامة – بيروت الطبعة الثالثة ١۴٠٧ – ١٩٨٧، تحقيق: د. مصطفى ديب البغا أستاذ الحديث وعلومه في كلية الشريعة - جامعة دمشق، عدد الأجزاء«۶» جـ«۶» صـ«٢۵٣٣» رقم الحديث «۶۵١۴».

40 مسند الإمام أحمد بن حنبل، جـ «٢» صـ «٢۶٨» رقم الحديث «٩۵٩».

41 حكم الحديث: قال الحاكم: هذا الحديث صحيح على شرط الشيخين. الكتاب: البدر المنير في تخريج الأحاديث والأثار الواقعة في الشرح الكبير، المؤلف: ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري «المتوفى «٨٠۴ هـ»، الناشر: دار الهجرة للنشر والتوزيع – الرياض – السعودية، الطبعة الأولى «١۴٢۵هـ ٢٠٠۴م»، عدد الأجزاء «٩»، جـ «٩»، صـ «١۵٩».

همدغه جامع کلمات د فقهاوو پر وړاندې د ثابتو مستقلو قواعدو په توګه وګرځېدل او دا دريم او څلورم شمېره احاديث مبارکه په زياتو احکامو مشتمل دي او جوامع الکلم ګڼل کېږي او د فقهي قواعدو تمثيل کوونکي دي امام خطابي«[42]» رحمه الله د دې دواړو احاديثو په هکله وايي:

«دا دواړه احاديث له خپلو کمو او لنډو الفاظو سره سره د نفسونو او مالونو په اړوند په عامو احکامو باندې مشتمل دي.

په يو بل حديث شريف کې را ځي:

«عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ» «43».

ژباړه: هر هغه شی چې ډېر يې نېشه راولي، لږ يې هم حرام دي «[44]».

دا حديث هم د نېشه يي توکو په ارتباط يوه عامه قاعده ده د رسول الله صلى الله عليه وسلم د جامع عباراتو څخه دا حديث شريف هم دی: «فَقَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم « إِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالاً» «[45]».

ژباړه: په تحقيق سره د حق خاوند د وينا حق لري.

دا کلام د قضاء په هکله يوه قضائي قاعده ګڼل کېږي. مخکې ترد‌ې چې مشهور فقهي مذاهب تکوين او تدوين شي، د بېلګې په توګه د تابعينو په عصرکې د امام قاضي شريح «[46]» وينا ده چې وايي: « من شرط

42 د خطابي لنډه پيژندنه: محمدبن محمدابراهيم ابن الخطاب البستي چې په ٣١٩ هـ ق په خراسان کابل سيمه کې اوسيدلی، دحضرت عمربن خطاب له نسل څخه دی، محدث او فقهيه عالم دی، چې په ٣٨٨ کال وفات دی.الکتاب: معالم السنن شرح سنن أبي داود، المؤلف: الإمام أبو سليمان حمد بن محمد الخطابي البستي، المطبعة العلمية – حلب، جـ «۴» صـ«١۵۴».

43 سجستاني أبو داود سليمان بن الأشعث، کتاب: سنن أبي داود، ناشر: دارالکتاب العربي ـ بيروت، عدد الأجزاء«۴» جـ «٣» صـ «٣۶٨» رقم الحديث «٣۶٨٣».

44 حکم الحديث: حَسَّنَهُ التِّرْمِذِيُّ، وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ، الکتاب: التلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الکبير، المؤلف: أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني «المتوفى: ٨۵٢هـ»، الناشر : دار الکتب العلمية، الطبعة الأولى «١۴١٩هـ ـ١٩٨٩م»، عدد الأجزاء «۴»، جـ «۴»، صـ «٢٠١».

45 أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري، کتاب: الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، ناشر: دار الجيل بيروت + دار الأفاق الجديدة ـ بيروت، عدد الأجزاء: ثمانية أحزاء في أربع مجلدات، جـ «۵» صـ «۵۴» رقم الحديث «۴١٩۴».

46 د قاضي شريح لنډه پيژندنه: هو الفقيه أبو أميَّة، شريح بن الحارث بن قيس بن الجهم الکندي، قاضي الکوفة، ويقال: شريح بن شراحيل أو ابن شرحبيل، ويقال: هو من أولاد الفرس الذين کانوا باليمن، يقال: له صحبة، ولم يصح; بل هو ممن أسلم في حياة النبي -صلى الله عليه وسلم- وانتقل من اليمن زمن الصديق. الکتاب: سير أعلام النبلاء، ألمؤلف: شمس الدين أبو عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايماز الذهبي (المتوفى٧۴٨هـ)، الناشر: دارالحديث ـ القاهرة، الطبعة: ١۴٢٧هـ ـ ٢٠٠۶م، عدد الأجزاء: «١٨»، جـ «۵» صـ «۴٩».

على نفسه طائعا غير مكره فهو عليه»«[47]».

ژباړه: چاچې پرته له زور او اکراه په خپله خوښه او رضا سره په ځان باندې یو شی شرط کړل، هغه وربانده لازم دي.

بناءً په همدې قاعدې سره هغو قراردادونوکې چې د تسلیمېدو او خلاصېدو موده پکې ټاکل شوې وي د تأخیر او خلاف ورزۍ په صورت کې سړی په ټاکلو تاوانونو او جریمو ملزم کېږي.

که د تابعینو له مرحلې نه لږ وروسته د فقهي امامانو عصر ته یوه کتنه وشي، لیدل کېږي چې ځینې لومړني اساسي قواعد په همدې عصر کې مدون شوي دي، لکه په دې کې ډېر پخوانی اثر د امام ابویوسف «[48]» رحمه الله «کتاب الخراج» دی چې ځینې عبارات یې په فقهي قواعدو دلالت کوي، لکه چې هغه په خپل کتاب کې وايي:

«التعزيرالي الامام علي قدر عظم الجرم وصغره»«[49]».

ژباړه: د تعزیر ورکولو صلاحیت او اندازه امام ته د جرم د درونداولي او سپکوالي له مخې ورکول کېږي.

امام ابو یوسف رحمه الله وايي: زمونږ ملګرو په تعزیر کې اختلاف کړی، ځیني وایي: د حدودو کمې اندازې ته چې څلوېښت دورې دي باید ونه رسېږي. ځیني بیا وايي: چې پنځه اویا دورو ته یې رسولای شي ترڅو د اصیل «ازاد» له حد څخه کم وي. ځیني بیا وایي: له حد نه یې ډېرولای شي، خو غوره رأیه زمونږ په نظر دا ده چې د تعزیر مسأله د جرم د درونداولي او سپکوالي مطابق په امام پورې اړه لري.

همدارنګه امام محمد بن الحسن الشيباني «[50]» رحمه الله په کتاب «الأصل» کې ځینو قواعدو ته اشاره کړې لکه د استحسان په باب کې وايي: که یو سړی اودس ولري او په زړه کې یې وګرځېده چې بې اودسه

---

47 بخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، كتاب: الجامع الصحيح المختصر، ناشر: دار ابن كثير، اليمامة – بيروت الطبعة الثالثة، «١٤٠٧- ١٩٨٧» تحقيق: د. مصطفى ديب البغا أستاذ الحديث وعلومه في كلية الشريعة - جامعة دمشق، عدد الأجزاء «۶» جـ «٢» صـ «٩٨١»

48 د امام ابویوسف لنډه پېژندنه: ابویوسف ،یعقوب بن ابراهیم الکوفی چې په (١١٣هـ) کی پیدا شوی دی او په (١٨٢هـ) کال کی وفات شوی دی، د رشید په زمانه کی قاضی القضاة ؤ، د امام ابو حنيفة (رح) د مذهب د اصولو په جوړولو کی ورته ډیر غوروالی ؤ،او د احنافو د مذهب په خورولو کی یې لوی لاس درلوده،او مجتهد هم ؤ. ودې لیدل شي کتاب : سير اعلام النبلاء جـ «١٢»، صـ «١٤١».

49 الكتاب: الخراج، المؤلف: أبويوسف يعقوب بن إبراهيم بن حبيب بن سعد بن حبتة الأنصاري «المتوفى: ١٨٢هـ»، الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث، تحقيق: طه عبدالرؤفسعد، سعد حسن محمد، الطبعة: طبعة جديدة مضبوطة ـ محققة و مفهرسة ، أصح الطبعات و أكثرها شمولا، عدد الأجزاء «١»، جـ «١»، صـ «١٨٢».

50 د امام الشيباني لنډه پېژندنه: محمد بن حسن الشيباني چې په «١٣٢ه» کال په واسط کي پيدا او په کوفه کې لوي شوی دی، په بغداد کې يې ژوند تير کړې دی،اوپه «١٨٩هـ» کال په رای ځای کې وفات شوی دی، اول یې د امام ابوحنیفة «رحمه الله» څخه د علم زده کړې او بیا یې خپل علم د ابویوسف «رحمه الله» سره پوره کړ، د مالک بن انس سره هم ډیر وخت پاتې شوی، په حنفي مذهب کې یې لوی کتابونه لیکلي دي،چې کتابونه يې

شوی دی او همدا یې ګمان وٸ؛ نو بهتره ده چې اودس اعاده کړي، او که اعاده یې نه کړي او لمونځ په هماغه لومړني اودس سره وکړي زمونږ په اند پروا نه لري، ځکه دی تر هغه پورې په خپل اودس کې دی چې تر څو په خپله بې اودسۍ متیقن شي، په دې ځای کې د فقهي قواعدو مشهوره قاعده «الْيَقِينُ لَا يَزُولُ بِالشَّكِّ»«[51]». قاعده عملي شوې ده.

په دې اړه د فقهې په کتابونو کې بې شمېره بلېګې شتون لري او ټولې په دې دلالت کوي چې فقهي قواعد د متقدمینو علماوو په دور کې پیدا شوې او د دوی په عباراتو کې کارول شوي دي؛ خو دا مخکې له دې چې دغه عبارات د قواعدو په نامه وپېژندل شي او د یو مستقل علم صبغه غوره کړي، په دې مفهوم فقهي قواعد د پخوانیو فقهاوو پر ژبو استعمال شوي چې د وروستنیو پېړیو د متداولو فقهي قواعدو سره ورته والی لري، له دې نه په واضحه توګه دا معلومېږي چې د پخوانیو علماوو آثار او اقوال د متأخرینو علماوو لپاره د قواعدو په استنباط او تدوین کې مهم هڅوونکی عامل وٸ، په دې معنی چې په لومړنیو پیړیو کې د فقهي قواعدو بنسټ او اساس کېښودل شوی دی«[52]».

## اتم مطلب

## د فقهي قواعدو تدوین او تنظیم

تقریباً د څلورمې پیړۍ له راښکاره کېدو سره د فقهاوو په عصر کې د فقهي قواعدو علم د یو مستقل فن او علم په ډول تبارز وکړ، په هغه وخت کې چې د تقلید لړۍ پیل او اجتهاد مخ په کمزوري کېدو شو د فقهي پانګې منځته راتللو، تدوین کېدلو، د مذاهبو ترمنځ اختلاف واقع کېدلو، د راجح او مرجوح معلومولوسره په اجتهاد او استنباط کولو کې همتونه کمزوري شول، روستنیو د نویو پېښو لپاره د فقهي مذاهبو په رڼا کې استخراجات وکړل. د مجتهدینو د معلومو اصولو په بناء مختلف استنباطات پیل شول چې فقهي پانګې ورسره لاپېره وده وکړه، فقهاوو د فقهې د خدمت لپاره بېلا بېلې لارې او طریقې غوره کړې. یوه یې د ضوابطو او قواعدو په نامه د طریقې وضع کول وو، په ځانګړې توګه کله چې د نویو پېښو او

په ظاهر الرواية سره یادیږي. الجواهرالمضيةفى طبقات الحنفية جـ «۲»، صـ «۴۲» عبدالقادربن محمدبن نصرالله القرشي،أبومحمد، محيي الدين الحنفي «المتوفى: ۷۷۵هـ»، الناشر: میرمحمد کتب خانه – کراتشي.

51 لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية، كتاب: مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، ناشر: نور محمد، کارخانه تجارتِ کتب، آرام باغ کراتشي، جـ «۱» صـ «۱۶» رقم المادة «۴».

52 فقهي قواعد، صـ «۲۲-۲۷».

حوادثو له امله فروعات او فتواوې ډېرې شوې، دوی هم د خپلو سلفو په اقتداء د فقهي قواعدو لمنې ته پراختیا او وده ورکړه؛ تر څو د فقهي د مختلفو بابونو خواره واره مسائل او فروعات په یوه منظمه قاعده او قالب کې راټول کړي. په دې اړه د نورو په پرتله چې په دې ډګر کې یې د مخکښوالي امتیاز تر لاسه کړی دی هغه حنفي فقهاء دي، شاید د دې سبب په فقهي فروعاتو کې د دوی پراخ لاس لرل او بوختیا وي له همدې امله کله که د امام محمد بن الحسن الشیباني رحمه الله کتاب «الأصل» ته نظر واچول شي، په یوه یا دوو مسئلو کې دومره فروعات و باسي چې د انسان په توان او احاطه کې نه وي.

د ژورې پلټنې له مخې دا جوته شوې ده چې ډېر پخوانی کتاب چې فقهي قواعد پکې راټول شوي دي، د ابوطاهر «دباس» «[53]» رساله ده چې د څلورمې پېړۍ له حنفي فقهاوو څخه دي. نوموړي د حنفي مذهب ډېرې مهمې قاعدې په اووه لسو قاعدو کې جمع کړې ابوطاهر دباس ړوند ؤ، هره شپه کله چې به خلک له مسجد څخه ووتل هغه به دا قاعدې تکرارولې او دا هم یاد شوي چې ابو سعد الهروي الشافعي «[54]» حکایت کوي چې په هرات کې ځینو حنفي امامانو ورته خبر ورکړ چې په ماوراء النهر کې د حنفیانو ابوطاهر «دباس» ټول حنفي مذهب په اووه لسو قاعدو کې خلاصه کړی دی، ده ورته سفر وکړ ابوطاهر «دباس» ړوند ؤ هره شپه کله به چې خلک د مسجد نه ووتل همدغه قواعد به یې په مسجد کې تکرارول، ابو سعید الهروي الشافعي ځان باندې یو پوزی تاو کړ او خپل ځان یې په مسجد کې پټ کړ، خلک ووتل ابوطاهر «دباس» د مسجد دروازې بندې کړې د قاعدو تکرار یې تر اوومې پورې ورسولو ابوسعید الهروي الشافعي ته ټوخی ورغلو او ټوخی یې وکړ ابوطاهر «دباس» پوه شو او ابوسعید الهروي الشافعي یې ووهلو او له مسجد څخه یې و ایستلو او کله چې ابوسعید الهروي الشافعي له مسجد څخه را ووتلو او هغه اووه قاعدې چې د ابوطاهر «دباس» څخه یې په مسجد کې واورېدلې خپلو ملګرو ته یې وویلې ابوسعید الهروي

53 د أبو طاهر الدباس لنډه پېژندنه: محمد بن محمد بن الحسن بن سفيان أبو طاهر الدباس: كان إمام من أهل الرأى بالعراق و كان من أهل السنة و الجماعة و كان من أقران عبدالله الكرخي، كان يو صف بالحفظ و معرفة الروايات. ولي القضاء بالشام أخرج منها الى مكة فمات بها. ذكر الحموي أن الدباس نسبة إلى بيع الدباس الماكول. الكتاب: تراجم موجزة للأعلام. المؤلف: موقع وزارة الأوقاف المصرية. المكتبة الشاملة. جـ (١) صـ (٢٣٨).

54 د أبو سعد الهروي لنډه پېژندنه: محمد بن نصر بن منصور، أبو سعد الهروي البشكانى «٤٥٨-٥١٨هـ = ١٠٦٦-١١٢٤م»: من رجال السياسة والقضاء، من أهل هراة «بخراسان» انتقل إلى بغداد، واتصل بالمستظهر العباسي، وعلا قدره، فكان ينفذ في الرسائل إلى الاقطار، وولي القضاء ببغداد سنة «٥٠٢-٥٠٤هـ»، وعزل فاتصل بسلاطين الدولة السلجوقية، فكان يسعى بالسفارات السلطانية متنقلا بين مصر والشام وخراسان والعراق إلى أن قتل في جامع همذان شهيدا، والبشكاني نسبة إلى قرية في هراة أصله منها، وكان على علم بفقه أبي حنيفة والاصول والادب، يروى الحديث، الكتاب: الأعلام للزركلي، مصدر الكتاب: موقع يعسوب، جـ «٧»، صـ«١٢٥».

الشافعي وايي: کله چې قاضي حسين ته دا خبره ورسېده؛ نو د امام شافعی رحمه الله ټول مذهب يې په پنځو فقهي قواعدو کې خلاصه کړ او هغه دا دي:«[55]».

1. الأمور بِمَقَاصِدِهَا«[56]».

ژباړه: کارونه په خپلو مقاصدو پورې اړه لري.

2. الضَّرَرُ يُزَالُ«[57]».

ژباړه: ضرر له منځه وړل کيږي.

3. الْعَادَةُ مُحَكَّمَةٌ«[58]».

ژباړه: عادت د حکم د اثبات لپاره حکم دی.

4. الْيَقِينُ لَا يَزُولُ بِالشَّكِّ«[59]».

ژباړه: يقين په شک سره له منځه نه ځي.

5. الْمَشَقَّةُ تَجْلِبُ التَّيْسِيرَ«[60]».

ژباړه: سختی آسانتياوې را منځته کوي.

ځينې شافعي علماوو دا پنځه واړه قاعدې په شعري ابياتو کې په لاندې ډول منظمې کړې دي:

خَمْسٌ مُقَرَّرَةٌ قَوَاعِدُ مَذْهَـــبِ        لِلشَّافِعِيِّ فَكُنْ بِهِنَّ خَبِيـــــــرَا
ضَرَرٌ يُزَالُ وَعَادَةٌ قَدْ حُكِمَتْ        وَكَذَا الْمَشَقَّةُ تَجْلِبُ التَّيْسِيـــرَا
وَالشَّكُّ لَا تَـــرْفَع بِهِ مُتَيْقِنًا        وَالنِّيَّةَ أَخْلِصْ إنْ أَرَدْتَ أَجُـورَا «[61]».

ژباړه: د امام شافعي رحمه الله د مذهب دغه پنځه ثابتې قاعدې دي، په دې باندې پوه شه، هغه داد دي: يوه دا چې ضرر بايد لرې کړای شي، او عادت حکم ګرځي، سختۍ اسانتياوې راولي، متيقن شی په شک له منځه مه وړه او که اجرغواړې، نيت او قصد د خالص کړه.

---

55 فقهي قواعد، صـ «۲۷».

56 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۶» رقم المادة «۲».

57 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۸» رقم المادة «۲۰».

58 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۲۰» رقم المادة «۳۶».

59 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۶» رقم المادة «۴».

60 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۸» رقم المادة «۱۷».

61 شرح القواعد الفقهية، مؤلف: أحمد بن الشيخ محمد الزرقاء، «۱۲۸۵هـ ۱۳۵۷هـ »، الناشر: دارالقلم ـ دمشق/ سوريا، الطبعة الثانية «۱۴۰۹هـ - ۱۹۸۹م» عدد الأجزاء: «۱»، جـ «۱» صـ «۱۶۲».

څرنګه چې مخکې یاونه وشوه چې د فقهي قواعدو د تألیف امتیاز تر ټولو د مخه حنفي مذهب تر لاسه کړی، د ابوطاهر «دباس» د لیکنې څخه وروسته چې د نوموړي څخه یې ځینې فقهي قواعد اقتباس کړي، هغه امام ابوالحسن الکرخي «[62]» رحمه الله دی، هغه خپله مشهوره رساله د اصول الکرخي په نوم لیکلې چې اوه دېرش «۳۷» قاعدې یې پکې جمع کړې دي.

لندې داچې دلته په څلورو فقهي مذاهبو کې مشهور تألیفات په ترتیب سره وړاندې کوو ترڅو د فقهې هر متخصص په دې پوه شي چې فقهي قواعدو ته علماوو په هره پیړۍ او زمانه کې ځانګړې ارزښت ورکړی او په دې اړه یې ډېر تألیفات کړي دي چې د بېلګې په توګه د هر مذهب له ځینې تألیفاتو څخه په لاندې توګه یادونه کوو:

**حنفي مذهب:**

1. تاسیس النظر في اختلاف الأئمة د عبید الله بن عمر بن عیسی ابوزید دبوسي تألیف متوفی «۴۳۰هـ».
2. الأشباه والنظائر في الفروع د زین العابدین بن ابراهیم بن محمد مشهور په ابن نجیم متوفی «۹۷۰هـ».
3. مجلة الأحکام العدلیة چې «۱۸۵۱» مادې لري د سلطان عبدالعزیزعثماني د عثماني دولت په دوره کې یو شمېر علماوو تألیف کړی چې بیا په «۱۲۹۲هـ ق» کې عثماني حکومت چاپ کړ.
4. الفوائد البهیة في قواعد والفوائد الفقهیة د محمود بن محمد بن نسیب بن حسین مشهور په ابن حمزه حسیني «۱۲۳۶- ۱۳۰۵هـ» تألیف دی.
5. العقود الحسان في قواعد مذهب النعمان د احمد بن حموي متوفی «۱۰۹۸هـ» تألیف دی.
6. شرح القواعد الفقهیة د احمد الزرقاء الحلبي «۱۲۰۸- ۱۳۵۷هـ » تألیف دی.

**مالکي مذهب:**

په مالکي مذهب کې په مختلفو دورونو کې په فقهي قواعدو کې تألیفات شوي چې دلته به یې د څو تألیفاتو یادونه وشي:

---

62 د أبو الحسن الکرخي لنډه پېژندنه: عبید الله بن الحسین الکرخي، أبو الحسن دی. په عراق کې د حنفي فقهاء رئیس،په «۲۶۰هـ » کې زېږېدلی، په اصولو کې یوه رساله لري چې د حنفي مذهب فروعات پرې را څرخي، همدارنګه " شرح الجامع الصغیر " او " شرح الجامع الکبیر "په نوم لیکنې هم لري، په «۳۴۰» کال په بغداد کې وفات شوی دی، «الأعلام للزرکلي، جـ «۴»، صـ «۱۹۳».

1. الفروق د أبوالعباس احمد بن ابي العلاء ادريس بن عبدالرحمن مشهور په قرافي تأليف متوفی «۶۸۴هـ».
2. الکلیات الفقهية على مذهب المالكية د محمد بن علي بن غازي عثماني مکناسي تأليف «۸۴۱-۹۱۹هـ» چې د تونس د شريعت او اصول الدين پوهنتون له خوا تحقيق او چاپ شوی.
3. القواعد د قاضي عیاض بن موسی بن عياض مراكشي تأليف «۴۷۶- ۵۵۵هـ».

**شافعي مذهب:**

1. قواعد الأحكام في مصالح الأنام د عزالدين بن عبدالسلام السلمي «۵۷۷-۶۶۰» تأليف.
2. المجموع المُذهَب في قواعد المذهب د امام خليل بن كيكلدي ألعلائي الشافعي «۶۹۴- ۷۹۴هـ» تأليف.
3. المنثور في ترتيب القواعد الفقهية د محمد بن بهادر بن عبدالله بدرالدين المصري الزركشي «۷۴۵-۷۹۴هـ» تأليف.
4. الأشباه والنظائر د عبدالرحمن ابي بكر بن محمد السيوطي الشافعي الملقب بجلال الدين السيوطي متوفی «۹۱۱هـ» تأليف.

**حنبلي مذهب:**

1. القواعد النورانية الفقهية د تقى الدين ابوالعباس احمد بن عبدالحليم بن تيمية الحراني «۶۶۱-۷۲۸هـ» تأليف.
2. القواعد الكلية والضوابط الفقهية د يوسف بن حسن بن احمد بن عبدالهادي مشهور په ابن المبرد الصالحي«۸۴۰- ۹۰۹هـ» تأليف «[63]».

63 فقهي قواعد، صـ «۲۸-۳۲».

## دوهم مبحث

## د فقهي قواعدو مصادر او د استدلال حکم

په دغه مبحث کې د فقهي قواعدو د مختلف النوع مصادرو او په فقهي قواعدو باندې د استدلال د حکم په په اړه هر اړخیزه بحث کیږي، چې د دغه مبحث د لوستلو په پای کې به هر لوستونکی د فقهي قواعدو مختلف النوع مصادر او په فقهي قواعدو باندې د استدلال د حکم په اړه هر اړخیز معلومات ترلاسه کړي.

## لومړی مطلب

## د فقهي قواعدو د مصادرو تقسیم بندي

په ابتداء کې د فقهي قواعدو مصادر او منابع په عمومي توګه په دریو اساسي برخو وېشل کیږي چې په اجمالي توګه په لاندې توګه ترې یادونه کوم، چې د هر مصدر او منبع به پوره تفصیل په جدا جدا مطالبو کې بیان کړم:

**لومړی:** هغه فقهي قواعد چې مصدر یې شرعي نصوص وي.

**دوهم:** هغه فقهي قواعد چې مصدر یې غیر نصوص وي.

**دریم:** هغه فقهي قواعد چې فقهاوو او مجتهدینو د اجتهادي فقهي احکامو لپاره علت ګرځولي وي.

## دوهم مطلب

## هغه فقهي قواعد چې مصدر یې شرعي نصوص وي

**لومړی جزء: کتاب الله:**

هغه فقهي قواعد چې مصدر یې له کتاب الله څخه شرعي نصوص وي، دا قواعد د اعتبار په اساس اعلی ترین فقهي قواعد شمېرل کیږي ځکه کتاب الله د اسلامي شریعت داسې اساس او بنسټ دی چې غیرله کتاب الله څخه ټول دلائل کتاب الله ته رجوع او تکیه کوي؛ فلهذا اړینه بولم چې د ځینو هغه قرآني آیتونو یادونه وکړم چې د قواعدو حیثیت لري چې په لاندې ډول دي:

1. (وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَوا) «[64]».

پورتني آيت کريمه د حلت او حرمت له اړخه د ټولو بيعو انواع په خپل لفظ کې راجمع او مختصر کړل او د يوې قاعدې حيثيت يې غوره کړ.

2. (وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ) «[65]».

په دغه آيت کريمه کې ټول هغه تصرفات چې د خلکو د اموالو خوراک او اتلاف پکې په غير مشروع توګه راځي لکه: غلا، غصب، زنا، جهالت، ضرر، غرر، باطل عقود او داسې نور ټول باطل وګڼل او پورتني آيت کريمه د يوې قاعدې حيثيت خپل کړ.

3. (خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ) «66».

د پورتني آيت کريمه په اړه امام قرطبي «[67]» رحمه الله فرمايلي دي، چې پورتنی آيت کريمه له دريو کلماتو «جملو» څخه جوړ شوی دی، چې هر برخه يې د مأموراتو او منهياتو په برخه کې د شرعي قاعدې حيثيت لري چې په لاندې توګه ترې ياونه کېږي.

**لمړی:** د پورتني آيت کريمه په (خُذِ الْعَفْوَ) برخه کې صله د قاطعينو، عفوه له مجرمينو، نرمي په مؤمنانو او داسې نور له اخلاقو د مطيعينو څخه داخلېږي.

**دوهم:** د پورتني آيت کريمه په (وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ) برخه کې صلة الأرحام، د حلالو او حرامو په برخه کې تقوی، له محارمو د سترګو ټيټ والی او ساتنه او استعداد د دارالقرار لپاره او داسې نور داخلېږي.

**دريم:** د پورتني آيت کريمه په (وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ) برخه کې د علم په اړه تشويق، له اهل ظلم څخه اعراض، له احمقانو سره د بحث کولو څخه ځان ساتنه او داسې نور له اخلاقو حميده او افعالو رشيده څخه پکې داخېلږي.

---

64 سورة البقرة «۲۷۵».

65 سورة البقرة «۱۸۸».

66 سورة الأعراف «۱۹۹».

67 د امام قرطبي لنډه پېژندنه: پوره نوم يې: محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فَرْح الأنصاري الخزرجي الأندلسي، أبو عبد الله، القرطبي. دلويو مفسرينو څخه ګڼل کېږي،په قرطبه کې زېږېدلی، شرق ته يې سفرونه کړي، د ده د ليکنو څخه:(الجامع لأحكام القرآن) تفسير دی، په (۶۷۱ه) کال په مصر کې وفات شوی دی. الزركلي، الأعلام، جـ «۵» صـ «۳۲۲».

پورتنی آیت کریمه د مکارم الأخلاق لپاره یو جمع کوونکی آیت کریمه دی، اما جعفر الصادق «[68]» رحمه الله فرمایلي دي چې الله ﷻ خپل نبي ته په همدې پورتني آیت کریمه کې په مکارم الأخلاق امر کړی دی او له دې پورتني آیت کریمه څخه د مکارم الأخلاق په برخه کې په قرآن کریم کې بل أجمع آیت کریمه شتون نه لري.

4. (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ) «[69]».

په پورتني آیت کریمه کې امر د دې تقضا کوي چې په هر مشروع عقد د وفاء وشي او د هغه التزاماتو د پوره احترام وشي چې یو انسان یې د نورو په وړاندې لري؛ نو که پورتني آیت کریمه ته په دقیقه توګه متوجه شو نو دا به په ښکاره توګه جوته شي، چې پورتنی آیت کریمه د یوې قاعدې حیثیت لري.

**دوهم جزء: سنت نبوي:**

څرنګه چې نبي کریم ﷺ په جوامع الکلم صفت سره متصف ؤ؛ نو له همدې امله د نبي کریم ﷺ ځیني ارشادات د قواعدو حیثیت لري؛ فلهذا اړینه بولم چې د نبي کریم ﷺ د ځینو هغه مبارکو احادیثو څخه یادونه وکړم چې د قواعدو حیثیت لري:

1. «كُلُّ مُسْكِرٍحَرَامٌ» «70».

ژباړه: هر نشه راوړونکی شی حرام دي.

پورتنی حدیث شریف سره له اختصار د لفظ په تحریم د هر مسکره څیز هغه که د انګورو څخه وي او یا هم غیر له انګورو څخه وي، مائع وي او که جامد، نباتي وي، که حیواني وي او یاهم مصنوعي وي دلالت کوي.

2. «لاَ ضَرَرَ وَلاَ ضِرَارَ» «[71]».

---

68 الفضل الصادق: جعفر بن محمد باقر بن علي بن زين العابدين چې په مدينه منوره کې زیږیدلی د اهل التشيع له دولس ګونو امامانو څخه شپږم امام ګڼل کیږي، د زیاترو علماوو نظر دی چې تابعي هم دی او په ۱۴۸ هـ ق کال په مدینه منوره کې وفات شوی دی، الأعلام للزركلي، جـ «۲»، «صـ «۱۲۶».

69 سورة المائدة «۱».

70 كتاب: صحيح البخاري، جـ «۶» صـ «۲۶۲۴»، رقم الحديث «۶۷۵۱».

71 علي بن عمر أبو الحسن الدارقطني البغدادي، كتاب: سنن الدارقطني، ناشر: دار المعرفة - بيروت ، ۱۳۸۶ – ۱۹۶۶، تحقيق: السيد عبد الله هاشم يماني المدني، عدد الأجزاء«۴» جـ «۴» صـ «۲۲۷» رقم الحديث «۸۳».

ژباړه: نه ضرر رسول روا دي او نه د بل چا ضرر په ضرر سره ځوابول روا دي«[72]».

پورتنی حدیث شریف د ټولو انواعو د ضرر په تحریم کې شرعي نص ګڼل کېږي ځکه «لاَ نافیه» استغراق د جنس افاده کوي او حدیث شریف اګر که خبر دی لٰکن په معنی د نهي کې دی؛ نو معنی به یې داسې شي «أترکوا کل ضرر و کل ضرار» او د قواعد الکبری له جملې څخه یوه فقهي قاعده شمېرل کېږي.

## دریم مطلب

## هغه فقهي قواعد چې مصدر یې غیر نصوص وي

دوهم قسم هغه فقهي قواعد دي چې مصدر یې غیر نصوص وي چې دا بیا په دوه قسمه دي:

1. هغه فقهي قواعد دي چې مصدر او منبع یې په کتاب الله او یا هم سنت نبوي سره مستنده اجماع وي لکه: «الِاجْتِهَادُ لَا يُنْقَضُ بِمِثْلِهِ» «[73]».

   ژباړه: اجتهادي حکم په بل اجتهاد سره نه ماتېږي.

په دې باندې اجماع شوې ده چې هغه اجتهادي احکام چې کله په شرعي طریقه سره حل فصل او نافذ شي نو بیا په بل هم مثله اجتهاد سره یې نقضول جواز نه لري، ځکه دوهم اجتهاد له لومړي اجتهاد څخه اولی او بهتر نه دی، ځکه که لومړی اجتهاد نقض شي نو دوهم په دریم او دریم په څلورم سره نقض کېدای شي نو په دې صورت کې به د أحکامو استقرار ممکن او شونی نه وي. مګر که چېرې د اجتهاد مخالفت له شرعي نص او یا له صحیح طریقې د اجتهاد سره ښکاره او روښانه وي او یا هم فاحشه خطاء پکې موجوده وي، نو په دغه وخت کې دا اجتهاد نقض کېږي.

2. هغه فقهي قواعد دي چې فقهاؤ او مجتهدینو له عمومي احکامو د شرع څخه استنباط کړي دي او استدلال یې کتاب الله، سنت،اجماع او معقول وي.

---

72 حكم الحديث: وَهُوَ مُرْسل أسْندهُ الْحَاكِم بِذكر أبي سعيد الْخُدْرِيّ فِيهِ، وَزعم أَنه صَحِيح الْإِسْنَاد، وَلم يخرجَاهُ، الكتاب: الإلمام بأحاديث الأحكام، المؤلف: تقي الدين أبو الفتح محمد بن علي بن وهب بن مطيع القشيري، المعروف بابن دقيق العيد «المتوفى: ٧٠٢هـ»، المحقق: حقق نصوصة وخرج أحاديثه حسين إسماعيل الجمل، الناشر: دار المعراج الدولية - دار ابن حزم - السعودية - الرياض/ لبنان – بيروت، الطبعة: الثانية «١٤٢٣هـ-٢٠٠٢م»، عدد الأجزاء «٢»، جـ «٢»، صـ «٥٦٢».

73 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «١» صـ «١٨» رقم المادة «١٦».

د بېلګې په توګه لکه: الأمور بِمَقَاصِدِهَا«[74]» فقهي قاعده د نبي کريم ﷺ د «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ» «[75]». مبارک حديث شريف څخه سرچينه اخلي.

او همدا شان «إِعْمَالُ الْكَلَامِ أَوْلَى مِنْ إِهْمَالِهِ«76». فقهي قاعده د الله جل جلاله له دغه قول (مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ) «[77]». څخه سرچينه اخلي.

دريم قسم: هغه فقهي قواعد دي چې فقهاؤ او مجتهدينو د اجتهادي فقهي احکامو لپاره علت او سبب ګرځولي دي. لکه د «انما يثبت الحكم بثبوت السبب» قاعده فقهاوو او مجتهدينو د معقول النص او اجماع څخه استنباط کړې ده؛ د بېلګې په توګه په مکلف باندې د ماسپښين د لمانځه اداء کول هغه وخت فرض کېږي چې لمر زوال وکړي؛ نو د ماسپښين د لمانځه د فرضيت لپاره زوال د لمر سبب شو، نو تر څو چې زوال نه وي راغلی نو د ماسپښين د لمانځه اداء هم په مکلف باندې نه لازمېږي، او فقهاوو او مجتهدينو د پورتنۍ قاعدې په اړه د سورة اسراء «۷۸»آيت کريمه باندې استدلال کوي لکه څرنګه چې الله جل جلاله پدې اړه فرمايلي دي: (أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا) «[78]».

ژباړه: قائموه «سم ودروه سره له ټولو حقوقو» لمونځ وروسته له زوال د لمر تر تیارې د شپې پورې «ظهر، عصر، مغرب او عِشاء لمنځونه اداء کړه!» او له قرائت د فجر«یعني د سهار لمونځ اداء کړه» بېشکه چې قرآن لوستل «لمونځ کول» د فجر حاضر شوی دی«یعني ورحاضرېږي ملائکه د شپې او ورځې».

## څلورم مطلب

## د احکامو په برخه کې په فقهي قواعدو د استدلال حکم

---

74 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۶» رقم المادة «۱».

75 صحيح البخاري، جـ«۱» صـ«۱» رقم الحديث «۶۵۱۴».

76 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۲۳» رقم المادة «۶۰».

77 سورة ق «۱۸» آيت کريمه.

78 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «۱» صـ «۳۲-۴۲».

د احکامو په برخه کې په فقهي قواعدو باندې د استدلال د حکم موضوع له یو لوري خورا مهمه موضوع بلل کېږي او له بل لوري د احکامو په مصادرو او دلائلو پورې تړاو لري، د موضوع د پوره وضاحت په اړه که لاندې پوښتنه مطرح شي موضوع به لا روښانه شي.

ایا دا جائزه ده چې فقهي قاعده داسې شرعي دلیل وګرځول شي؛ چې شرعي حکم ترې استنباط کړل شي؟

د پورتنی پوښتنې په اړه یو څه تفصیل ته اړتیا لیدل کیږي، هغه دا چې ابن نجیم په الفوائد الزینیة کې ویلي دي لکه څرنګه چې حموي«[79]» په غمز عینون البصائر کې ترې داسې نقل کړی دی: فتوی ورکول د ضوابطو په غوښتنه سره جائزه نه ده؛ ځکه ضوابط کلي نه دي بلکې اغلبي دي. همدارنګه الشیخ مصطفی الزرقا «[80]» ویلي دي: چې د فقهي قواعدو څخه یوه قاعده ډېرکم ځله له مستثنیاتو د تطبیقي فروعاتو څخه خالي وي؛ نو له همدې امله قضاتو ته دا جائزه نه ده چې د احکامو په برخه کې پرته له عامو او خاصو نصوصو څخه یواځې په فقهي قواعدو سره بسنه وکړي، سره له دې چې قواعد کلیه د زیات لوړ ارزښت او قیمت څخه برخمن دي لٰکن ګڼ شمېر مستثنیات هم لري، نو همدا قواعد د فقهي فهم او علم لپاره یو دستور دی نه د قضاء لپاره نصوص«[81]».

له یو لحاظه پورته تفصیل ته په کتلو سره مونږ ویلای شو چې د لاندې دوو سببونو له امله فقهي قواعد داسې شرعي أدلة ګڼل چې احکام ترې استنباط کړل شي جواز نه لري.

**لومړی سبب:**

79 د حموي لنډه پېژندنه: احمد بن محمد مکي ابو العباس شهاب الدین الحسیني الحموي د احنافو علماوو څخه دی چې د خپل وخت د دیني علومو مدرس وو . حموي مصري الاصل عالم دي په( ۱۰۹۸هـ ) په مصر کي زیږیدلی دي، زده کړې یې هم په مصر کي کړي دي د فراغت څخه وروسته په سلمانیه مدرسه قاهره کي استاد شو چې د حنفي فتوا چارې یې هم مخته وړي دي، علمي آثار یې غمزعیون، البصائرفی شرح الاشباه و النظائر لابن نجیم، نفحات القرب و الاتصال، الدرر سنیه، او همداسې نور یو شمیر علمي آثار یې د تولني او دین خدمت لپاره پرېښي دي ( الاعلام للزرکلی جـ «۱» صـ «۲۳۹».

80 مصطفی الزرقاء لنډه پېژندنه: مصطفی احمد الزرقا بن احمد الزرقا بن محمد الزرقا دي، دسوریې د معاصرو مخکښنو علماء څخه ګڼل کېږي، په (۱۳۲۲ه) کې زېږېدلی، په کوچنوالي کي یې قرآن کریم حفظ کړی، د سوریې او اردن په پوهنتونو کي یې تدریس کړی، د کویت هیواد د اوقافو وزارت لخوا د (الموسوعة الفقهیة) کتاب باندې ناظر او کتونکي ټاکل شوی دي، ډیرې لیکنې لري، لکه: "المدخل الفقهي العام" " المدخل إلى نظریة الالتزام العامة في الفقه الإسلامي"، " العقود المسماة في الفقه الإسلامي: عقد البیع." په (۱۴۲۰ه) کال د ربیع الاول په(۱۹) نېټه د شنبې په ورځ د مازدیګر د آذان څخه وروسته په داسې حال کې ومړ چې فتاواوې یې تنقیح او په بابونو باندې وېشلې. (https://ar.wikipedia.org/ ). مقاله مصطفی الزرقا.

81 موسوعة القواعد الفقهیة، جـ «۱» صـ «۴۵».

فقهي قواعد د مختلفو فروعاتو ثمره، جامع او رابط بلل کېږي؛ نو د سالم عقل غوښتنه دا نه ده چې هغه څه چې د مختلفو فروعاتو ثمره جامع او رابط وي، هغه د فروعاتو د احکامو د استنباط لپاره دلیل وګرځول شي.

**دوهم سبب:**

یوه لویه ټولګه د فقهي قواعدو له مستثنیاتو څخه خالي نه ده او ګڼ شمېر مستثنیات لري؛ نو ممکن هغه مسئله چې د حکم د تشخیص په اړه تر څېړنې او بحث لاندې ده، کېدای شي له مستثنیاتو څخه وي.

نو پورته اسبابو ته په کتلو سره د فقهي قواعدو په اساس د حکم بناء او د فروعاتو د حکم تخریج جواز نه لري؛ مګر همدا فقهي قواعد د شواهدو او دلائلو اعتبار خپلوي، او د نویو معاصرو وقائعو د احکامو په تخریج او په مدونو فقهي مسائلو باندې د قیاس کولو له اړخه پرې اعتماد کېږي.

د یادونې وړ ده چې د فقهي قواعدو په برخه کې په مطلقه توګه داسې هم نه ده چې د احکامو د استنباط فتوی او قضاء په برخه کې پرې هېڅ نوع استناد نه شي کېدای، بلکې یو څه تفصیل ته اړتیا ده، هغه دا چې فقهي قواعد د اصولو او مصادرو او همدارنګه د دلیل له حیثه مختلف النوع دي؛ ځکه د فقهي قواعدو اصول او مصادر به یا کتاب الله او یا سنت الرسول ﷺ وي، او یا به په واضحو أدله وو سره له کتاب الله او سنت الرسول ﷺ څخه سرچینه اخلي او یا به د علماوو په اند په معتبرو دلائلو بناء وي او یا به هم په استدلال قیاسي او علت د احکامو بناء وي؛ نو همدا شان د استدلال د حکم په برخه کې هم په لاندې توګه مختلف کېږي.

**لومړی:** که چېرې قاعده قرآني نص وي؛ نو دا مخکې له دې چې قاعده او یا جاري مجری القاعده وي، نو دا په اتفاق سره دلیل شرعي دی نو د غیر تقدیم په دغه قاعده چې قرآني نص وي جواز نه لري لکه د بېلګې په توګه: الله جل جلاله فرمايي:

(وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَوا) «82».

ژباړه: حال دا چې حلال کړی دی الله جل جلاله تجارت او حرام کړی ئې دی سود.

82 سورة البقرة «۲۷۵».

پورتنی قرآني نص يو شرعي دليل دی چې حلت د بيع او حرمت د سود افاده کوي او همدا قرآني نص په عين وقت کې د فقهي قاعدې حيثيت او صلاحيت هم لري؛ ځکه همدا قرآني نص ګڼ شمېر مختلفو انواعو د بيع او سود ته شاملېدلي او همدا شان په دواړو برخو کې مستثنيات هم لري.

اوهمدا شان که چېرې قاعده د نبي کريم ﷺ له مبارکو احاديثو څخه وي د بېلګې په توګه لکه څرنګه چې نبي کريم ﷺ په لاندې توګه فرمايلي دي:

1. «لاَ ضَرَر وَلاَ ضِرَارَ» «[83]».

ژباړه: نه ضرر رسول روا دي او نه د بل چا ضرر په ضرر سره ځوابول روا دي«[84]».

2. «الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ» «[85]».

ژباړه: تاوان د ګټې په وړاندې دی«[86]».

3. «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِىَّ ﷺ قَالَ «لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ لاَدَّعَى نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ وَأَمْوَالَهُمْ وَلَكِنَّ الْيَمِينَ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ»«[87]».

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ ويلي دي: که چېرې خلکو ته يواځې د دوی د دعواوو په اساس څه ورکول کېدای؛ نو خلکو به د خلکو په وينو او مالونو دعواوې کړې وای؛ لېکن په مدعي عليه باندې يمين (لوړه) ده.

پورتني احاديث له يو لوري شرعي دلائل او له بل لوري فقهي قواعد دي، چې د احکامو د استنباط، قضاء او فتوی په برخه کې پرې په پوره معنی استناد کېږي. او دېته ورته نور زيات احاديث شتون لري چې د فقهي قواعدو حيثيت يې خپل کړي او د احکامو د استنباط، قضاء او فتوی په برخه کې ترې فقهاوو

83 سنن الدارقطني، جـ «۴» صـ «۲۲۷» رقم الحديث «۸۳».

84 حكم الحديث: وَهُوَ مُرْسل أسْندهُ الْحَاكِم بِذكر أبي سعيد الْخُدْرِيّ فِيهِ، وَزعم أَنه صَحِيح الْإِسْنَاد، وَلم يخرجَاهُ، الكتاب: الإلمام بأحاديث الأحكام، المؤلف: تقي الدين أبو الفتح محمد بن علي بن وهب بن مطيع القشيري، المعروف بابن دقيق العيد «المتوفى: ۷۰۲هـ»، المحقق: حقق نصوصة وخرج أحاديثه حسين إسماعيل الجمل، الناشر: دار المعراج الدولية - دار ابن حزم - السعودية - الرياض/ لبنان – بيروت، الطبعة: الثانية «۱۴۲۳هـ-۲۰۰۲م»، عدد الأجزاء «۲»، جـ «۲»، صـ «۵۶۲».

85 سنن أبي داود، جـ «۳» صـ «۳۰۴» رقم الحديث «۳۵۱۱».

86 حكم الحديث: قال الشيخ الألباني: حسن. الكتاب: سنن ابن ماجه، المؤلف: محمد بن يزيد أبو عبدالله القزيني، الناشر: دارالفكر – بيروت، عدد الأجزاء «۲»، جـ «۲»، صـ «۷۵۴».

87 الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، جـ «۵» صـ «۱۲۸» رقم الحديث «۴۵۶۷».

مجتهدینو، قضاتو او مفتیانو اعظمي استفاده کړې او لا يې کوي او همدا قواعد په اصل کې تشريعي نصوص دي، البته د فقهي قواعدو په اړه د الشيخ مصطفى الزرقا پورتنی اجمالي خبره چې ويلي يې وو چې: «د فقهي قواعدو څخه يوه قاعده ډېرکم ځله له مستثنياتو د تطبيقي فروعاتو څخه خالي وي؛ نو له همدې امله قضاتو ته دا جائزه نه ده چې د احکامو په برخه کې پرته له عامو او خاصو نصوصو څخه يوائې په فقهي قواعدو سره بسنه وکړي، سره له دې چې قواعد کليه د زيات لوړ ارزښت او قيمت څخه برخمن دي لٰکن ګڼ شمېر مستثنيات هم لري، نو همدا قواعد د فقهي فهم او علم لپاره يو دستور دی نه د قضاء لپاره نصوص» فلهذا عموم مطلوب نه دی بلکې پورتني تفصيل مطلوب دی.

او همدا شان څرنګه چې حموي د ابن نجيم څخه نقل کړي وو چې: «فتوی ورکول د ضوابطو په غوښتنه سره جائزه نه ده؛ ځکه ضوابط کلي نه دي بلکې اغلبي دي» د ابن نجيم رحمه الله دا خبره عامه وه په عدم جواز د فتوی کې په قواعدو سره، د ابن نجيم د قول څخه هم عموم مطلب نه دی بلکې هغه قواعد چې په کتاب الله، سنت الرسول ﷺ او اجماع سره بناء وي لکه:

الْيَقِينُ لَا يَزُولُ بِالشَّكِّ «[88]».

ژباړه: يقين په شک سره له منځه نه ځي.

الضَّرَرُ يُزَالُ«[89]».

ژباړه: ضرر له منځه وړل کيږي.

الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا«[90]».

ژباړه: کارونه په خپلو مقاصدو پورې اړه لري.

الْمَشَقَّةُ تَجْلِبُ التَّيْسِيرَ«[91]».

ژباړه: سختي اسانتياوې را جلبوي.

---

88 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۶» رقم المادة «۴».

89 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۸» رقم المادة «۲۰».

90 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۶» رقم المادة «۲».

91 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۸» رقم المادة «۱۷».

او دېته ورته نور فقهي قواعد د قضاء، افتاء او استنباط په برخه کې د هغو معتمدو قوي دلائلو په شان دي له کومو چې د قضاء، افتاء او استنباط په برخه کې فقهاء، مجتهدين، قضات او مفتيان پرته له کوم مانع څخه استفاده کوي او له امله يې حکم کوي.

**دوهم:** که چېرې قاعده په داسې يو شرعي دليل باندې بناء وي چې په هغه کې اختلاف وي، نو لومړی رجوع کول متفق عليه دلائلو ته واجب دي، که چېرې په يو د متفق عليه دلائلو کې حکم پيدا شو؛ نو په قاعده سره استئناس کېږي او حکم پرې نه کېږي. او که چېرې په يو د متفق عليه دلائلو کې حکم پيدا نه شو، نو په دې وخت کې بيا هغه دليل ته کتل کېږي چې همدا قاعده پرې بناء شوې ده که چېرې دليل يو داسې معتبر دليل ؤ چې په مؤجب يې د مسئلې حکم هم ممکن ؤ؛ نو په دې وخت کې قاعده يو تابع دليل ګڼل کېږي او اعتماد پرې کېدای شي.

**دريم:** که چېرې د يوې مسئلې لپاره بعينها نه شرعي دليل موجود وي او نه هم فقهي نص اواصولي دليل شتون ولري، مګر داسې يوه فقهي قاعده شتون ولري چې همدې مسئلې ته شامېلږي؛ نو په دغه حالت کې آيا يوه اجتهادي فقهي قاعده د قضاء او فتوی په برخه کې د يو شرعي دليل په توګه شرعي اعتبار خپلولای شي اوکنه؟

هغه اجتهادي قواعد چې علماوو او مجتهدينو د معقول النص، عامه قواعدو د شريعت، مصلحت، عرف او استقراء په اساس استنباط کړي دي د شرعي دليل حيثيت خپلوي؛ ځکه داخبره چې: «فقهي قواعد د مختلفو فروعاتو ثمره، جامع او رابط بلل کېږي؛ نو د سالم عقل غوښتنه دا نه ده چې هغه څه چې د مختلفو فروعاتو ثمره جامع او رابط وي، هغه د فروعاتو د احکامو د استنباط لپاره دليل وګرځول شي.» صحيح نه برېښي ځکه د ټولو علومو قواعد د خپلو اړونده علومو په فروعاتو باندې بناء شوي دي او د فروعاتو ثمره بلل کېږي، لکه د بېلګې په توګه اصولي قواعد او بيا په ځانګړي ډول د احنافو هغه استنباطات چې د فرعي مسائلو د احکامو د منځ څخه يې کړي او د متقدمينو ائمه وو څخه نقل شوي دي او له متقدمينو علماوو څخه هېڅ يوه يې هم په عدم جواز خبره نه ده کړې.

او همدارنګه د عربي ژبې هغه قواعد چې علماء اللغة د فصيحو عربو له نطق څخه استنباط کړي او په اساس او بنياد يې د عربي ژبې د احکامو په استنباط کې استناد کېږي او هېچا تر اوسه دا خبره نه ده کړې

چې دا قواعد د عربي ژبې د احکامو د استنباط په برخه کې صالح او وړ قواعد نه دي؛ ځکه چې دا قواعد ثمره د جزئي فروعاتو دي«[92]».

92 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «١» صـ «۴۴-۴۸».

## دريم مبحث

## د فقهي قاعدې ارکان او شرائط

دا يو واضح او ښکاره حقيقت دی چې هر شی د خپل کامل او سالم جوړښت او وجود لپاره ګڼ شمېر مختلف ارکان او شرائط لري، نو د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعده هم خپل ارکان او شرائط لري چې تفصيل يې په لاندې توګه دی:

## لومړی مطلب

## د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې ارکان

مخکې تر دې چې د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې ارکان بيان کړو لومړی بايد د لغوي او اصطلاحي اړخه رکن وپېژنو.

الركن في اللغة: أحد الجوانب التي يستند إليها الشيء و يقوم بها و جزء من أجزاء حقية الشيء «[93]».

ژباړه: رکن په لغت کې هغه اړخ ته وايي چې يو شی ورته تکيه کوي او په هغه باندې ولاړ وي او د يو يو شي د حقيقي برخو څخه يوه برخه وي.

و في الاصطلاح: ما لا وجود للشيء الا به. او «أن ركن الشيء، ما تم به و هو داخل فيه» «[94]».

ژباړه: او اصطلاح کې رکن عبارت له هغه شي څخه دی چې د يوشي وجود او عدم وجود ورپورې معلق وي. او يا هم عبارت له هغه شي څخه دی چې يو شی پرې تامېږي او په شي کې داخل وي.

څرنګه مو چې رکن د لغوي او اصطلاحي پلوه و پېژندلو، نو اوس مهال لازمه ده چې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې ارکان هم په اجمالي توګه بيان کړو چې عبارت دي له:

1. قاصد يا ناوي چې د يو امر لوري ته متوجه وي.
2. امور، افعال او مقصوده افعال چې په نيت سره ورته توجه کېږي.

---

93 الكتاب: المعجم الوسيط، المؤلف: إبراهيم مصطفى – أحمد الزيات – حامد عبدالقادر- محمد النجار، دار النشر: دارالدعوة، تحقيق: مجمع اللغة العربية، عدد الأجزاء: «٢»، جـ «١»، صـ «٣٧٠».

94 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «٥٧».

3. قصد یا نیت «[95]».

## دوهم مطلب

## د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې شرائط

مخکې تر دې چې د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې شرائط بیان کړو لومړی باید د لغوي او اصطلاحي اړخه شرط وپیژنو.

الشّرطُ في اللّغة هو: العلامة. و في الاصطلاح: ما يتوقَّف عليه وجود الشيء، و يكون خارجاً عن ماهيَّته، و لايكون مؤثراً في وجوده «[96]».

ژباړه: شرط په لغت کې نښې ته وايي. او په اصطلاح کې عبارت له هغه شي څخه دی چې وجود د یو شي ورپورې موقوف وي او له ماهیت د شي څخه خارج وي او د شي په جود کې مؤثر نه وي.

څرنګه چې مو پورته یادونه وکړه چې د«الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې ارکان درى دي: ١- قاصد. ٢- مقصود. ٣- قصد. نو د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې شرائط تر دې درى ګونو ارکانو پورې ربط او تعلق لري چې په لاندې توګه یې یادونه کوم:

**لومړی:** هغه شرائط چې تر قاصد او یا ناوي پورې خاص دي.

**دوهم:** هغه شرائط چې تر مقصود او یا منوي پورې خاص دي.

**دریم:** هغه شرائط چې تر قصد پورې خاص دي.

## دریم مطلب

## د قاصد او یا ناوي شرائط

څرنګه چې د هر شي د درست او صحیح وجود لپاره شرائط وي او پرته له شرائطو څخه یې کامل او درست وجود نشي متحقق کېدای؛ نوهمدارنګه د قاصد او یا ناوي لپاره هم ځینې شرائط شتون لري چې

95 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «٥٨».

96 الكتاب: التعريفات، المؤلف: علي بن محمد بن علي الجرجاني، الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت، الطبعة الأولى «١٤٠٥»، تحقيق: إبراهيم أبياري، عددلأجزاء: «١»، جـ «١»، صـ «١٦٦».

وجود يې ضروري او لازمي دی؛ ځکه په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط را ځي، نو لهذا لازمه بولم چې د قاصد او يا ناوي له شرائطو څخه يوائې په اجمالي ډول په لاندې توګه يادونه وکړم او بس.

1. اسلام.
2. اهليت.
   - تميز.
   - بلوغ.
3. عقل «[97]».

## څلورم مطلب

## د مقصود او يا نيت کونکي شرائط

**لومړی:** مقصود او يا منوي بايد ناوي او قاصد ته معلوم وي. برابره خبره ده که مقصود او يا منوي قول وي يا فعل وي او يا هم يا د يو شرعي حکم پيژندنه وي.

**دوهم:** مقصود او يا منوي بايد مقدور عليه وي. يعنې ناوي (مکلف) بايد د مقصود او يا منوي په تحقق باندې عقلاً يا شرعاً او يا هم عادةً قادر وي. چې د موضوع د پوره وضاحت لپاره د لاندې بېلګو يادونه ضروري بولم:

د غير مقدور عليه عقلي مثال لکه: يو شخص په خپل اوداسه سره د دې نيت کوي چې يو لمونځ د لمنځونو څخه به پرې کوي او يا به يې نه پرې کوي، د دغه شخص دا نيت کول عقلاً صحت نه لري ځکه چې په دې کې داسې تناقض موجود دی چې عقل يې نه مني.

د غير مقدور عليه شرعي مثال لکه: يو شخص په خپل اوداسه سره د دې نيت کوي چې په نجس ځای کې به لمونځ پرې کوي، د دغه شخص دا نيت کول شرعاً صحت نه لري ځکه چې په دې کې داسې تناقض موجود دی چې شرع يې نه مني؛ ځکه د لمونځ د اداء لپاره پاکوالي د ځای شرط دی.

د غير مقدور عليه عادتي مثال لکه: يو شخص په خپل اوداسه سره د دې نيت کوي چې د اختر لمونځ به د کال په سر کې پرې کوي، د دغه شخص دا نيت کول عادتاً صحت نه لري.

---

97 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «٦٢».

**دریم:** مقصود او یا منوي باید معین، محدد او غیر مبهم وي.

**څلورم:** مقصود او یا منوي باید د قاصد او یا منوي له لوري مکتسب وي. له همدې امله د یو شخص نیت د بل شخص د فعل لپاره منع دی؛ ځکه چې فعل د غیر د قاصد او یا ناوي مکتسب نه دی «[98]».

## پنځم مطلب

## د قصد او یا نیت شرائط

**لومړی:** د قصد او یا نیت عدم تعارض له قصد د شارع سره. ځکه د شریعت مقصد د مصلحتونو جلبول او د مفسدو له منځه وړل دي؛ نو هر هغه څوک چې د داسې عمل قصد او نیت وکړي چې هغه د شریعت د مقصد سره په تعارض کې وي نو دا عمل یې باطل دی لکه څرنګه چې الله متعال په سورة النساء کې فرمایلي دي:

(وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا) «[99]».

**ژباړه:** او هر څوک چې مخالفت کوي له رسوله وروسته له هغه چې ښکاره شوه ده ته سمه لاره او تابع شي (لاړشي) بې له لارې د مؤمنانو نو وبه ګرځوو مونږ دی هغه لوري ته چې دی ورګرځېدلی دی او داخل به کړو مونږ دی جهنم (دوزخ) ته؛ او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

له پورتني آیت کریمه څخه په ښکاره او واضحه توګه څرګندېږي چې هر هغه څوک چې د شارع د مقاصدو خلاف عمل کوي، همدا کس د داسې لارې پیروان دی چې هغه لار د مؤمنانو لار نه ده او عمل یې یو خلاف عمل ګڼل کیږي او همدا عمل یې مستلزم عقاب لره دی.

**دوهم:** د قصد او یا نیت پیوستون له منوي سره حقیقتاً او حکماً. له دې څخه هدف دا دی چې نیت به له عمل څخه نه مؤخر کیږي؛ ځکه که چیرې مؤخر شي بیا دا عمل له جهته د خالي والي د عمل له نیت څخه عبادت نه ګڼل کیږي. مګر أبو الحسن الکرخي الحنفي«[100]» په دې خبره کې مخالفت ښودلی دی. او له

---

98 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۶۶».

99 سورة النساء «۱۱۵».

100 أبوالحسن الكرخي: عبيدالله بن الحسين بن دلال بن دلهم أبو الحسن الكرخي من كرخ، چې په عراق کې د حنفي فقهاء رئیس ؤ او په «۲۶۰هـ» کې زیږېدلی، او په «۳۴۰هـ» کال په بغداد کې وفات شوی دی په اصولو کې د "أصول الكرخي" په نامه یوه رساله لري چې د حنفي مذهب فروعات

دغه شرط څخه د نفلي روژې نیت مستثنی دی، یعنې نفلي روژه نیول په تأخیر د نیت سره هم جواز لري او استناد د نبي کریم ﷺ په لاندې حدیث مبارک سره کیږي.

«عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ: هَلْ عِنْدَكُمْ شَىْءٌ؟ فَقُلْنَا: لاَ، قَالَ: فَإِنِّي إِذًا صَائِمٌ»«[101]».

ژباړه: له حضرت عائشة «رضي الله عنها» څخه روایت دی چې وایي: یوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته راغی او راته یې وویل چې د خوراک لپاره ستا سره څه شته؟ مونږ ورته وویل چې نه! نو یې وویل چې پس نو زه اوس روژه یم.

حنفي علماء په مطلق روژه کې هغه که نفلي او یا هم فرضي وي تأخیر د نیت ته جواز ورکوي مګر جمهور علماء بیا په فرضي روژه کې تأخیر د نیت ته جواز نه ورکوي او په لاندې حدیث شریف باندې استدلال کوي:«[102]».

«عَنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قَالَ: مَنْ لَمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ فَلاَ صِيَامَ لَهُ» «[103]».

ژباړه: له رسول الله ﷺ څخه روایت دی چې وایي: هر هغه څوک چې د مخکې له سهار څخه د روژې نیت و نه کړي روژه یې صحت نه لري «[104]».

---

پرې را څرخي همدارنګه "شرح الجامع الصغير" او "شرح الجامع الكبير" په نوم لیکني هم لري، الزركلي، الكتاب: الأعلام للزركلي، جـ «۴»، صـ«۱۹۳».

101 الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، جـ «۳» صـ «۱۵۸» رقم الحديث «۲۷۷۱».

102 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۷۱».

103 السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، جـ «۴» صـ «۲۰۲» رقم الحديث «۸۱۶۱».

104 حكم الحديث: وَاخْتَلَفَ الْأَئِمَّةُ فِي رَفْعِهِ وَوَقْفِهِ فَقَالَ ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ عَنْ أَبِيهِ لَا أَدْرِي أَيُّهُمَا أَصَحُّ يَعْنِي رِوَايَةَ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ وَرِوَايَةُ إِسْحَاقَ بْنِ حَازِمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ سَالِمٍ بِغَيْرِ وَسَاطَةِ الزُّهْرِيِّ لَكِنَّ الْوَقْفَ أَشْبَهُ. وَقَالَ أَبُو دَاوُد لَا يَصِحُّ رَفْعُهُ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ الموقوف أَصَحُّ، وَنَقَلَ فِي الْعِلَلِ عَنْ الْبُخَارِيِّ أَنَّهُ قَالَ هُوَ خَطَأٌ وَهُوَ حَدِيثٌ فِيهِ اضْطِرَابٌ وَالصَّحِيحُ عَنْ ابْنِ عُمَرَ مَوْقُوفٌ، وَقَالَ النَّسَائِيُّ الصَّوَابُ عِنْدِي مَوْقُوفٌ وَلَمْ يَصِحَّ رَفْعُه، وَقَالَ أحمد ماله عِنْدِي ذَلِكَ الْإِسْنَادُ وَقَالَ الْحَاكِمُ فِي الْأَرْبَعِينَ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَقَالَ فِي الْمُسْتَدْرَكِ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ وَقَالَ الْبَيْهَقِيُّ رُوَاتُهُ ثِقَاتٌ إلَّا أَنَّهُ رُوِيَ مَوْقُوفًا، وَقَالَ الْخَطَّابِيُّ أَسْنَدَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ وَزِيَادَةُ الثِّقَةِ مَقْبُولَةٌ، وَقَالَ ابْنُ حَزْمٍ الِاخْتِلَافُ فِيهِ يَزِيدُ الْخَبَرَ قُوَّةً وَقَالَ الدَّارَقُطْنِيُّ كُلُّهُمْ ثِقَاتٌ. الكتاب: التلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير، المؤلف: أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني «المتوفى: ۸۵۲هـ»، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الطبعة الأولى: «۱۴۱۹هـ ۱۹۸۹م»، عدد الأجزاء «۴»، جـ «۲»، صـ «۴۰۷».

**دريم:** جزم او قطعيت د قصد او يا نيت په خپل معلق پورې. له دې څخه هدف او مقصد عدم تردد په قصد او نيت کې دی ځکه تردد په قصد او نيت کې د قصد او نيت د شرائطو سره منافي دی او همدا تردد د عمل د بطلان سبب ګرځي.

**څلورم:** د نيت خلاف عمل نه کول. ځکه د نيت خلاف عمل تر سره کول له يو لوري د نيت سره منافي دي او له بل لوري په اعراض د نيت سره دلالت کوي«[105]».

**پنځم:** إخلاص. له اخلاص څخه هدف دا دی چې خاص الله ﷻ لره وي او هېڅ نوع تشريک پکې شتون و نه لري لکه څرنګه چې په اړه الله ﷻ د سورة الكهف په لاندې ايت کريمه کې فرمايي:

(قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا) «[106]».

ژباړه: ووايه (ای محمده!) بېشکه هم دا خبره ده چې زه يو بشر سړی يم په شان ستاسي چې وحيي راځي ماته چې بېشکه همدا خبره ده چې معبود ستاسې معبود دی يو پس هر څوک چې وي چې اميد لري د (اخروي) ملاقات د رب خپل (په ښه وجه سره) نو ښائي چې (تل) عمل وکړئ عمل صالح (ښه) او نه د شريکوي په عبادت د رب خپل کې هېڅوک.

## څلورم مبحث

## د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې د مشروعيت دلائل

دا يوه واضـحه، متفقه او ښـكاره خبره ده چې د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِـدِهَا» فقهي قاعده د هغه فقهي قواعدو له جملې څخه شـمېرل كېږي چې په اړه يې اختلاف شـــتون نه لري، بلكې د قوت او احتجاج په اړه يې ګڼ شمېر مختلف النوع دلائل له کتاب الله، سنت نبوي، اجماع او سالم عقل څخه شتون لري.

105 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «٦٩».

106 سورة الكهف «١١٠».

# لومړی مطلب

## قرآن کریم

د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مشروعیت په اړه په قرآن کریم کې ګڼ شمېر آیتونه په مختلفو الفاظو سره د بېلګې په توګه لکه: اخلاص، ارادې او ابتغاء سره په لاندې مبارکو آیتونو کې یادونه شوې ده:

1. (وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ) «[107]».

ژباړه: او نه وو حکم شوی دوی ته مګر دا چې عبادت کوی د الله جل جلاله په خاصه (خالصه) توګه د الله جل جلاله د پاره د هغه، دین راګرځېدونکي (د شرکه او نفاقه) او چې قائموي لمونځ او چې ورکوي زکات او دا دی دین (د الله جل جلاله) قائم (مضبوط).

2. (إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ) «[108]».

ژباړه: بېشکه نازل کړی مو دی تاته «ای محمده!» کتاب «قرآن» په حقه سره پس عبادت کوه د الله جل جلاله حال دا چې خالص کوونکی وې دغه « الله جل جلاله» ته د دین «خپل له شرک».

په پورتنیو آیتونو کې په کامل صراحت سره په اخلاص امر شوی دی او اخلاص پرته له قصد او نیت څخه اصلاً متحقق کېدای نه شي. نو د پورتنیو آیتونو دلالت په مقصود باندې دلالت التزامي دی.

3. (مِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَنْ يُرِيدُ الْآَخِرَةَ) «[109]».

ژباړه: ځیني له تاسې هغه دي چې خوښوي دنیا «دا ژوندون لږ خسیس» او ځیني ستاسې هغه دي چې خوښوي آخرت.

4. (وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ) «[110]».

ژباړه: او صبر «بند او ټینګ» کړه نفس خپل له هغو کسانو سره چې بولي «عبادت کوي» د رب خپل په سبا «اول د ورځې» او بیګا «آخر د ورځې» غواړي دوی ذات «یا رضاء» د الله جل جلاله.

---

107 سورة البينة «٥».

108 سورة الزمر «٢».

109 سورة آل عمران «١٥٢».

110 سورة الكهف «٢٨».

5. (وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ) «111».

ژباړه: او مه شړه هغه کسان چې بولي دوی «عبادت کوي د» رب خپل په اول د ورځې او په آخر د ورځې کې «سبا او بېګا» کې چې غواړي دوی په دې عبادت سره رضاء د ذات د الله ﷻ.

په پورته دری ګونو آیتونو کې د ارادې الفاظ راغلي دي او مراد د ارای څخه دلته قصد او نیت دی او له بل لوري علماوو قصد او نیت د ارادې له انوعو څخه شمارلی دی؛ نو له همدې امله تعبیر په اراده سره په قصد او نیت باندې دلالت کوي«[112]».

6. (وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى «١٩» إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى) «٢٠»«[113]».

ژباړه: او نشته د هېچا پر ده باندې هېڅ احسان (د نعمت) چې عوض(بدله) یې ورکړي، مګر د پاره د حاصلولو د رضاء مندی د رب خپل چې لوی دی.

7. (وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ) «[114]».

ژباړه: او مثال د هغو کسانو چې خرڅوي مالونه خپل لپاره د طلب د رضاء د الله ﷻ او لپاره د مضبوط والي «د زړه او صدق چې پیدا دی» له نفسونو د دوی څخه «په ایمان باندې».

په پوتنیو دوه ګونو آیتونو کې د ابتغاء الفاظ ذکر شول او ابتغاء په لغت کې طلب ته ویل کېږي او طلب پرته له قصد او توجه څخه نه شي متحقق کېدای.

---

111 سورة الأنعام «٥٢».

112 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «٧٩».

113 سورة الليل «١٩-٢٠».

114 سورة البقرة «٢٦٥».

## دوهم مطلب

## سنت نبوي «ﷺ»

د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مشروعيت په اړه په نبوي سنتو کې ګڼ شمېر احاديث شتون لري چې د بېلګې په ډول په لاندې توګه ترې يادوه کوم:

1. «عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ» «115».

ژباړه: له عمر بن الخطاب «رضی الله تعالی عنه» څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د عملونو صحت او عدم صحت په نيت پورې تړاو لري، او هر انسان لره هغه څه دي چې د هغه نيت يې کړی دی پس هر هغه څوک چې هجرت يې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لپاره ؤ، نو هجرت يې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لپاره دی، او هر هغه څوک چې هجرت يې د دنيا لپاره ؤ هغه ورته ورسېدله او يا د ښځې لپاره ؤ هغه يې په نکاح کړه؛ نو هجرت يې د هغه څه لپاه ؤ چې د څه په نيت يې هجرت کړی ؤ.

پورتني حديث شريف د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې لپاره لومړی بنسټ بلل کيږي.

1. «يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ عَلَى نِيَّاتِهِمْ» «116».

ژباړه: يقيناً خلک به په ورځ د محشر الله ﷻ له خپلو نيتونو سره را پاڅوي.

2. «عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ» «117».

---

115 الکتاب: الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم و سننه و أيامه = صحيح البخاري، المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، المحقق، محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبدالباقي)، الطبعة الأولى «۱۴۲۲هـ»، عدد الأجزاء«۹»، جـ «۱»، صـ «۲۰». رقم الحديث «۵۴».

116 الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، جـ «۸» صـ «۱۶۸» رقم الحديث «۷۴۲۶».

117 الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، جـ «۸» صـ «۱۱» رقم الحديث «۶۷۰۸».

ژباړه: له بي هريرة رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله ﷻ ستاسو صورتونو او شکلونو او مالونو ته نه ګوري، بلکې ستاسو زړونو او اعمالو ته ګوري.

له پورته مبارکو احاديثو څخه په ښکاره توګه څرګنديږي چې نيت په هر عمل کې ډېر لوړ ارزښت لري او د هر عمل صحت او بطلان په نيت پورې تړاو لري، او نيت د روح مثال لري او عمل د جسد، له جسد څخه چې کله روح لرې شي جسد په مړو کې حساب شي، او مړو باندې بيا څوک حساب هم نه کوي او همدا شان په نيت سره وړوکی عمل ستر جوړيږي او مباح عمل ورباندې عبادت ګرځي او کله کله يواځې په نيت سره سړی د ثواب حقدار ګرځي، همدا نيت دی چې د الله ﷻ د قربت وسيله جوړيږي په نېک نيت سره عمل صالح او په بد نيت سره عمل فاسد ګرځي، نيت د اعمالو لپاره يو معيار او ترازو دی، په کومه مستوا چې نيت وي هومره به د عمل وزن هم وي.

## دريم مطلب

## اجماع

د اسلامي امت علماوو په مختلفو عصرونو کې د نيت په هغه ارزښت باندې چې په پورته آيتونو او احاديثو کې بيان شواجماع کړې ده. او همدا شان إمام أحمد چې په شاه ولي الله ابن عبد الرحيم الدهلوي «[118]» سره شهرت لري وايي: پوه شه! يقيناً نيت روح دی او عبادت جسد دی جسد پرته له روح ژوند نه لري«[119]».

نو هر عمل په نيت ولاړ دی په نيت سره عمل قبليږي، که نيت خراب ؤ عمل ضايع کيږي د دې غوره مثال دا دی لکه يو سړی چې د يوه شي د اسنادو د حاصلولو لپاره ډېر تکاليف وګالي، پيسې مصرف کړي خو وروسته يې خيال نه وي په خطاء سره هغه سند د يو عادي کاغذ په نيت سره وشلوي او له منځه يې يوسي، نو په دې وړه غلطی سره د ميليونونو پيسو تاوان او نقصان ورته ورسيږي؛ همدا شان که يو څوک

---

118 شاه ولي الله «١١١٠- ١١٧٦هـ = ١٦٩٩-١٧٦٢م»، أحمد بن عبدالرحيم الفاروقي الدهلوي الهندي، أبو عبدالعزيز، الملقب شاه ولي الله: فقيه حنفي من المحدثين، من أهل دهلي بالهند، زار الحجاز سنة «١١٤٣-١١٤٥هـ »، من كتبه: «الفوز الكبير في أصول التفسير» الفه بالفارسية. و إزالة الخفاء عن خلافة الخلفاء. و حجة البالغة. الكتاب: الأعلام للزركلي، جـ «١» صـ «١٤٩»، المكتبة الشاملة.

119 دهلوي، إمام أحمد المعروف بشاه ولي الله ابن عبد الرحيم الدهلوي الكتاب: حجة الله، ناشر دار الكتب الحديثة - مكتبة المثنى، مكان النشر القاهرة – بغداد، عدد الأجزاء: «١» جـ «١» صـ «٥٩٧».

ډېرې پیسې ولګوي حج وکړي، جهاد وکړي،علم حاصل کړي او د خلکو سره د ریانه ډک تعاملات وکړي چې نیت یې پکې خراب وي، نو دا ټول کړه وړه یې ضایع او غیر مقبول ګڼل کېږي.

## څلورم مطلب

## غیر مقصود افعالو ته د شارع له لوري نه اعتبار

دا یو ښکاره او واضح حقیقت دی چې شارع د مجنون، معتوه، مخطي، ساهي، غافل، ناسي، مکرَه او هر هغه چا تصرفاتو، افعالو او اقوالو ته اعتبار نه ورکوي چې قصد یې نفیې شوي وي لکه څرنګه چې په دې اړه الله جل جلاله فرمایي:

(لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ) «[120]».

ژباړه: نه کوي تکلیف الله جل جلاله پر هېڅ نفس باندې مګر «په اندازه د» طاقت د ده دې نفس لره «ثواب د» هغه «عمل» چې کړی ئې دی او «شته» په ده باندې «وبال» د هغه «عمل» چې کړی «ئې» دی. ای ربه زمونږ! مه نیسه مونږ که هېر کړو«حکم ستا» یا په خطاء سره وکړو «ګناه» ای ربه زمونږ! او مه باروه پرمونږ باندې درووند بار! لکه چې بار کړی ؤ تا دغه «بار» پر هغو کسانو باندې چې وو پخوا له مونږ ای ربه زمونږ! او مه باروه پرمونږ باندې هغه «تکلیف» چې نه وي هېڅ طاقت مونږ ته په هغه سره او محوه کړه «ګناهونه» له مونږه او مغفرت وکړه مونږ ته او رحم وکړه پر مونږ باندې، هم ته یې مولی«مددګار» زمونږ، نو مدد وکړه له مونږ سره! پر قوم د کافرانو باندې.

او همدا رنګه د غیر مقصوده افعالو، اقوالو او تصرفاتو په اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«عَنِ ابْنِ عُمَرَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم وُضِعَ عَنْ أُمَّتِى الْخَطَأُ وَالنِّسْيَانُ وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ» «[121]».

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زما د امت خطاء، هېره او هر هغه څه چې د زور او اکراه له امله یې تر سره کړي ښنل شوي دي «[122]».

---

120 سورة البقرة «٢٨٦».

121 السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، جـ «٦» صـ «٨٤» رقم الحديث «١١٧٨٧».

122 حكم الحديث: صَححهُ ابْن حبَان وَالْحَاكِم وَقَالَ صَحِيح عَلَى شَرط الشَّيْخَيْنِ، الكتاب: تحفة المحتاج إلى أدلة المنهاج، المؤلف: ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري «المتوفى٨٠٤هـ»، المحقق: عبد الله بن سعاف اللحياني، الناشر: دار حراء - مكة المكرمة الطبعةالأولى«١٤٠٦» عدد الأجزاء «٢»، جـ «٢»، صـ «٤٠٠».

## پنځم مطلب
## عقل

څرنګه مو چې پورته یادونه وکړه چې نیت ډېر لوړ اهمیت لري او نیت د روح او عمل د جسد حیثیت لري نو د سالم عقل غوښتنه هم دا داه چې د اصحاب العقول اختیاري اعمالو ته هغه وخت اعتبار ورکول کېږي چې د دوی د قصد او ارادې په نتیجه کې صادر شوي وي، همدا خبره شیخ الإسلام ابن تیمیة «وفات ۷۲۸هـ» رحمه الله هم د دې خبرې تأکید کوي او وايي:
«لوكُلِّف العباد أن يعملوا عملاً بغير نيَّةٍ كُلِّفوا ما لايطيقون، فإن كلّ احدٍ إذا أراد أن يعمل عمل مشروعاً أو غير مشروع فعلمه سابق إلى قلبه و ذلك هو النِّية. و إذا علم الإنسان أنه يريد الطهارة والصلاة والصوم فلابد أن ينويه، إذا علمه، ضرورة. و إنما يُتَصَوَّر عدم النِّية، إذا لم يعلم ما يريد»«[123]».
ژباړه: که چېرې بنده ګان پرته له نیت او قصد څخه په عمل کولو مکلف شي، نو دا تکلیف ما لایطاق دی ځکه هر څوک چې د یوه مشروع او یا غیر مشروع عمل او کار د کولو اراده لري د هغه کار په اړه یې علم د کار د کولو څخه د مخه حاصل شوی وي او همدا مخکینی علم چې د کار کولو څخه د مخه ورته حاصل شوی دی همدا نیت دی. او کله چې انسان په دې باندې پوه شي چې اراده د پاکی، لمونځ، او روژې لري، نو له نیت کولو څخه هېڅ چاره نه لري؛ ځکه چې په دې اړه یې علم علم ضروري دی. او د نیت نه کولو تصور هغه وخت کېدای شي چې په هغه څه باندې علم و نه لري چې اراده یې لري.
نو له همدې امله د یو انسان په قصد او نیت سره تأثیم او عدم تأثیم تکلیف اوعدم تکلیف د نیت او قصد د اندازې سره مناسب او مطابق را منځته کېږي«[124]».

123 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۸۴».

124 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۸۴».

## پنځم مبحث

## د مقصد او نیت د مشروعیت اسباب

دا یو واضح او څرګند حقیقت دی چې له یو لوري نیت د ډېر لوړ ارزښت او اهمیت څخه برخمن دی او له بل لوري ټول اعمال په نیت باندې ولاړ دي؛ نو علماوو کرامو هم د نیت لوړ ارزښت ته په کتلو سره د نیت د مشروعیت لپاره دوه مهم او ارزښتناک سببونه ذکر کړي دي، چې له امله یې نیت مشروع شوی دی چې لومړی سبب یې تمیز او توپیر په مابین د افعالو کې دی او دوهم سبب یې تقرب الی الله دی. چې د هر سبب په اړه به یې مفصل بحث په دوه بېلا بېلو مطالبو کې په لاندې توګه ذکر کړم.

### لومړی مطلب

### لومړی سبب د افعالو ترمنځ توپیر

دنیت د مشروعت لومړی سبب توپیر او تمیز په مابین د افعالو او تصرفاتو کې دی او له دې څخه هدف دادی چې د هغه افعالو او تصرفاتو تر منځ توپیر وشي چې یو د بل سره په صورت کې مشابه او په حکم کې مخالف وي او دا خبره دوه کارونو ته شامېلېږي:

**لومړی:** د عباداتو توپیر او تمیز له عاداتو څخه. لکه د بېلګې په توګه لکه ناسته په جومات کې په دې نیت چې استراحت وکړي عبادت نه ګڼل کېږي او که د اعتکاف په نیت وي عبادت شمېرل کېږي او حال دا چې د ناستې صورت په دواړو حالتونو کې یو دی. او همدا شان غُسل کول که له جنابت څخه د پاکۍ په نیت وي عبادت او که تبرد یعنې یخوالي په نیت وي نو بیا عبادت نه ګڼل کېږي او حال دا چې صورت د غُسل په دواړو صورتونو کې یو دی. او همدا شان که یو شخص خپل جال په دې موخه خور کړي چې ښکار پکې ونیسي نو که ښکار پکې بند شي مالک یې ګرځي او که یې په دې موخه خور کړي چې وچ شي نو که ښکار پکې بند شي او هغه بل چا واخیست نو د هغه څخه یې مطالبه نه شي کولای او حال دا چې د جال د خورولو صورت په دواړو صورتونو کې یو دی مګر پکې د بند شوي ښکار د ملکیت حکم تغیر کوي او داسې نور زیات مثالونه شتون لري.

**دوهم:** د عباداتو توپیر او تمیز د بعضو له بعضو نورو څخه. او یایې هم توپیر او تمیز د مراتبو. لکه د بېلګې په توګه د ماسپښین لمونځ د مازدیګر د لمونځ سره توپیر په نیت سره کېږي ځکه د دواړو لمنځونو

صورت یو دی، او همدا شان د روژې، لمونځ او اوداسه توپیر په نیت سره کېږي؛ ځکه د فرضي او نفلي عباداتو مراتب په نیت سره تعیین او محدد کېدای شي «[125]».

امام القرافي رحمه الله تعالی «[126]» وایی: چې نیت په سبب د شرع سره ممیز نه دی؛ بلکي لذاته حقیقتاً ممیز دی لکه علم چې بذاته حقیقتاً کاشف دی، نه په سبب د شرع سره او شرع همدا تمیز معتبر هم ګڼلی دی، برابره خبره ده که دا تمیز د عباداتو په برخه کې او یا هم د معاملاتو په برخه کې وي «[127]».

## دوهم مطلب

## دوهم سبب د الله ﷻ لوري ته نږدېوالی

له هغه دوګونو اسبابو څخه چې له امله یې نیت مشروع شوی دی دوهم سبب طلب التقرب الی الله تعالی ﷻ دی، په هغه افعالو او تصرفاتو کې چې یو مکلف شخص یې تر سره کوي، او په مابین د طلب التقرب الی الله تعالی ﷻ او تمیز کې کوم تعارض شتون نه لري، ځکه په تمیز سره د عباداتو، مراتبو، عاداتو، او معاملاتو ترمنځ فصل مقصود دی. او هر چې قصد التقرب الی الله تعالی ﷻ دی دا آخري سبب مشروعیت د نیت او مقصد دی. د بېلګې په توګه جهاد، امر بالمعروف نهی عن المنکر او قضاء الدین له امورو متمیزه وو څخه ګڼل کېږي او په مطلق اداء سره د مکلف مسؤلیت اداء کېږي؛ ولٰکن په مطلق اداء سره تر هغه وخته پورې ثواب او تقرب الی الله تعالی ﷻ نه حاصلېږي، تر څو یې چې په اداء سره د الله ﷻ رضاء قصد کړې نه وي بلکي ډېر ځله یې په مطلق اداء سره ګنهګارېږي او مسؤلیت ورته راجع کېږي لکه د بېلګې په توګه یو محتسب د ریاء په موخه امربالمعروف او نهي عن المنکر کوي او یا یو مجاهد د ریاء اویا د جهاد دغیر مقصوده اهدافو په موخه جهاد کوی او دېته ورته نور مثالونه عام له دې که په عباداتواو

---

125 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۸۷».

126 د امام قرافي لنډه پېژندنه: اصلي نوم یې: شهاب الدین ابوالعباس احمد بن ادریس بن عبدالرحمن، په «۶۲۶هـ» کال مصر کې دنیا ته سترګې را خلاصې کړې دي او مالکي مذهبی دی،ډېر تألیفات لري:(الفروق، الإحکام في تمییز الفتاوی عن الأحکام، القول المأنوس بتحریر ما في القاموس) او په (۶۸۴ هـ ) کې وفات شوی، کتاب: الأعلام المؤلف : خیر الدین بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الزرکلي الدمشقي «متوفی: ۱۳۹۶هـ»، ناشر: دار العلم للملایین، الطبعة الخامسة عشر - أیار/ مایو ۲۰۰۲ م جـ «۷» صـ «۱۴۱».

127 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۸۹».

يا هم په معاملاتو کې وي د اعمالو او فعالو ثواب فاسدوي بلکې ډېر ځله يې عامل او فاعل د عقاب مستحق ګرځي«[128]».

*********

******

***

128 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۹۰».

# دوهم فصل

# د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې پېژندنه

په دغه څپرکي کې به د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې د مفرداتو شرحه، مفهوم، اړونده متفرع فقهي قواعد، اړونده اصطلاحات، د قصد او نيت محل، وقت، موخه او قسام، د نيت د مشروعيت موخه، او په اړه يې مختلف نظريات، او د اسلامي فقهي موقف، ځيني اړوند مهم اړين او اساسي مسائل إن شاء الله تعالى بيان شي.

## لومړی مبحث

## قصد

قصد او نيت ته په اسلامي شريعت کې زيات ارزښت ورکړل شوی دی، او د يوه مکلف شخص ټول کړه وړه هغه که د عباداتو په برخه کې وي او يا هم د معاملاتو په برخه کې د نومړي تر قصد او نيت پورې تړاو لري او حتی د مکلف شخص ميزان د اعمالو هم د نومړي د قصد او نيت په اساس ترسره کېږي او همدا قصد دی چې د مکلف شخص د يو عمل د صحت، فساد او بطلان سبب ګرځي او شرعي احکام يې پربنياد باندې تغير کوي او حتی تر دې اندازې پورې چې په نيت سره وړوکی عمل ستر جوړېږي او مباح عملورباندې عبادت ګرځي او کله کله يواځې په نيت سره سړی د ثواب حقدار ګرځي، همدا نيت دی چې د الله ﷻ د قربت وسيله جوړېږي په نېک نيت سره عمل صالح او په بد نيت سره عمل فاسد ګرځي، نيت د اعمالو لپاره يو معيار او ترازو دی، په کومه مستوا چې نيت وي هومره به د عمل وزن هم وي.

## لومړی مطلب

## د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې د مفرداتو شرح

**لومړی جزء: الأمور:**

په «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده کې د أمور کلمه ذکر شوې ده او أمور د أمر جمع ده او د أمر لفظ په عربي ژبه کې په دوو معنی ګانو سره استعمالیږي: «[129]».

لومړی: أمر په معنی د فرمان، حکم د فعل غوښتنه، د قول غوښتنه چې دا أمر بيا په اوامرو سره جمع کېږي چې دلته په «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده کې دا معنی مقصود نه ده.

129 فقهي قواعد، صـ «٣٥».

دوهم: أمر چې په أمورو سره جمع کېږي په معنی د فعل او حال سره راځي چې په «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده کې همدا أمر مراد دی او د أمر اطلاق په فعل او قول داوړو سره کېږي. په فعل باندې خو ځکه کېږي چې د جوارحو عمل دی او په قول باندې یې ځکه اطلاق کېږي چې قول هم د افعال له جملې څخه شمېرل کېږي؛ ځکه ژبه د عمل کولو څخه سرچینه اخلي«[130]».

په «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده کې فعل د قصد سره یو ځای ذکر شوی دی یعنې: اقوال په خپلو مقاصدو پورې اړه لري. بناءً پردې چې فعل د قصد سره یو ځای ذکر شوی دی، نو هغه نیت چې د ظاهري فعل سره پیوست او یوځای نه وي شرعي احکامورباندې نه مرتب کېږي. د بېلګې په توګه که یو کس خپله مېرمن په زړه کې طلاقوي او یا خپل موټر، ځمکه، کور او داسې نور مایملک په خپل زړه کې خرڅوي او په خپله ژبه باندې وینا نه کوي، نو په دغه باطني فعل باندې حکم نه مرتبېږي، ځکه شرعي احکام ظواهرو پورې تعلق نیسي«[131]».

**دوهم جزء: مقاصد:**

مقاصد جمع د مَقْصَد ده او له قصد څخه دی او قصد د یوه کار ترسره کول لکه چې ویل کېږي: قصدته و قصدت له و قصدت الیه.

قصد، نیت، اراده، اعتماد، استقامت او توجه ټول هغه الفاظ دي چې د یوې معنی لپاره استعمالېږي چې هغه: یوه شي ته توجه او اراده کول دي. او قصد له ارادې څخه قوي ځکه دی چې لفظ د قصد په قوت د عزم او په صدق د ارادې باندې دلالت کوي«[132]».

## دوهم مطلب

## د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې مفهوم

د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې مفهوم سره له قلت د الفاظو او کلماتو یو عام او جامع مفهوم دی او په جوامع الکلم سره ترې تعبیر کېږي، ځکه په یاده قاعده کې چې کومه معنی پرته ده دا داسې وسیعه او پراخه معنی ده چې د انسان د ژوند په هره برخه کې د یوه انسان ټولو کړو وړو ته شاملېږي او د انسان کړه وړه

130 فقهي قواعد، صـ «۳۶».

131 فقهي قواعد، صـ «۳۶».

132 القواعد الفقهية الكبرى و ماتفرع عنها، صـ «۴۲».

يې له دائرې څخه نه شي وتلای؛ او دا ځکه چې لفظ د «الْأُمُور» عام دی په دليل د دخول د الف لام جنسي سره په لفظ د «أُمُورُ» باندې او همدارنګه لفظ د «مَقَاصِد» له جهته د اضافت د لفظ د «مَقَاصِد» ضمير د لفظ د عام لره؛ فلهذا مغز او هدف د دغه قاعدې دا دی چې: د مکلف ټول کارونه او تصرفات هغه که قولي وي او يا فعلي او ياهم دنيوي وي او يا اخروي نتائج او شرعي احکام يې د مکلف د نيت او مقصود په اختلاف سره مختلف کېږي«133».

دا څرګنده ده چې دلته د أمورو د ذواتو څخه بحث نه کېږي، بلکې د أمورو د احکامو په اړه بحث کېږي نو له همدې امله ځينې علماء پورتنۍ ذکر شوې قاعده په دې ډول مقدره کوي «أَحْكَامُ الأمور بِمَقَاصِدِ فَاعِلِهَا» يعني د امورو احکام د هغې د فاعل مقاصدو پورې تعلق لري«134».

## دريم مطلب

## د «الأمور بمقاصدها» فقهي قاعدې لاندې مهم متفرع فقهي قواعد

څرنګه چې دا يوه کره او پخه خبره ده چې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده يوه جامعه او عامه قاعده بلل کېږي او په جوامع الکلم سره ترې تعبير کېږي، نو د يادې قاعدې لاندې ګڼ شمېر متفرع قواعد هم شتون لري چې ځينې مهم يې په لاندې ډول دي:

1. لَا ثَوَابَ إِلَّا بِالنِّيَّةِ«135».

ژباړه: پرته له نيت څخه ثواب نشته.

د بېلګې په توګه که قاضي د خپل جاه، عزت، قدرت، سمعت، رياء او په خلکو باندې د خپل راج او واک چلولو په نيت قضاء کوي، نوموړی په دې نيت سره د ثواب پر ځای د ګناه مرتکب کېږي، او که چېرې يې قصد او نيت په قضاء سره تقرب الی الله او تحقق د عدل ؤ په مابين د خلکو کې نو نوموړي ته بيا په دې عمل سره ثواب ورکول کېږي.

---

133 القواعد الفقهية الكبرى و ماتفرع عنها، صـ «٤٣».

134 فقهي قواعد، صـ «٣٥».

135 نجيم، علامة الشيخ زين العابدين بن ابراهيم بن محمد الشهير بابن نُجيم، كتاب: الأشباه والنظائر على مذهب ابي حنيفة النعمان، ناشر: دارالكتب العلمية بيروت لبنان، الطبعة الأولى «١٤١٩هـ ١٩٩٩م» صـ «١٧».

او همدارنګه شیخ سعدي «[136]» «رحمه الله» په خپل يو نظم کې د نيت په اړه وايي:

النية شرط لسائر العمل بها الصلاح والفساد للعمل «[137]».

ژباړه: نيت د ټولو اعمالو لپاره شرط دی، په همدې نيت سره د عمل صحت او فساد څرګندېږي.

2. الْعِبْرَةُ فِي الْعُقُودِ لِلْمَقَاصِدِ وَالْمَعَانِي لَا لِلْأَلْفَاظِ وَالْمَبَانِي«[138]».

ژباړه: په تړونونو کې معنی وې او موخې اعتبار لري، الفاظ، توري او شکليات اعتبار نه لري.

مطلب دا چې په عقودو او تړونونو کې الفاظ او کليمات نه شي کولای مقاصد او معاني بدل کړي، په دې معنی چې د الفاظو بدلېدل را بدلېدل د عقودو او معاملاتو اصلي مقاصد او معاني بدلولای نشي، که په الفاظو کې تغير هم راشي عقود د هغه مقاصدو څخه نه شي اړولای چې شرعاً ترې مراد وي، او شرعاً ورته وضع شوي وي او هغو الفاظو ته نه کتل کېږي کوم چې عاقدان استعمالوي په وخت د عقد کې بلکې د دوی هغو اصلي او حقيقي مقاصدو ته کتل کېږي چې د عقد په صيغه کې د دوی مراد وي، ځکه حقيقي موخه لفظ نه دی او نه کارول شوې صيغه ده، بلکې معنی ده او الفاظ خو صرف د معانيو لپاره قالبونه دي؛ خو دا د دې معنی نه لري چې الفاظ په کلي توګه ملغی او مهمل وګرځول شي، ځکه الفاظ د معانيوو لپاره تعبير کوونکي دي نو تر ممکن حد پورې بايد د الفاظو ظاهري معنی مراعات شي. اما کله چې د الفاظو ظاهري معنی او هغه مقاصد او معاني چې عاقدينو په خپلو عقودو کې د هغې قصد کړی وي جمع يې ناشونې شي نو په دې وخت کې هغه مقصودي معانيو او مقاصدو ته اعتبار ورکول کېږي او د الفاظو جانب مهمل کېږي د بېلګې په توګه لکه يو شخص له دکان دار څخه يو من بوره واخلي او ورته ووايي چې دا زما ساعت د تر هغه وخت ستا سره امانت وي چې تر څو زه د دغه بورې پيسې درته راوړم؛ نو دا ساعت له دکان دار سره د امانت حکم نه بلکې د رهن حکم لري، نو دکان دار دا حق لري چې همدا ساعت تر هغه وخت له ځان سره وساتي چې تر څو يې خپل حق «ثمن دمبيعې» نه دي تر لاسه کړي، ځکه که چېرې يې حکم

---

136 د سعدي لنډه پېژندنه: «۱۳۰۷-۱۳۷۶هـ = ۱۸۹۰- ۱۹۵۶م»، عبدالرحمن بن ناصر بن عبدالله، سعدي، تميمي، د حنابله علماوو له جملې څخه يو مفسر عالم ؤ، تولد او وفات يې په عنيزه«قصيم» کې شوي دي، د تأليفاتو له جملې څخه يې ځينې دا دي: تفسير تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان، تيسير اللطيف المنان في خلاصة مقاصد القرآن، القواعد الحسان في تفسير القرآن او داسې نور. عمر بن رضا بن محمد راغب بن عبدالغني المتوفى «۱۴۰۸هـ» معجم المؤلفين، ناشر: مكتبة المثنى- بيروت، دار احياء التراث، العربي بيروت، جـ «۱۳» صـ «۳۹۶».

137 الكتاب: مجموعة القوائد البهية على منظومة القواعد البهية، مؤلف: صالح بن محمد بن حسن الأسمري، الناشر: دارالصميعي، للنشر والتوزيع، الطبعة الأولي «۱۴۲۰هـ ۲۰۰۰م»، عدد الأجزاء «۱»، جـ «۱»، صـ «۳۴».

138 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۶» رقم المادة «۳».

حکم د امانت وای نو مشتری بیا حق درلود چې مخکې له دې چې ثمن د مبيعې اداء کړي خپل ساعت تر لاسه کړي ځکه چې په امانت کې په امين باندې اعاده واجبه ده.«[139]».

3. دَلِيلُ الشَّيْءِ فِي الْأُمُورِ الْبَاطِنَةِ يَقُومُ مَقَامَهُ«[140]».

ژباړه: په پټو چارو کې د يوه شي دليل د هغه په ځای ودريږي.

مطلب دا چې که د يوه شي په حقيقت باندې اطلاع حاصلول ګران کار وي؛ نو د هغه د وجود په اثبات به په هغه شي حکم کېږي چې ظاهراً د هغه په شتون دليل وي، يعني که د يو معدوم شي د وجود اسباب وليدل شي، د هغه په وجود حکم کېږي لکه د بېلګې په توګه: يو شخص له بل شخص څخه يو حيوان واخلي؛ نو کله چې په هغه کې عيب ويني؛ نو درملنه يې وکړي، دلته د نوموړي حيوان په عيب باندې رضايت يو باطني شی دی چې انسان ترې اطلاع نه شي حاصلولای، اما ظاهري سبب چې د عيب په رضايت باندې دلالت کوي هغه د مشتري درملنه ده«[141]».

4. لَا عِبْرَةَ لِلدَّلَالَةِ فِي مُقَابَلَةِ التَّصْرِيحِ«[142]».

ژباړه: د صريح په وړاندې دلالت اعتبار نه لري.

د دې قاعدې څخه هدف او مفهوم دا دی چې تصريح د دلالت نه قوي ده او دلالة الحال د صريح په وړاندې کمزوری دی، په همدې بنسټ کله چې د دلالت او صراحت تر منځ ټکر راشي؛ نو صراحت ته اعتبار ورکول کېږي او دلالت له پامه غورځول کېږي؛ خو که چېرته په يوه مسئله که صريح حکم نه وي هلته بيا دلالت قبلېږي، ځکه بيا د صريح حکم لري، له همدې امله ځينې اصولي پوهانو داسې څرګنده ونه کړې ده: «الثابت بالدلالة مثل الثابت بالنص» يعني هر هغه څه چې په دلالت سره ثابت شي حکم يې داسې دی لکه په نص سره چې ثابت شي.

د صريح پېژندنه: په حقيقت کې دا قاعده او دې ته ورته نورې قاعدې لکه: الْأَصْلُ فِي الْكَلَامِ الْحَقِيقَةُ«١٢». لَا مَسَاغَ لِلِاجْتِهَادِ فِي مَوْرِدِ النَّصِّ«١۴».الْمُطْلَقُ يَجْرِي عَلَى إطْلَاقِهِ إذَا لَمْ يَقُمْ دَلِيلُ التَّقْيِيدِ نَصًّا أَوْ دَلَالَةً«۶۴». د اصول فقهې قاعدې دي؛ خو مجلة الأحكام د فقهي قواعدو په لړ کې ځکه وړاندې کړې دي چې له يو

---

139 على حيدر، كتاب: دررالحكام شرح مجلة الأحكام، ناشر: دارعالم الكتب للطباعة والنشر والتوزيع الرياض، الطبعة «١۴٢٣هـ ٢٠٠٣م» جـ «١» صـ «٢١».

140 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «١» صـ «٢۴» رقم المادة «۶٨».

141 دررالحكام شرح مجلة الأحكام، جـ «١» صـ «۶٨».

142 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «١» صـ «١٧» رقم المادة «١٣».

لوري په فقهي کتابونو کې د دې استعمال زيات دی او له بل لوري ورته اړتيا او ضرورت زيات دی؛ نو غوره به دا وي چې دلته د صريح لپاره د اصول فقهې د علماوو تعريف ذکر شي او هغوی صريح داسې تعريفوي:

الصريح اسم الکلام مکشوف المراد منه بسبب کثرة الإستعمال حقيقة کان أو مجازا«[143]».

ژباړه: صريح هغه کلام ته ويل کېږي چې مراد يې په سبب د کثرت استعمال سره په مکمله توګه ښکاره او واضح وي که د مراد معنی حقيقي وي او که مجازي وي.

د صريح د حقيقي معنی لپاره بېلګه لکه: «أنتِ طالق» دا لفظ د نکاح له منځه وړلو په برخه کې يو شرعي صريح حقيقت دی.

د صريح د مجازي معنی لپاره بېلګه لکه: څرنګه چې الله ﷻ د سورت يوسف په «۸۲» آيت کريمه کې فرمايي: «وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ» دا صريح که څه هم چې مجازي دی ځکه له دې څخه په صراحت سره ښکاري چې دلته د کلي څخه مراد اوسېدونکي د کلي دي.

د صريح حکم: د صريح موجب پرته له نيت څخه ثابتېږي، د دې مطلب دا دی چې حکم په نفس کلام پورې اړه نيسي او د متکلم په نيت او قصد پورې نه متوقف کېږي، که د معنی نيت يې کړی وي او کنه، ځکه معنی يې ډېره څرګنده ده لکه د طلاق لفظ چې شارع د بېلتون لپاره سبب ګرځولی دی د قضاء له لحاظه به د طلاق په لفظ کې چې مجرد تلفظ وکړي حکم يې ثابتېږي په دې شرط چې د طلاق د صحت نور شرائط پوره وي. که طالق د دې ادعاء وکړي چې زما مطلب له لفظ د طلاق څخه يوائې او يوائې د قيد څخه آزادول ؤ نو دا خبره يې نه منل کېږي ځکه د طلاق په برخه که دا لفظ ډېر صريح دی له همدې وجهې قاضي په ظاهر باندې فيصله کوي.

او همدارنګه د بېلګې په توګه: که يو شخص بل شخص ته مال هبه کړي او هغه يې قبض کړي د هبې عقد په دې وخت کې د مال په قبض کولو سره د دلالت له حيثه منعقد کېږي. او که واهب موهوب له د قبض څخه مخکې په صراحت سره منع کړ، نو دلته د دلالت حکم ساقطېږي او هبه باطلېږي که د صريحې نهې څخه يې وروسته مال قبض کړ غاصب بلل کېږي او د غاصب احکام ورباندې پلي کېږي. او همدا شان د معمول او عادت له مخې وديع د وديعت له مال سره سفر کولای شي؛ مګر که مودع يې په صراحت سره منع کړي نو بيا د وديعت له مال سره د سفر کولو حق نه لري، ځکه صريح د دلالت څخه ډېر قوي دی. او

143 التعريفات جـ «۱»، صـ «۱۷۴».

همدارنګه که یو انسان د چا کور ته داخل شي او وګوري چې په دسترخوان باندې اوبه په ګیلاس کې ایښې دي او نوموړی د دغه اوبو د څښلو په نیت دا ګیلاس را پورته کړي او په همدې وخت کې ترې ګیلاس ولوېږي او مات شي؛ نو د تاوان مسؤلیت نه لري، ځکه نوموړی په دلالة الحال سره د ابو د څښلو اجازه لري او دا په خلاف د هغه حالت دی چې د کور خاوند یې په صراحت سره نوموړی د ابو د څښلو څخه منع کړي چې په دې صورت کې به یې تاوان ورکوي، ځکه تصریح د دلالة الحال حکم باطل کړ. او همدې ته ورته که مشتري د بایع په مخکې مبیعه قبض کړي او بایع سکوت وکړي دا د قبض کولو لپاره اجازه ګڼل کېږي«[144]».

## څلورم مطلب

## د بعضو مربوطه اصطلاحاتو پېژندنه

**لومړی نیت:**

النية في اللغة «مصدر الفعل: نوى ينوى، كضرب يضرب، وأصلها: نَوْيَة على وزن فَعْلَة، اجتمت الواو والياء في كليمة واحدة، وسبقت إحداهما بالسكون، فقلبت الواو ياءً، وأدغمت في الياء ومعناها العزم على الشيء، يقال: نويت نية ونواة أى عزمتُ» «[145]».

ژباړه: نیّت په لغت کې د فعل "نوی ینوی" مصدر دی، لکه څنګه چې د "ضرب یضرب" په وزن دی. د هغې اصل "نَوْيَة" دی، چې د "فَعْلَة" په وزن جوړ شوی. په دې کې واو او یاء په یوه کلمه کې سره یوځای شوي، او له هغو څخه یوه د سکون په حالت کې ده. نو، واو په یاء بدله شوې او په یاء کې مدغمه شوې ده. د نیّت معنا د یو شي اراده کول دي. ویل کېږي: "نویت نیة" او "نواة"، یعني ما اراده وکړه.

و في الإصطلاح: قصد الطاعة والتقرب إلى الله تعالى بإيجاد الفعل أو الإمتناع عنه.

ژباړه: نیت په اصطلاح کې د اطاعت او د الله تعالی قرب ته د نیت کولو اراده، چې یا د عمل ترسره کولو لپاره وي یا د هغه د نه ترسره کولو لپاره.

---

144 فقهي قواعد، صـ «۱۹۵».

145 القواعد الفقهية الكبرى و ماتفرع عنها، صـ «۴۷».

او یا هم په بل عبارت سره: قصد كليٌ نسبيٌ شاملٌ للعزم والقصد المتقدم على الفعل أو المقارن له في بعض احواله«[146]».

ژباړه: ژباړه: او یا هم په بل عبارت: نیت هغه کلي او نسبي قصد دی چې د عمل له ترسره کولو وړاندې یا په ځینو حالاتو کې د عمل سره په یو وخت کې د عزم او ارادې شاملولو معنا ورکوي.

**دوهم إراده:**

الإرادة في اللغة: هي الطلب، والإختيار، والمشيئة. و في الإصطلاح: الإرادة صفة توجب للحي حالا يقع منه الفعل على وجه، دون وجه، وفي الحقيقة هي: ما لا يتعلق دائما إلا بالمعدوم فإنها صفة تخصص أمرا ما لحصوله ووجوده، كما قال الله تعالى: (إنما أمره إذا أراد شيئا أن يقول له كن فيكون)«[147]».

ژباړه: ژباړه: اراده په لغت کې د غوښتنې، انتخاب، او مشیئت په معنا ده. او په اصطلاح کې: اراده هغه صفت دی چې یو ژوندي موجود ته داسې حالت ورپه برخه کوي، چې د یوه عمل ترسره کول په ځانګړي ډول غوره کړي. په حقیقت کې اراده یوازې د هغه څه سره تړاو لري چې لا تر اوسه نه وي ترسره شوي، ځکه دا هغه صفت دی چې یو شي د ترسره کېدو او شتون لپاره ځانګړی کوي. لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: (إنما أمره إذا أراد شيئا أن يقول له كن فيكون).

یعنې: د الله امر داسې دی چې کله یو څه اراده وکړي، نو ورته وایي: "وشه" نو هغه شي ترسره کېږي.

**دریم إذعان:**

الإذعان عزم القلب والعزم جزم الإرادة بغير تردد «[148]».

ژباړه: ژباړه: إذعان په لغت کې: د زړه پریکنده اراده ده، او عزم د زړه هغه قوي پرېکړه ده چې بې له شک او تردد ترسره کېږي.

**څلورم إذن:**

146 القواعد الفقهية الكبرى و ماتفرع عنها، صـ «۴۷».

147 التعريفات الجرجاني، صـ «۳۰»

148 التعريفات الجرجاني، صـ «۳۰»

الإذن في اللغة: الإعلام. وفي الشرع فك الحجر وإطلاق التصرف، لمن كان ممنوعا شرعا«[149]».

ژباړه: إذن په لغت کې: د خبر ورکولو په معنا دی. او په شرع کې: إذن د بند د لرې کولو او د هغه چا لپاره د تصرف اجازه ورکولو ته ویل کیږي چې مخکې یې په شرعي توګه اجازه نه لرله.

**پنځم عزم:**

العزم: عقد القلب على إمضاء الأمر ومنه قول الله تعالى: ولا تعزموا عقدة النكاح«[150]».

ژباړه: عزم د زړه هغه پریکړه ده چې یو کار ترسره کولو ته بشپړه اراده وکړي. لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: (ولا تعزموا عقدة النكاح) یعني د نکاح تړلو پرېکړه مه کوئ.

## دوهم مبحث

## نیت

دا یو ښکاره او واضح حقیقت دی چې د مسلمان نیت په هر عمل کې زیات اهمیت لري نیت د روح په مثال او اعمال د جسد، نیت د عمل لپاره د ونې د ريښو په شان او اعمال د ونې د ښاخونو په شان دي، نو ځکه نیت ډېر مهم دی که مو نیت صحیح ؤ نو عمل مو هم صحیح او ثواب وربانديې مرتب دی او که نیت مو فاسد شو نو عمل د ریاء، سمعت او پټ شرک حیثیت خپلوي، نو په هر مکلف شخص لازمه ده چې په هره برخه کې هغه که عبادات وي او که معاملات وي د خپل نیت په صحت کې نهائي کوښښ وکړي، د هر چا چې نیت ښه شو او باطن یې صالح شو نو د دنیا او آخرت کامیابي او سرلوړي یې په برخه شوه. او د چا چې نیت فاسد شو نو په دنیا او آخرت کې تاواني شو؛ نو نیت په ټولو کړو وړو کې ډېر لوړ ارزښت لري نو مونږ باید همېشه د خپلو د نیتونو د اصلاح او خلوص لپاره کار وکړو، او د خپل ژوند په هره برخه کې مو خپل نیتونه اصلاح کړو؛ترڅو د دارينو کاميابي مو الله ﷻ نصيب کړي.

149 التعريفات الجرجاني، صـ «٣٠»

150 التوقيف على مهمات التعاريف، صـ «٥١٣».

## لومړی مطلب

## نیت اساس د عمل دی

نیت که په ټولو بابونو د فقه کې داخل نه دی بلکې په اکثریت بابونو د فقه کې داخل دی حتی تر دې پورې چې ابن نجیم «رحمه الله» نیت په اخروي اعمالو کې اولینۍ قاعده د قواعد فقه کبری څخه ګرځولی دی چې هغه دا قاعده ده:

«لَا ثَوَابَ إِلَّا بِالنِّيَّةِ» «[151]».

ژباړه: پرته له نیت څخه ثواب نشته.

ابن نجیم «رحمه الله» چې کله ولیدل چې ګڼ شمیر احکام او عبادات تر نیت پورې متوقف دي؛ نو له همدې جهته يې د نیت تقدم په ټولو اعمالو باندې واجب کړ او همدا نیت يې د ټولو اعمالو لپاره لومړنی رکن وګرځولو.

## دوهم مطلب

## نیت ته د قرآنکریم پاملرنه

څرنګه چې نیت ډېر لوړ ارزښت او مقام لري، نو له همدې امله قرآنکریم هم نیت ته زیاته پاملرنه کړې ده او قرآنکریم د نیت څخه په مختلفو الفاظو باندې تعبیر کړی دی، چې ټول يې په نیت، قصد او اخلاص باندې دلالت کوي لکه څرنګه چې الله ﷻ په قرآن کریم په لاندې توګه فرمايلي دي:

1. (وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ) «[152]».

ژباړه: او نه وو حکم شوی دوی ته مګر دا چې عبادت کوی د الله ﷻ په خاصه (خالصه) توګه د الله ﷻ د پاره د هغه، دین راګرځېدونکي (د شرکه او نفاقه) او چې قائموي لمونځ او چې ورکوي زکات او دا دی دین (د الله ﷻ) قائم (مضبوط).

---

151 الأشباه والنظائر على مذهب ابي حنيفة النعمان، صـ «١٧».

152 سورة البينة «٥».

2. (إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ) «[153]».

ژباړه: بېشکه نازل کړی مو دی تاته «ای محمده!» کتاب «قرآن» په حقه سره پس عبادت کوه د الله ﷻ حال دا چې خالص کوونکی وې دغه « الله ﷻ» ته د دین «خپل له شرک».

3. (قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ) «[154]».

ژباړه: ووایه «محمده!» بېشکه! زه امر کړی شوی دی ماته د دې چې عبادت کوم یواځې د الله ﷻ چې خالص کوونکی یم ده ته د دین.

4. (قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ) «[155]».

ژباړه: ووایه «ای محمده! » امر کړی دی رب زما په قسط «عدل» سره چې سم واړوئ«برابرکړئ» تاسو مخونه خپل «عبادت د الله ﷻ ته» په نزد «د وخت» د هر لمانځه او وبولئ «عبادت کوئ» تاسي د ده حال دا چې مطیع خالص کوونکی اوسئ ده ته دین خپل« له عجب او ریاء» لکه چې اول خلې پیدا کړی یی تاسي، بیا به هم داسي پیدا شئ تاسي.

5. (وَإِذَا غَشِيَهُمْ مَوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمَا يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ) «[156]».

ژباړه: او کله چې لاندې کړي دغه «کفار» یو موج لکه وریځې نو بولي دوی الله ﷻ په داسې حال کې خالص کوونکي وي دوی خاص الله ﷻ ته د دین خپل، پس کله چې نجات ورکړي دوی ته الله ﷻ طرف د وچې ته نو ځیني د دوی ولاړ وي په «هم هغې» لارې سمي او انکار نه کوي له دلائلو د قدرت زمونږ مګر هر هغه چې ډېر عهد ماتوونکي غدار زیات ناشکره وي.

6. (فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ) «[157]».

---

153 سورة الزمر «٢».

154 سورة الزمر «١١».

155 سورة الأعراف «٢٩».

156 سورة لقمان «٣٢».

157 سورة غافر «١٤».

ژباړه: پس وبولئ تاسي الله ﷻ په داسي حال کي چي خالص کوونکي اوسئ دغه «الله ﷻ» ته د دين «له شرکه» او اګر که بد ګني دغه کافران «دغه اخلاص ستاسي».

7. (هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) «[158]».

ژباړه: هم دی ژوندی دی «تل په يو حال باقي قائم»، نشته بل هيڅوک لائق د عبادت مګر هم دی يواځې پس وبولئ هم دی چي خالص کوونکي يئ تاسي خاص دغه «الله ﷻ» لره دين ټوله ثنا ده خاص الله ﷻ لره چي رب او پالونکی د ټولو عالميانو دی.

## دريم مطلب

## نيت ته د سنت نبوي «ﷺ» پاملرنه

څرنګه مو چي مخکي د دي يادونه کړي ده چي نيت ډېر لوړ ارزښت او مقام لري، نو له همدې امله قرآنکريم هم نيت ته زياته پاملرنه کړې ده، همدا شان سنت نبوي «ﷺ» هم نيت ته زياته پاملرنه کړې ده او نبي کريم ﷺ نيت د ټول اعمالو د صحت لپاره شرط ګرځولی دی لکه څرنګه چي فرمايي:

1. «عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ» «159».

ژباړه: له عمر بن الخطاب «رضی الله تعالی عنه» څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د عملونو صحت او عدم صحت په نيت پورې تړاو لري، او هر انسان لره هغه څه دي چي د هغه نيت يې کړی دی پس هر هغه څوک چي هجرت يې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لپاره ؤ، نو هجرت يې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لپاره دی او هر هغه څوک چي هجرت يې د دنيا لپاره ؤ هغه ورته

---

158 سورة غافر «۶۵».

159 الكتباب: الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم و سننه و أيامه = صحيح البخاري، المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، المحقق، محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبدالباقي)، الطبعة الأولى «۱۴۲۲هـ»، عدد الأجزاء«۹»، جـ «۱»، صـ «۲۰». رقم الحديث «۵۴».

ورسېدله او يا د ښځې لپاره ؤ هغه يې په نکاح کړه؛ نو هجرت يې د هغه څه لپاه ؤ چې د څه په نيت يې هجرت کړی ؤ.

او همدا شان د مطلق نيت د ارزښت او اهميت په باره کې زيات احاديث راغلي دي چې ځيني يې په لاندې ډول دي:

1. «يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ عَلَى نِيَّاتِهِمْ» «[160]».

ژباړه: يقيناً خلک به په ورځ د محشر الله جل جلاله له خپلو نيتونو سره را پاڅوي.

2. عَنْ يَحْيَى بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ عَنْ جَدِّهِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ غَزَا وَهُوَ لاَيَنْنوِي فِي غزاته إِلَّا عِقَالًا فَلَهُ مَا نَوى«[161]».

ژباړه: له يَحْيَى بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ عَنْ جَدِّهِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه څخه روايت دی: وايي: چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هر هغه څوک چې غزا کوي او نيت يې«عِقَال» يعنې هغه رسۍ وي چې سړی اوښ پرې تړي، نو دغه غزا کوونکي لره فقط هغه څه دي چې نيت او قصد يې کړی دی. په پورتني حديث کې باعث والي او هڅول په دې باندې دي چې په غزا او جهاد کې به غنيمت په نظر کې نه نيسي بلکې غزا به خاص دالله جل جلاله لپاره وي«[162]».

3. «عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ» «[163]».

ژباړه: له بي هريرة رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله جل جلاله ستاسو صورتونو او شکلونو او مالونو ته نه ګوري، بلکې ستاسو زړونو او اعمالو ته ګوري.

## څلوم مطلب

160 الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، جـ «۸» صـ «۱۶۸» رقم الحديث «۷۴۲۶».

161 الكتاب: المستدرك على الصحيحين، المؤلف: محمد بن عبد الله أبو عبد الله الحاكم النيسابوري، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة الأولى «۱۴۱۱-۱۹۹۰»، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، عدد الأجزاء «۴»، جـ «۲»، صـ «۱۲۰»، رقم الحديث «۲۵۲۲».

162 حكم الحديث: صحيح الإسناد و لم يخرجاه، الكتاب: المستدرك على الصحيحين، المؤلف: محمد بن عبد الله أبو عبد الله الحاكم النيسابوري، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة الأولى «۱۹۹۰-۱۴۱۱»، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، عدد الأجزاء «۴»، جـ «۲»، صـ «۱۲۰».

163 الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، جـ «۸» صـ «۱۱» رقم الحديث «۶۷۰۸».

## د قصد او نیت محل او ځای

د نیت د محل په اړه عام اهل علم وايي: چې د نیت محل قلب دی، او ځیني بیا وايي: چې د نیت محل دماغ او یا ژبه ده، او دلیل یي دا دی چې کله دماغ ته څه زیان ورسېږي عقل فاسدېږي او علم، نظر، فکر او احوال النفس باطلېږي، نو دا دلالت کوي په دې چې محل د نیت له انواعو د اراداتو د دماغ څخه دی نه د قلب څخه؛ ځکه که چېرې د نیت محل قلب وای نو که دماغ ته کوم آفت او زیان رسېدلای نو نیت به نه ترې متأثر کېدلای خو دا قول شاذ دی او همدا قول قرافي هم رد کړی دی او وايي:

«أن استقامة الدماغ لعلها شرط، والشيء قد يفسد لفساد محله، و قد يفسد لفساد شرطه، و مع الاحتمال فلا جزم».«[164]».

ژباړه: کېدای شي د دماغ صحت شرط وي او یو شی کله کله د فساد دمحل له وجهې فاسېدېږي او کله کله د شرط د فساد له وجهې فاسدېږي؛ نو سره له احتماله اصلاً یقین شتون نه لري.

د علماوو او عقلاوو په دې باندې اجماع ده چې د نیت محل قلب دی نه دماغ او ژبه او دا رایه عام اهل علم تأییدوي او وايي چې د نیت محل قلب دی ځکه چې په اړه یې زیات نصوص له کتاب الله او سنت نبوي ﷺ څخه شتون لري چې په لاندې توګه د یادوني وړ دي:

**لومړی جزء: قرآنکریم:**

1. (وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلَى وَلَكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَى كُلِّ جَبَلٍ مِنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ) «[165]».

ژباړه: او یاد کړه ای محمده! هغه وخت چې وویل ابراهیم: ای ربه زما و ښایه ماته چې څرنګه ژوندي کوې ته مړي؟ وویل الله جل جلاله: ایا ستا لا باور نشته «په ژوندي کولو د مړو؟ بیا» وویل ابراهیم چې هو! او لٰکن «غواړم دا» د دې لپاره چې مطمئن شي زړه زما. وویل الله جل جلاله نو ونیسه! څلور له مرغانو نه پس رانېږدې کړه! دوی ځان خپل ته «چې ښه یې وپېژني بیا یې حلال کړه!» بیا یې کېږده! په هر یوه غره

164 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «١» صـ «١٥٦».

165 سورة البقره «٢٦٠».

باندې له دوی ځینې یوه یوه برخه بیا «ای ابراهیمه!» را وبوله! دوی رابه شي دوی تاته په منډو، او پوه شه! چې بېشکه! الله ﷻ ډېر غالب دی ښه حکمت والا دی.

2. (إِنَّ فِي ذَلِكَ لَذِكْرَى لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ)«[166]».

ژباړه: بېشکه په دغو مذکورو شیانو کې خامخا ذکر او پند دی هر هغه چا لره چې وي هغه لره زړه، یا کېږدي غوږ «نصیحت ته» او چې هغه حاضر، متوجه وي په زړه سره.

3. (نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ«١٩٣»عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ) «١٩٤»«[167]».

ژباړه: نازل شوی دی په دغه قرآن سره روح امانتګر«یعني راوړی دی دا قرآن جبریل الامین» په زړه ستا دپاره د دې چې شي ته له وېروونکو«خلقو له عذابه د الله ﷻ».

4. (مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ وَلَكِنْ مَنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ) «[168]».

ژباړه: هر څوک چې کافر شو په الله ﷻ وروسته له ایمان راوړلو د ده «نو پرې غضب دی دالله ﷻ» مګر هغه څوک چې زور پرې وکړی شو، حال دا چې زړه د ده آرام نیونکی وي په ایمان سره ولٰکن هغه څوک چې ارته کړي په کفر سره سینه «خپله چې راضي شي پرې اعتقاداً» نو پر دوی باندې غضب دی له طرفه د الله ﷻ او شته دوی ته عذاب لوی «اخروي په سبب د ارتداد».

5. (لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ) «[169]».

ژباړه: نه نیسي تاسې الله ﷻ په لغو «او په ګمان» سره په قسمونو ستاسې کې او لٰکن نیسي الله ﷻ تاسې په هغه «قسم» چې قصد کړی وي «د هغه» زړونو ستاسې او الله ﷻ ښه مغفرت کوونکی ښه تحمل کوونکی دی.

---

166 سورة ق «٣٧».

167 سورة الشعراء «١٩٣-١٩٤».

168 سورة النحل «١٠٦».

169 سورة البقرة «٢٢٥».

په پورتنيو مواردو کې اصلاً هېڅکله د دماغ يادونه و نه شوه او همدا موارد په دې دلالت کوي چې محل د نيت زړه دی نه دماغ اوالله ﷻ استقامت د دماغ شرط گرځولی لپاره د حصول د احوالو د عقل او قلب په وجه د استقامت سره.

**دوهم جزء: سنت نبوي «ﷺ»:**

څرنگه چې په پورتنيو قرآني آيتونو کې دا په ښکاره توگه څرگنده شوه چې د نيت محل قلب ده نه دماغ او ژبه او په اړه يې گڼ شمېر دلائل هم ذکر شول، نو سنت نبويﷺ هم دا په ډاگه کوي چې د نيت محل زړه دی نه دماغ او ژبه او په دې اړه نبي کريم ﷺ فرمايي:

1. «أَلاَ وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلاَ وَهِيَ الْقَلْبُ» «[170]».

ژباړه: خبر دار! د انسان په جسد کې يوه ټوټه ده، چې کله دا صالحه شي نو ټول جسد صالح شي او که چې دا يوه ټوټه فاسده شي نو ټول بدن فاسد شي خبردار! دا زړه دی.

2. «عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ» «[171]».

ژباړه: له بي هريرة رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله ﷻ ستاسو صورتونو او شکلونو او مالونو ته نه گوري، بلکې ستاسو زړونو او اعمالو ته گوري.

نو له پورتنيو احاديثو څخه په ښکاره توگه معلومېږي چې د نيت محل قلب «زړه» دی نه دماغ او ژبه ځکه په پورتنيو احاديثو کې په صراحت سره ترې يادونه شوې ده.

او د يادونې وړه ده چې امام ابن تيمية رحمه الله تعالی څخه نقل شوي دي چې د ټولو علماوو په دې باندې اتفاق دی چې د نيت محل قلب دی او يواځې په ژبه سره تلفظ کول پرته له نيت څخه کفايت نه کوي اما برعکس د دې چې تلفظ له قلب سره شرط نه دی او همدا شان له نبي کريم ﷺ او اصحابو څخه يې تلفظ

---

170 الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، جـ «٥» صـ «٥٠» رقم الحديث «٤١٧٨».

171 الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم، جـ «٨» صـ «١١» رقم الحديث «٦٧٠٨».

په نیت سره نه په قوي حدیث شریف سره او نه هم په ضعیف حدیث سره پرته له حج څخه نه دی نقل شوی«[172]».

او همدارنګه جمهور علماء وایي چې محل د نیت زړه دی او د نیت له ژبې سره کوم تعلق نشته؛ ځکه نیت عبارت له قصد څخه دی او محل د قصد زړه دی «[173]».

## پنځم مطلب

## د قصد او نیت وخت

څرنګه مو چې د قصد اونیت محل او ځای و پېژندلو چې زړه دی، نو اوس لازمه ده چې د قصد او نیت وخت هم وپېژنو، نو د قصد او نیت په وخت کې اصل خبره دا ده چې قصد او نیت باید دهغه اعمالو او افعالو په ابتداء کې شتون ولري کوم چې  د مکلف له لوري ترسره کېږي، برابره خبره ده که دا عبادات وي او که غیر له عباداتو څخه وي، ځکه تأخیر د قصد او نیت په عباداتو او غیر عباداتو کې له یو لوري په دې معنی دی چې د عمل د اجزاوو څخه لوموړی جز له نیت څخه خالي پاتې شو او له بل لوري تر سره شوي اعمال په مابین د قربت او غیر قربت کې په متردد حالت کې پاتې شول، نو مقصود له وقت د نیت څخه ابتداء د عمل ده په تعیین د نیت سره او له استمرار د نیت څخه په اعمالو کې هم چاره نشته مګر همدا استمرار د نیت په اندازه د امکان، کیفیت، استطاعت او په عباداتو او معاملاتو کې د موضوع سره د مناسبت په اساس او بنیاد ترسره کېږي.

د نیت او قصد به برخه کې دا یو اصل او ضابط دی چې نیت او قصد به په ابتداء د عمل کې شتون لري، همدې اصل ته په کتو سره نیت په دوه ډوله دی: ۱- حکمي نیت ۲- حقیقي نیت چې د هر یوه تفصیل په لاندې توګه دی:

**لومړی:** حکمي نیت: چې امام أبي حنیفة «وفات ۱۵۰هـ ق» او صاحبینو یې یادونه کړې ده د بېلګې په توګه که یو شخص د خپل اودس په جریان کې د دې نیت وکړي چې په دغه اودس سره به د امام سره په جماعت د ماسپښین او یا مازدیګر لمونځ اداء کوم او له دغه اودس څخه وروسته په داسې یو کار سره مشغول نه شي چې هغه د لمونځ له جنس څخه نه وي، نو په همدې مخکیني نیت سره چې د اودس په

172 القواعد الفقهية الكبرى و ماتفرع عنها، صـ «٥١».

173 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «١٢١».

جريان کې يې کړی دی لمونځ کول جاز دي اګر که په ابتداء د لمونځ کې هم حاضر نه شي، نو په دغه صورت کې نيت لکه د هغه روژې د نيت په شان حکماً شتون لري چې صائم پکې خپل نيت نه وي بدل کړی؛ ځکه د مخکيني نيت ابقاء حکماً شتون لري. د دې څخه هدف او مقصد دا دی چې د نيت او عمل تر منځ د فاصل اجنبي د معدوميت په صورت کې تقدم د نيت په عمل باندې يو جائز عمل دی. او حنابله هم په همدې نظر دي خو البته حنابله وو په عمل باندې د نيت د تقدم په صورت کې دا شرط لګولی دی چې د نيت او عمل ترمنځ بايد فصل زمن يسير «لږ وخت» وي او دليل يې قياس په روژه دی او همدا شان تقدم د نيت په فعل سره په دې دليل نه دی چې فعل منوي نه دی او نه هم په دې دليل دی چې فاعل مخلص نه دی يعنې فعل له منوي توب او فاعل له مخلص توب څخه نه خارجوي.

شوافعو د عباداتو په برخه کې د تقدم دنيت څخه منع کړې ده، مګر نه هغه چې د حاجت او ضرورت په موخه پکې د نيت تقدم صورت نيولي وي لکه روژه او زکات.

خلاصه دا چې د نيت تأخير په عباداتو کې او ګرځول يې په مابين د عباداتو کې دا د پورتني اصل او ضابط سره يو مخالف امر دی، لٰکن په ډېره محدوده ساحه کې تأخير د نيت جائز بلل شوی دی کله د ورځې د يوې برخې د تېرېدو په صورت کې د نفلي روژې نيت کول جائز دي.

**دوهم:** حقيقي نيت: حقيقي نيت له هغه اوقاتو د نيت څخه عبارت دی چې د اول جز د اجزاؤ د فعل سره متصل، مقارن او پيوسته وي لکه: د اوداسه نيت د مخ د مينځلو سره سم ترسره شي«[174]».

## شپږم مطلب

## د نيت هدف او مقصد

څرنګه چې نيت او مقصد ډېر لوړ ارزښت لري نو لازمه ده چې د نيت او مقصد په حقيقي هدف او موخه باندې پوه شوچې له نيت څخه هدف او موخه دوه امور دي:

**لومړی هدف او مقصد:**

د نيت څخه لومړی هدف او مقصد دا دی چې توپير د عباداتو له عاداتو څخه وشي لکه د بېلګې په توګه ويلای شو چې په جومات کې د استراحت په موخه ناسته عبادت نه ګڼل کېږي او که همدا ناسته د اعتکاف

174 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «١٢٤».

په نیت تر سره شي عبادت ګڼل کیږي او د همدې یوې ناستې کیفیت یواځې نیت له عادت څخه په عبادت او له عبادت څخه په عادت بدلوي.

همدا شان د نیت په اساس د معاملاتو په نوعیت او حکم کې هم توپیر او تغیر راتلای شي لکه د بېلګې په توګه که یو شخص په لاره کې یو شی پیدا کړي او په دې نیت واخلي چې خاوند ته یې بېرته سپاري؛ نو دا شی د دې شخص په لاس کې د امانت حیثیت خپلوي، نو که احیاناً همدا شی پرته له کوم تقصیر او تیري څخه د نوموړي شخص په لاس کې تلف شي، نو دی یې اصلي مالک ته د تاوان ورکولو ضامن نه دی اما که همدا ورک شوي شی همدا شخص په دې نیت له ځمکې څخه را اوچت کړي چې ځان ته یې واخلي، نو نوموړی شخص غاصب ګڼل کیږي او که د نوموړي شخص په لاس کې پرته له کوم تقصیر او زیاتي څخه هم تلف شي نو نوموړی شخص ضامن دی لکه څرنګه چې په دې اړه د مجلة الأحکام العدلیه «۷۶۹» داسې صراحت لري:

إذَا وَجَدَ شَخْصٌ شَيْئًا فِي الطَّرِيقِ أَوْ فِي مَحِلٍّ آخَرَ وَأَخَذَهُ عَلَى سَبِيْلِ التَّمَلُّكِ يَكُونُ فِي حُكْمِ الْغَاصِبِ، وَعَلَى هَذَا إذَا هَلَكَ ذَلِكَ الْمَالُ أَوْ فُقِدَ يَضْمَنُهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فِيْهِ صُنْعٌ وَتَقْصِيرٌ، وَأَمَّا إذَا أَخَذَهُ عَلَى أَنْ يَرُدَّهُ لِصَاحِبِهِ فَإِنْ كَانَ صَاحِبُهُ مَعْلُومًا فَهُوَ فِي يَدِهِ أَمَانَةٌ مَحْضَةٌ، وَيَجِبُ عَلَيْهِ تَسْلِيمُهُ إلَى صَاحِبِهِ، وَإِنْ كَانَ صَاحِبُهُ غَيْرَ مَعْلُومٍ فَهُوَ لُقَطَةٌ وَأَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُلْتَقِطِ«[175]».

**دوهم هدف او مقصد:**

له نیت څخه دوهم هدف او مقصد دا دی چې د بعضو عباداتو توپیر د بعضو نورو څخه وشي لکه د بېلګې په توګه په نیت سره تقرب الی الله ته د فرائضو، واجباتو او نوافلو په درسته اداء سره ترسره کیږي او د دوی ترمنځ توپیر یواځې په نیت سره ترسره کیږي لکه د بېلګې په توګه ویلای شو لکه یو شخص د خپل مال یوه حصه فقیر او یا مسکین ته د صدقې په نیت ورکوي نو دا صدقه ده او د نوافلو له جملې څخه ګڼل کیږي او که د فرضي زکات د اداء په نیت یې ورکوي، نو همدا ورکړه فرضي زکات ګڼل کیږي او که همدا شان یو شخص د لوی اختر په ورځ پسه د صدقې په نیت ذبح کړي صدقه ګڼل کیږي او که یې د واجبې اضحیې په نیت یې ذبح کړي واجبه اضحیه ګڼل کیږي او حال دا چې د ذبح کیفیت یو دی مګر د

175 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۱۴۵» رقم المادة «۷۶۹».

نیت او قصد په تغیر سره یې په حکم کې هم تغیر راځي چې په نتیجه کې د همدې نیت په اساس سره د عباداتو تر منځ یعني د فرائضو، واجباتو او نوافلو تر منځ تمیز او توپیر کېدای شي«[176]».

## اووم مطلب

## د نیت حققیت

د نیت د حقیقت په اړه امام الزرکشي «[177]» رحمه الله وايي: «حقيقة النية ربط القصد بمقصود معين، والمشهور أنها مطلق القصد إلى الفعل»«[178]».
ژباړه: حقیقت د نیت تړاو د نیت دی تر یو معین او مشخص مقصود پورې. او مشهوره خبره دا ده چې حقیقت د نیت مطلق د یو فعل قصد کولو څخه عبارت دی.
او امام الماوردي «[179]» رحمه الله د نیت د حقیقت په اړه وايي: هي قصد الشيء مقترناً بفعله، فإن قصده و تراخي عنه فهو عزم«[180]».
ژباړه: حقیقت د نیت د یوه شي د هغه قصد څخه عبارت دی چې تر فعل پورې مقترن او پیوسته وي او که چېرې د یوه شي قصد وشي او په کولو کې یې تأخیر راشي نو دا عزم دی.
امام النووي«[181]» رحمه الله نیت بیا داسې تعریف کړی دی: «النية قصد الشيء مقترناً بفعله»«[182]».

---

176 القواعد الفقهية الكبرى و ماتفرع عنها، صـ «۵۲».

177 د امام زرکشي لنډه پېژندنه: «۷۴۵-۷۹۴ هـ = ۱۳۴۴-۱۳۹۲م»، محمد د بهادر زوی، ابو عبدالله بدرالدين، اصولي او شافعي مذهبه فقهي عالم دی، نوموړی ترکي الاصل دی، چې د هغه د کتابونو له جملې څخه: «الاجابة لايراد ما استدركته عائشة على الصحابة ـ ط»، «لقطة العجلان – ط»، او په اصول فقه کې البحر المحيط في اصول الفقه، اعلام الساجد باحكام المساجد، الديباج في توضيح المنهاج، مجموعة الفقه، التنقيح لألفاظ الجامع الصحيح، ربيع الغزلان، عقود الجمان، تصنيفات لري، «الاعلام للزركلي جـ «۶» صـ «۶۱».

178 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «۱» صـ «۱۴۵».

179 د امام ماوردي لنډه پېژندن: علي بن محمد ابوالحسن ماوردي د غښتليو قوي علماوو څخه دی؛ چې ډیر تألیقات ئي درلودل د بصري په ښار ۳۶۴ هـ ق کال کي زیږیدلي دي وروسته ئي بغداد ته سفر وکړ په مختلفو ښارونو کي د قاضی په توګه دنده اجراء کړیده چې په بغداد کي په ۴۵۰ هـ ق کال وفات شوي دي الاعلام للزركلی: جـ «۴» صـ «۳۲۷».

180 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «۱» صـ «۱۴۵».

181 امام نووي لنډه پېژندنه: يحيى بن شرف بن مري بن حسن الحزامي الحوراني، النووي، الشافعيّ، أبو زكريا، محيي الدين دی، په فقه او حدیث کې علامه او په (۶۳۱ه) کال د سوریې په (نوا) کلي کې زیږېدلی، په دمشق کې یې زده کړې کړې دي، ډیرې لیکنې لري، لکه: " تهذيب الأسماء واللغات "، " منهاج الطالبين "، " الدقائق " او"المنهاج في شرح صحيح مسلم " الزركلي الأعلام. جـ «۸» صـ «۱۴۹».

182 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «۱» صـ «۱۴۹».

ژباړه: د يوه شي قصد کول چې په فعل پورې مقترن او پيوسته وي عبارت له نيت څخه دي.

فقهاوو رحمهم الله د نيت لپاره دوه ډوله مفهوم يعني عام مفهوم او خاص مفهوم ذکر کړی دی چې پوره تفصيل يې په لاندې ډول دی.

امام البيضاوي «[183]» د نيت د عام مفهوم په اړه فرمايي: «هوانبعاث القلب نحو ما يراه موافقاً لغرض من جلب نفع أو دفع ضر حالاً او مالاً»«[184]».

ژباړه: د نيت عام مفهوم د زړه د هغه ميلان څخه عبارت دی چې د ګټې د ترلاسه کولو او يا د زيان د مخنيوي په موخه يې د يو هدف لپاره په اوس او يا هم آينده کې مناسب وګڼي.

د يادونې وړ ده چې په عام مفهوم سره له نيت څخه هدف او مراد تميز په محتمل کې دی لکه تميز د تصرفاتو او عباداتو له مباحاتو څخه او يا هم تميز د بعضو عباداتو له بعضو نورو څخه او د نيت همدا عام مفهوم د نيت لپاره اطلاق اکثري دی.

او هر چې د نيت خاص معنی او مفهوم دی هغه عبارت دی: «فهو قصد الطاعة والتقرب إلى الله تعالى بإيجاد الفعل أو الإمتناع عنه، او هو: توجه الإرادة نحوالفعل لابتغاء رضاء الله و إمتثال حکمه».

ژباړه: نيت خاص مفهوم سره: د الله متعال د اطاعت او تقرب په نيت د يوه کارکول او يا يې له کولو څخه امتناع ده. او يا هم په بل عبارت: د الله متعال د رضاء او د حکم د امتثال له وجهې د يوه کار د کولو اراده کول دي.

د بېلګې په توګه ويلای شو چې کله مديون دائن ته د خپل دين له جنس څخه لس زره افغانۍ ورکړي دا ورکړه د تمليک، هبې، وديعت، قرض او اداء د دين او داسې نور احتمالات لري، نو په داسې حالاتو کې د نيت څخه هېڅ چاره نشته تر څو تميز د إقباض د دين له نورو انواعو د إقباض څخه راشي او په دې حالت کې نيت د تقرب شرط نه دی.

---

183 د امام بيضاوي لنده پېژندند: هو العلامة المفسر قاضي القضاة، ناصر الدين، أبو الخير (و قيل أبو سيعد) عبدالله بن عمر بن علي البيضاوي الشرازي، الشافعي، هذه النسبة إلى بيضاء و هي بلدة من بلاد فارس. لم تذکر المصادر سنة ولادته. و توفي بمدينة تبريز قال السبکي والإسنوي توفي سنة «۶۹۱هـ» و قال ابن کثير وغيره توفي سنة «۶۸۵هـ». قال السيوطي في «بغية الوعاء» کان إماما علّامة، عارفا بالفقه والأصلين والعربية والمنطق، نظّارا صالحا، متعبِّد، شافعيا. و من اهم مصنفاته: المنهاج في أصول الفقه، الإيضاح في أصول الدين، لب اللباب في علم الإعراب، تهذيب لأخلاق في التصوف و أنوار التنزيل و أسرار التأويل (البيضاوي) في التفسير. الکتاب: أنوار التنزيل و اسرار التأويل، المؤلف: ناصر الدين أبو سيعد عبدالله بن عمر بن محمد الشرازي البيضاوي، المتوفی: «۶۸۵هـ»، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، الطبعة الأولی: «۱۴۱۸هـ»، جـ «۱»، صـ «۹».

184 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «۱» صـ «۱۴۷».

او همدا شان له طعام څخه امساک کله د پرهېز او تداوي په نیت وي او کله بیا د الله متعال د امر د استجابت په نیت وي چې بیا عبادت ګرځي.
او همدا شان ورکړه د مال د زکات، صدقي، کفارې او داسي نورو اهدافو او اغراضو په موخه کېږي؛ نو د اهدافو او اغراضو تر منځ تفکیک او تمیز پرته له نیت څخه ممکن نه دي.
د نیت په معنی کې د فقهاوو عبارات مختلف دي مګر اکثره فقهاوو له نیت څخه تعبیر په قصد سره کړی دی لکه څرنګه چې مخکې ترې یادونه وشوه.«[185]».

185 موسوعة القواعد الفقهية، جـ «١» صـ «١۴۶».

## اتم مطلب

## د قصد اقسام

قصد او یا نیت په مختلفو اعتباراتو او حیثیتونو سره مختلف اقسام او انواع لري چې مهم یې په لاندې ډول دي:

**لومړی: په خارج کې د وجود او تحقق له حیثه:**

نیات او مقاصد په خارج کې د وجود او تحقق له حیثه په دوه ډوله یعني حقیقي او حکمي سره وېشل کېږي چې په حقیقي سره مراد او هدف دا دی چې له فعل سره موجود او متحقق وي.او له حکمي څخه مراد او هدف دا دی چې معدوم وي او له فعل سره غیر متحقق وي ولٰکن د شارع له لوري یې په استمرار او بقاء باندې تر هغه وخت پورې حکم شوی وي تر څو چې د حقیقي نیت ناقض شتون و نه لري. او د حقیقي نیت لپاره دا شرط ده چې په اول د عباداتو کې باید شتون ولري او استمرار یې شرط نه دی له جهته د مشقت او د حکمی نیت استمرار د اول دعبادت څخه تر آخر د عبادت پورې شرط دی.

د بېلګې په توګه ویلای شو کله چې یو مکلف شخص په ابتداء د لمونځ کې نیت وکړي او په جریان د لمونځ کې له نیت څخه غافل شي نو شرع یې حکم په بقاء د نیت سره کوي لکه څرنګه چې حکم کوي په بقاء د اخلاص، ایمان، کفر، نفاق، ریاء، او داسې نور له حالاتو د زړه څخه «[186]».

**دوهم: په حقیقت د عبادت کې د دخول او عدم دخول له حیثه:**

د پورتني اعتبار په اساس نیت علماوو په دوه قسمه یعني رکن او شرط ته تقسیم کړی دی نو هغه نیت چې په عبادت کې رکن وي نو همدا نیت د عبادت یو جزء حسابېږي او په عبادت کې په شان د ارکانو داخل دی، نو له همدې امله اکثر علماء په دې اند دي چې نیت په عباداتو کې رکن دی، او هغه نیت چې په عباداتو کې شرط وي نو ځینې علماوو یې په اړه د دې یادونه کړې ده چې عبادت پرته له نیت څخه هم درست او صحیح دی؛ مګرثواب پرې نه مترب کېږي خو په هر حال که نیت معتبر ؤ په صحت د عبادت کې نو دا رکن دی او هغه اعمال چې پرته له نیت څخه هم درست او صحیح وو ولٰکن حصول د ثواب تر نیت پورې موقوف ؤ د بېلګې په توګه لکه مباحات او له معاصیو څخه بندېدل او داسې نور نو په دې کې نیت د تقرب د حصول د ثواب لپاره شرط دی، لکه یو څوک پدې خاطرغلا نه کوي چې هدف او نیت یې پکې تقرب او

186 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «١٠٥».

تقوی وي ولٰکن قوي او اشده اړتیا هم ورته لري، مګر بل شخص په دې خاطر غلا نه کوي چې نه توانېږي«187».

دا چې نیت په عباداتو کې شرط دی او که رکن؟ دا یوه اختلافي مسئله ده د احنافو په اند په عباداتو کې نیت کول شرط دي حتی ابن نُجیم رحمه الله وایي: په اتفاق د اصحابو سره په عباداتو کې نیت کول شرط دي او رکن نه دي مګر یواځې په تکبیر احرام کې اختلاف شوی؛ خو معتمده خبره دا ده چې هغه هم شرط دی او له بل لوري ډېرو شوافعو بیا دا نظر غوره کړی دی چې نیت کول په عباداتو کې رکن دی شیخین «نووي او رافعي «[188]» رحمهما الله» ویلي دي: نیت کول په لمانځه کې رکن دي او په روژه کې شرط دي«189».

**دریم: د نیت او قصد د متعلَق «منوي» له حیثه:**

په پورتني اعتبار سره نیت د خپل متلعق او یا منوي په اساس هم په دوه قسمه یعني اجمالي نیت او تیفصیلي نیت سره وېشل کېږي.

**لومړی:** اجمالي نیت: النیة الإجمالیة: هي النیة التي لا تتناول تفصیلات العبادات أو غیرها، مما یحتاج إلی النیة، کالإیمان بالله ورسوله ﷺ، إذا یکتفي في ذالک شهادة أن لا إله إلا الله، و أن محمداً رسول الله ﷺ مع التصدیق بما جاء عنه «190».

نو هر هغه څوک چې ایمان په الله ﷻ، ملائکو، کتابونو، رسولانو، آخرت، قدر خیر او شر او بعث بعدالموت باندې ایمان راوړي نو پر نوموړي د مسلمان حکم کولو لپاره همدا کفایت کوي او د اجمالي شیانو په تفصیلاتو کې نیت ته اړتیا نشته او همدا رنګه د بېلګې په توګه د لمونځ کوونکي نیت د لمونځ کولو لپاره نیت او قصد د لمونځ، نوع او تعیین د نوع کفایت کوي او پر لمونځ کوونکي باندې دا لازمه نه ده چې د لمونځ د ټول جزیاتو او تفصیلاتو لکه: قرائت، قیام، رکوع، سجدې او داسې نورو لپاره نیت وکړي.

**دوهم:** تفصیلي نیت: له تفصیلي نیت څخه مقصود او هدف د مماثلو او مشابه صورتونو تمیز او تفکیک دی لکه د بېلګې په توګه هغه فرضي لمونځ چې صورت یې له نفلي لمونځ سره توپیر ونه لري او یا هم د

---

187 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «١٠٦».

188 د رافعي لنډه پېژندنه: پوره نوم یې: عبد الکریم بن محمد بن عبد الکریم، أبو القاسم الرافعي القزویني دی، د لویو شافعي فقهاء څخه ګڼل کېږي، په (قزوین) کې یې د حدیث او تفسیر مجلس درلود، ډیري لیکني لري لکه: " المحرر"، " فتح العزیز في شرح الوجیز للغزالي " ا و " شرح مسند الشافعيّ " په (٥٥٧هـ) کې تولد او په (٦٢٣هـ) کې په قزوین کې وفات شوی دی. الزرکلي. الاعلام. جـ «٤» صـ «٥٥».

189 فقهي قواعد، صـ «٤٠».

190 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «١٠٧».

ماسپښنین د لمونځ صورت د مازدیګر د لمونځ سره توپیر نه لري او همدا شان هغه نفقات چې د واجب صورت یې له مسنون صورت سره پوپیر نه لري او داسې نور، نو په داسې امورو کې د مقصود فعل د تحدید او تعیین څخه هېڅ چاره نشته نو په همدې اساس د مطلق لمونځ نیت کفایت نه کوي او نه هم د مطلق نفقې نیت کفایت کوي بلکې په مکلف باندې لازمه ده چې د خپل مقصود مطابق یې مقیده کړي«191».

**څلورم: د نیت په سبب د تمیز او توپیر له حیثه:**

شیخ الإسلام ابن تیمیة «وفات ۷۲۸هـ» رحمه الله وایي د نیت په سبب د تمیز او توپیر له حیثه نیت په دوه قسمه دی لومړی هغه نیت دی چې: عمل له عمل څخه او یا هم عبادت له عبادت څخه تفکیک او تمیز کوي. لکه څرنګه چې مخکې ترې یادونه شوې ده. دوهم قسم هغه نیت دی چې: معبود له معبود او معمول له معمول څخه تفکیک او تمیز کوي لکه یو شخص یو نېک عمل خاص د الله متعال ﷻ د رضاء په موخه تر سره کوي او یا یې د ریاء سمعت په موخه او نیت تر سره کوي، او همدا شان د بېلګې په توګه ویلای شو چې یو شخص د اعلاء کلمة اله په نیت او موخه قتال کوي او یا یې د عصبیت، شجاعت، سمعت او ریاء په موخه کوي.او همدا شان انفاق د خپل مال او یا د یو حیوان ذبح کول الله متعال ﷻ ته د تقرب په نیت او یا هم مخلوق ته د تقرب په نیت چې نیتجه کې د همدې نیت په اساس د معبود له معبود سره او د معمول له معمول سره تفکیک او تمیز راځي. او دا تقسیم د هغه دووه سببونو پر بنیاد بناء دی چې له امله یې نیت مشروع شوی دی چې عبارت له تمیز او تقرب إلی الله څخه دي«192».

**پنځم: د فعل سره د مقصود د تعلق له حیثه:**

په دې اعتبار سره نیات او مقاصد په دوه قسمه وېشل کېږي چې لومړی یې د یوعمل د حکم اثبات او دوهم یې د یوعمل د فضیلت له اثبات څخه عبارت دي چې د پوره او کامل وضاحت په موخه د لاندې بېلګو څخه یاونه کول اړین بولم:

**لومړی:** د یو عمل د حکم د اثبات نیت په وخت د فقدان د نیت کې په فقدان د حکم کې تأثیر کوي یعنې کله چې د نیت فقدان راغی نو د حکم فقدان هم راځي یا په بل عبارت که چې فقدان د نیت راشي نو عمل لره اصلاً حکم نشته لکه د بېلګې په توګه: لمونځ، روژه او داسې نور مقصوده فرائض هر کله چې دغه اعمال

---

191 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۱۰۷».

192 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۱۰۸».

له نیت څخه عاري شي نو دغه اعمالو لره اصلاً هیڅ حکم نه ثابتیږي نو په دغه حالت او صورت کې یې وجود او عدم یو شان دي.

**دوهم:** د یوعمل د فضیلت د اثبات نیت په وخت د فقدان د نیت کې په فقدان د حکم کې تأثیر نه لري لکه د بېلګې په توګه له نجاست څخه د جامو او بدن پرېمینځل او یا هم غوسل د جنابت څخه او یا هم اودس د ځینو په اند لٰکن که یې په اودس سره نیت د لمونځ ؤ نو دا یو مثبت نیت دی او فضیلت لري او متوضي په همدې نیت سره د ثواب مستحق ګرځی او که نیت د لمونځ پکې معدوم شي نو دا معدومیت حکم د اودس ته کوم ضرر نه رسوي؛ ځکه طهارت متحقق دی برابره خبره ده که نیت پکې موجود او یا هم معدوم وي«193».

**شپږم: د ظاهر لفظ سره د موافقت او مخالفت له حیثه:**

د ظاهر لفظ سره د موافقت او مخالفت په اعتبار هم نیت په دوه قسمه یعني نیت مؤکده او نیت مخصَّصه سره وېشل کیږي اودا تقسیم هغه تقسیم دی کوم چې امام قرافي «وفات ۶۸۴هـ» رحمه الله په خپل کتاب الفروق کې ذکر کړی دی چې د هر یو قسم پوره تفصیل په لاندې ډول دی:

**لومړی:** نیت مؤکده: عبارت له هغه نیت څخه دی چې نیت د لفظ سره په کامله معنی موافقت ولري لکه د بېګې په توګه یو شخص قسم وکړي چې زما د قسم په الله متعال ﷻ وي چې زه به نن په موټر کې نه سپرېږم نو که یې نیت د عموم کړی ؤ یعني چې په هېڅ موټر کې به نه سپرېږم نو دا نیت نیت مؤکده دی ځکه چې دا نیت یې مطابق او موافق د مدلول د لفظ سره دی، نو که په هر نوع موټر کې سپور شي حانث کیږي ځکه چې نیت او لفظ دواړه د دې غوښتنه او تقضی کوي.

**دوهم:** نیت مخصَّصه: نیت مخصَّصه عبارت له هغه نیت څخه دی چې د مدلول د لفظ سره مخالف وي لکه د بېلګې په توګه یو شخص قسم وکړي چې زما د په الله متعال ﷻ سره قسم وي چې زه به نن جامې نه اغوندم او بیا ووایي چې په دې سره مې نیت د تورو جامو اغوستل ؤ ځکه چې زما نه خوښیږي نو دا نیت نیت مخصَّصه دي، ځکه چې د لفظ د بعض مدلول سره مخالفت لري او د مخصّص لپاره د مستثنی منه سره منافات شرط بلل شوی دی «194».

193 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۱۰۸».

194 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۱۰۹».

## دريم مبحث

## د قصد او نيت تعارض له صريح لفظ سره

څرنګه چې د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې غوښتنه او تقاضی دا ده چې د يو مکلف شخص د ټولو کړو وړو او تصرفاتو عام له دې چې هغه عبادات، معاملات او ياهم غير دي اساس او بنسټ مقاصد او نيات ګڼل کيږي؛ مګر کله کله د مقاصدو خفاء او عدم وضوح منځته را ځي او ښکاره علامات لکه نطق او داسې نور د مکلف د مقصد د دعوی سره په تعارض کې راځي؛ او دا ځکه چې د مکلف مقصود او منوي يو خفي او باطني امر دی خو همدا خفي او باطني امر چې مکلف يې يو قسم ادعا کوی مګر ښکاره علامات او لفظ د نوموړي شخص همدا خفي او باطني امر بل قسم څرګندوي؛ نو لازمه ده چې د دغه موضوع د پوره وضاحت او تفصيل په اړه د باطني ارادې نظريه، ظاهري ارادې نظريه او همدا شان په دې اړه د اسلامي فقهي موقف څرګند شي.

## لومړی مطلب

## د باطني ارادې نظريه

په باطني ارادي نظريې سره مقصد او مراد هغه څه دي چې په هغې باندې نيت موافق وي او زړه يې هوډ کړی وي او د دغې نظريې په اساس او بنياد باندې اراده د هر نوع تصرف مغز او ستنې ده او د الفاظو تعبير ورته کوم زيان نه رسوي او نه يې له خپل جوهريت څخه خارجوي، نو په همدې ارادې سره قانوني اثار او احکام مرتب کيږي، نو کله چې تعبير او الفاظ د ارادې يعنې قصد او نيت سره موافق او مطابق وو عمل پرې کيږي او کله چې بيا تعبير او الفاظ د ارادې يعنې نيت او قصد سره په ټکر او اختلاف کې راشي نو بيا تعبير او الفاظ پرېښودل کيږي لکه څرنګه چې د مجلة الأحكام العدلية لاندې ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

الْعِبْرَةُ فِي الْعُقُودِ لِلْمَقَاصِدِ وَالْمَعَانِي لَا لِلْأَلْفَاظِ وَالْمَبَانِي«[195]».

ژباړه: په تړونونو کې معناوې او موخې اعتبار لري، الفاظ، توري او شکليات اعتبار نه لري.

195 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «١» صـ «١٦» رقم المادة «٣».

له پورتنۍ مادې څخه هدف او مقصد دا دی چې په عقودو او تړونونو کې الفاظ او کلمات نه شي کولای مقاصد او معاني بدل کړي، بلکې د دوی هغو اصلي او حقیقي مقاصدو ته کتل کېږي چې د عقد په صیغه کې د دوی مراد وي، ځکه حقیقي موخه لفظ نه دی او نه کارول شوې صیغه ده، بلکې معنی ده او الفاظ خو صرف د معانیوو لپاره قالبونه دي؛ خو دا د دې معنی نه لري چې الفاظ په کلي توګه ملغی او مهمل وګرځول شي، ځکه الفاظ د معانیوو لپاره تعبیر کوونکي دي نو تر ممکن حد پورې باید د الفاظو ظاهري معنی مراعات شي. اما کله چې د الفاظو ظاهري معنی او هغه مقاصد او معاني چې عاقدینو په خپلو عقودو کې د هغې قصد کړی وي جمع یې ناشوني شي نو په دې وخت کې هغه مقصودي معانیو او مقاصدو ته اعتبار ورکول کېږي او د الفاظو جانب مهمل کېږي د بېلګې په توګه لکه یو شخص له دکان دار څخه یو من بوره واخلي او ورته ووایي چې دا زما ساعت د تر هغه وخت ستا سره امانت وي چې تر څو زه د دغه بورې پیسې درته راوړم؛ نو دا ساعت له دکان دار سره د امانت حکم نه بلکې د رهن حکم لري، نو دکان دار دا حق لري چې همدا ساعت تر هغه وخته له ځان سره وساتي چې تر څو یې خپل حق «ثمن دمبیعي» نه دي تر لاسه کړې؛ ځکه که چېرې یې حکم د امانت وای نو مشتری بیا حق درلود چې مخکې له دې چې ثمن د مبیعې اداء کړي خپله ګړی تر لاسه کړي ځکه چې په امانت کې په امین باندې اعاده واجبه ده.«[196]».

او همدا شان د نبي کریم ﷺ لاندینی مبارک حدیث شریف د مجلة الأحكام العدلیه له پورتنی قاعدې څخه هم اعم او شامل دی:

«عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ» «197».

ژباړه: له عمر بن الخطاب «رضی الله تعالی عنه» څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د عملونو صحت او عدم صحت په نیت پورې تړاو لري، او هر انسان لره هغه څه دي چې د هغه نیت یې کړی دی پس هر هغه څوک چې هجرت یې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لپاره ؤ، نو هجرت یې د

---

196 دررالحکام شرح مجلة الأحكام، جـ «۱» صـ «۲۱».

197 الكتباب: الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم و سننه و أيامه = صحيح البخاري، المؤلف: محمد بن إسماعيل أبوعبدالله البخاري الجعفي، المحقق، محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم ترقيم محمد فؤاد عبدالباقي)، الطبعة الأولى «۱۴۲۲هـ»، عدد الأجزاء«۹»، جـ «۱»، صـ «۲۰». رقم الحديث «۵۴».

الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لپاره دی، او هر هغه څوک چې هجرت يې د دنيا لپاره ؤ هغه ورته ورسېدله او يا د ښځي لپاره ؤ هغه يې په نكاح كړه؛ نو هجرت يې د هغه څه لپاه ؤ چې د څه په نيت يې هجرت كړی ؤ.

نو څرنګه چې دا يو واضح او ښکاره حقيقت دی چې اعتبار مقصد او ارادې ته دی نه الفاظو ته نو په همدې اساس د انګورو خرڅول او بيعه كه چېرې بايع په دې پوه شي چې مشتري چې كوم انګور زما څخه اخلي شراب ترې جوړوي باطله ګڼل كيږي، او حالاً چې د بيع په الفاظو كې د بطلان هېڅ اثر شتون نه لري مګر اعتبار ارادې او مقصد ته دی او الفاظ په ټوله معنی د ارادې سره په ټكر كې دي مګر په دې حالت كې يوازې ارادې او مقصد ته اعتبار وركړل شوی دی نه الفاظو ته او همدا شان د فتنې په وخت كې د سلاح بيع او يا هم په قطاع الطريق او محاربينو باندې د سلاح بيع نو كله چې بائع د مشتري په شوم هدف او مقصد پوه شي نو بيا همدا صحيح او مشروع بيع په باطله بيع بدلېږي او د صحيح بيع الفاظو ته هېڅ نوع كتنه نه كيږي او نه هم اعتبار وركول كيږي او همدا شان بيع العينة:«[198]». همدا شان بطلان د زواج المحلِّل كله يې چې عاقد په شوم قصد باندې پوه شي او داسې نور، نو د باطني ارادې نظريې په اساس دا ټول هغه څه دي چې په دې باندې دلالت كوي چې كله د نيت او لفظ ترمنځ تعارض راشي نو اعتبار نيت ته وركول كيږي او لفظ كوم اعتبار نه خپلوي.

## دوهم مطلب

## د ظاهري ارادې نظريه

د ظاهري ارادې نظريې په اساس ظاهري اراده چې د ويوونكي له تعبير څخه را منځته شوې اراده بلل كيږي او همدا اراده په ابرام د عقودو كې قانوني اعتبار لري اګر كه د مكلف شخص له نيت او باطني ارادې سره موافقت هم و نه لري؛ ځكه په شريعت كې «إِضَافَةُ الْأَحْكَامِ إِلَى الأَسْبَابِ الظَّاهِرَةِ» يو منل شوی اصل دی او همدا شان په دې اړه د مجلة الأحكام العدلية لاندې ماده داسې صراحت لري:

198 هو أن يبيع غيرَه شيئاً بثمن مؤجل و يسلمه إليه ثم يشتريه قبل قبض الثّمن بأقل من ذلك الثمن نقداً. عثماني، محمدتقي، كتاب، فقه البيوع على المذاهب الأربعة مع تطبيقاته المعاصرة مقارناً بالقوانين الوضعية، ناشر: مكتبة المعارف القرآن كراتيشي باكستان، الطبعة: ربيع الأول، ۱۴۳۶هـ يناير،۲۰۱۵عـ، جـ «۱» صـ «۵۴۷».

دَلِيلُ الشَّيْءِ فِي الأمور الْبَاطِنَةِ يَقُومُ مَقَامَهُ«[199]».
ژباړه: په پټو چارو کې د یوه شي دلیل د هغه په ځای ودرېږي.
مطلب دا چې که د يوه شي په حقيقت باندې اطلاع حاصلول ګران کار وي؛ نو د هغه د وجود به اثبات په هغه شي حکم کېږي چې ظاهراً د هغه په شتون دليل وي، يعني که د يو معدوم شي د وجود اسباب وليدل شي، د هغه په وجود حکم کېږي لکه د بېلګې په توګه: يو شخص له بل شخص څخه يو حيوان واخلي؛ نو کله چې په هغه کې عيب ووينې؛ نو درملنه يې وکړي، دلته د نوموړي حيوان په عيب باندې رضايت يو باطني شی دی چې انسان ترې اطلاع نه شي حاصلولای، اما ظاهري سبب چې د عيب په رضايت باندې دلالت کوي هغه د مشتري درملنه ده«[200]».
نو له همدې امله د بعضو باحثينو رأيه هم دا ده چې اسلامي فقهې هم د ظاهري ارادې نظريې ته مخه کړې ده او په همدې بنياد يې د محلّل د نکاح په صحت او د مرض الموت د مريض په طلاق او په دَيْن اقرار او داسې نور درست او صحيح بللی دي«[201]».

## دريم مطلب

## د مقصد او صريح لفظ د تعارض په هکله د اسلامي فقهې موقف

د مقصد او صريح لفظ د تعارض موضوع يو مهمه او سخته مسئله ده، او په اړه يې دقيقه اطلاع حاصلول يو سخت او ستونزمن کار دی، چې په دې اړه د باطني ارادې نظريه چې مخکې مو ترې يادونه وکړه په مطلق ډول اراده په نظر کې نيسي، او بيا د ظاهري ارادې نظريه بالعکس مطلق الفاظ په نظر کې نيسي چې د هرې نظريې خاوندان خپل دلائل لري چې مخکې مو ترې يادونه وکړه، مګر اسلامي فقه د مقصد او صريح لفظ د تعارض په اړه يوه معتدله لار غوره کوي، چې نه مطلق اراده په نظر کې نيسي او نه مطلق لفظ بلکې دواړه په نظر کې نيسي، او دا يو اساس بولي چې د فقهي احکامو بناء په مقاصدو او نياتو سره ده لکه څرنګه چې د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعده هم د دې مطلب غوښتنه او تقضا کوي او همدا

199 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «١» صـ «٢٤» رقم المادة «٦٨».
200 دررالحكام شرح مجلة الأحكام، جـ «١» صـ «٦٨».
201 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «١٣٢».

رنګه د نبي کریم ﷺ لاندې حدیث شریف هم د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مطلب غوښتنه او تقضا کوي:

«عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَلِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ» «202».

نو څرنګه چې مقاصد او نیات له خفي او باطني امورو څخه شمېرل کېږي نو په اړه یې دقیقه او کره اطلاع حاصلول سخت او ناشوني دي نو په همدې اساس شارع په دغه خفي او باطني امور باندې د اطلاع لپاره الفاظ او قرائن وضع کړي دي لکه څرنګه چې په دې اړه د مجلة الأحکام العدلیه لاندې ماده داسې صراحت لـــــري:

دَلِيلُ الشَّيْءِ فِي الْأُمُورِ الْبَاطِنَةِ يَقُومُ مَقَامَهُ«203».

ژباړه: په پټو چارو کې د یوه شي دلیل د هغه په ځای ودرېږي.

مطلب دا چې که د یوه شي په حقیقت باندې اطلاع حاصلول ګران کار وي؛ نو د هغه د اثبات په هکله په هغه شي حکم کېږي چې ظاهراً د هغه په شتون دلیل وي، یعني که د یو معدوم شي د وجود اسباب ولیدل شي، د هغه په وجود حکم کېږي لکه د بېلګې په توګه: یو شخص له بل شخص څخه یو حیوان واخلي؛ نو کله چې په هغه کې عیب وویني؛ نو درملنه یې وکړي، دلته د نوموړي حیوان په عیب باندې رضایت یو باطني أمر دی چې انسان ترې اطلاع نه شي حاصلولای، اما ظاهري سبب چې د عیب په رضایت باندې دلالت کوي هغه د مشتري درملنه ده«204».

د اسلامي فقهي په اساس شرعي احکام په خلاف د قانون دوه جانبه لري لومړی جانب یې د معاملاتو هغه جانب دی چې په دنیا کې پرې حکم کېږي، او دوهم جانب یې د ثواب او عقاب په اساس اخروي جانب دی نو په همدې اساس د مقصد او صریح لفظ د تعارض په صورت کې د اسلامي فقهي موقف دا دی چې د مکلف شخص د مخالف قصد ادعاء د صریح لفظ سره یواځې په اخروي امورو کې تصدیق کېږي او په

202 الکتاب: الجامع المسند الصحیح المختصر من أمور رسول الله صلی الله علیه وسلم و سننه و أیامه = صحیح البخاري، المؤلف: محمد بن إسماعیل أبوعبدالله البخاري الجعفي، المحقق، محمد زهیر بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانیة بإضافة ترقیم ترقیم محمد فؤاد عبدالباقي)، الطبعة الأولی «۱۴۲۲هـ»، عدد الأجزاء«۹»، جـ «۱»، صـ «۲۰». رقم الحدیث «۵۴».

203 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «۱» صـ «۲۴» رقم المادة «۶۸».

204 دررالحکام شرح مجلة الأحکام، جـ «۱» صـ «۶۸».

قضائي احکامو او امورو کې د مکلف شخص هغه مقصد چې دی ادعاء کوي او د صريح لفظ سره مخالف وي نه منل کېږي«[205]».

د موضوع د لابنه وضاحت په موخه ويلی شو: هغه افعال چې پرته له کوم نيت څخه واقع کېږي، يا به يې الفاظ څرګند او صريح وي او يا به غير صريح وي که الفاظ يې صريح وي؛ نو نيت ته اړتيا نه ليدل کېږي د فعل د حاصلېدو سره سم حکم پرې مرتب کېږي، ځکه په صريحو الفاظو کې نيت خپله ښکاره او څرګنده وي، لکه يو شخص بل شخص ته ووايي: خپل دا مال مې پرتا خرڅ کړ، او يا مې ستا لپاره په دې وصيت وکړ؛ نو دلته بيع هم او وصيت هر يو په خپل ځای کې صحت لري، ځکه اقرار، وکالت، ايداع، اعاره، قذف او سرقت هغه أمور دي چې په نيت پورې متوقف نه دي بلکې همدغه د فعل ترسره کول د حکم د مرتب کېدلو لپاره کفايت کوي.

نا څرګنده يا غيرصريح الفاظ: په غير صريحو الفاظو کې د همدغه يو لفظ حکم د فاعل د مقصد د اختلاف په بناء فرق کوي، لکه بيع کله چې د مضارع په صيغه سره استعمال شي، لکه د بېلګلې په توګه بايع او يا مشتري ووايي: «ابيع او اشتري» که په دې سره د حال قصد وکړي؛ نو بيعه منعقده کېږي او که د استقبال اوراتلونکې قصد يې کړی وي، بيعه نه منعقده کېږي اما د ماضي په صيغه باندې منعقده کېږي او نيت پورې نه موقوفه کېږي. په دې معنی چې په دې صيغې سره د حال نيت وکړي، ځکه ماضي صيغه د هغه څرګندو کارېدونکو صيغو څخه ده چې په عقدونو کې د حال په مقصد کارول کېږي«[206]».

## څلورم مطلب

## د نيت د مشروعيت موخه

د نيت د مشروعيت موخه او هدف دا دی چې عبادات د عاداتو څخه جلا او تفکيک شي، او همدارنګه ځينې عبادات د ځينو نورو څخه جدا او تفکيک شي، لکه يو سړی د خوراک، څښاک، جماع او داسې نورو مفطراتو څخه ځان ساتي د روژې په نيت نه بلکې د تداوۍ لپاره، او يا هم د ډاکټر د لارښوونې سره سم د پرهيز په نيت او يا داچې د دې لپاره ورڅخه ډډه کوي چې اړتيا ورته نه لري. او همدا رنګه يو شخص په مسجد کې د عبادت او اعتکاف په نيت نه بلکې د استراحت په نيت پاتې شي، همدارنګه د مال ورکول بل

205 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۱۳۳».

206 فقهي قواعد، صـ «۳۷».

چاته کېدای شي هبه او یا هم د دنیوي بل مقصد په خاطر وي، او یا هم کېدای شي د قربت او ثواب په نیت وي لکه: زکات او صدقه ورکول، او همدا شان ذبح کول کېدای شي د خوراک لپاره وي چې دا به مباح او یا مندوب وي او کېدای شي د قربانۍ په نیت وي چې دا بیا واجب عبادت ګرځي، او یا دا چې دا ذبح د یو پاچا او یا امیر د راتګ او استقبال په نیت وي چې دا بیا حرام ګرځي او حتی د ځینو په اند هم کفر ته رسېږي، بل دا چې الله ﷻ ته تقرب د فرضو، نفلو او واجبو په وسیله کېږي، د دې لپاره چې دغه دری واړه سره جدا شي او یام هم یوه معامله د بلې څخه جدا او تفکیک شي؛ نو نیت مشروع شو.

بناءً: هر هغه کار چې خپله عبادت وي او له بل سره التباس یې نه راځي او نه بل شي سره مشتبه کېږي په هغې کې نیت کول شرط نه دي لکه ایمان په الله ﷻ، معرفت، خوف، رجاء، د قرآنکریم تلاوت او اذکار ځکه دا اصلاً متمیز او ځانګړي دي چې د بل شي سره نه ملتبس کېږي«[207]».

البته دا نظر چې په ځینو شیانو کې نیت شرط نه دی د دې معنی به دا نه وي چې نیت کول پکې کومه ګټه نه لري، بلکې دا خبره د نیت د ګټې سره منافات نه لري، لیکن غوره به دا وي چې بیا هم نیت وکړي ځکه په نیت کولو سره اخلاص پیاوړی کېږي او د انسان توجه ورته زیاتېږي، او بله دا چې په نیت کولو او بیا تجدید کولو کې الله ﷻ ته د تقرب لوړ رمز پروت دی او هغه دا چې د نیت څخه مراد هغه قصد دی چې ترسره شوی عمل د الله ﷻ د رضاء سبب وګرځوي، او همدغه د الله ﷻ د رضاء قصد کول چې څومره زیات د انسان په زړه کې ګرځي هومره هغه الله ﷻ ته نېږدې کېږي.

*********

******

***

207 الأشباه والنظائر على مذهب ابي حنيفة النعمان، جـ «١» صـ «٢٩».

# درېيم فصل

# د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې تطبيقي بېلګې او اړونده مسائل

په دغه څېرکي کې به د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د معاملاتو په برخه کې ګڼ شمېر مختلف النوع تطبيقي بېلګې، د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې اړوند متفرق مهم او اساسي مسائل او د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې لاندې د ځينو اړونده متفرع فقهي قواعدو معنی، مفهوم، مدلول، اړونده تطبيقي بېلګې او ځيني مهم معاصر مسائل او موضوعات بيان او څرګند شي.

## لومړی مبحث

## په معاملاتو کې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې تطبيقي بېلګې

کېدای شي د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې اړونده آيتونو او احاديثو په رڼا کې ډېر داسې څه څرګند شوي وي چې د دې قاعدې په مثالونو او تطبيقي بېلګو باندې دلالت وکړي، دا چې ياده فقهي قاعده له يو لوري د قواعدو کبرى څخه شمېرل کېږي او له بل لوري يو پراخه او وسيع مفهوم لري او د يوه انسان د ژوند په ټولو برخو کې د تطبيق وړ ګرځي او امام أحمد «رحمه الله» د يادې فقهي قاعدې په اړه وايي: اصول د اسلام لاندې درى ګوني احاديث دي:

1. «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ».

ژباړه: يقيناً اعمال په نيت پورې تړوا لري.

2. «مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرنَا فَهُوَ رَدٌّ».

ژباړه: هر څوک چې داسې يو عمل تر سره کوي چې په هغه باندې زمونږ امر نه وي «په شريعت کې اصل ونه لري» دا رد دی.

3. «الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ».

ژباړه: حلال او حرام دواړه ښکاره او معلوم دي.

نو د امام احمد «رحمه الله» د پورتني قول پر بنياد کله چې ټول دين په دريو احاديثو کې را ټول او جمع شي او له دريو څخه يي يوه برخه په هغه حديث شريف کې را ټوله شي چې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې اصل، اساس او بنسټ بلل کېږي؛ نو دا د يادې فقهي قاعدې لوړ ارزښت، پراخه او وسيع مفهوم په نښه کوي، کوم چې د يوه انسان په ټولو کړو وړو کې د تطبيق او عملي کېدلو وړ دی؛ نو که د يادې فقهي قاعدې اړونده هر څومره بحث هم وشي کفايت نه کوي، ځکه چې ياده فقهي قاعده له يو لوري ډېر پراخه او وسيع مفهوم لري او له بل لوري د همدې قاعدې له اصل او بنياد څخه په ثلث الدين سره تعبير کېږي

خو بیا هم ځینې بېلګې چې د فقهي قواعدو مؤلفینو او فقهاوو په خپلو کتابونو کې د همدې قاعدې لاندې بیان کړې دي او همدا شان ځینې نوي معاصر موضوعات چې د دې قاعدې لاندې راځي په لنډه توګه ترې یادونه کوو «[208]».

## لومړی مطلب

## د مال په ورکړه کې قصد او نیت د ورکړې ماهیت ته تغیر ورکوي

د قصد او نیت په تغیر سره د مال د ورکړې حکم هم تغیر کوي لکه د بېلګې په توګه ویلای شو: احمد پنځه زره «۵۰۰۰» افغانۍ خالد ته ورکوي، نو که د احمد نیت او قصد په دې ورکړه سره د فرضي زکات اداء وي همدا ورکړه فرضي زکات ګڼل کېږي او که یې نیت او قصد صدقه وي صدقه ګڼل کېږي او که یې نیت هبه وي هبه ګڼل کېږي او که یې نیت د امانت وي امانت ګڼل کېږي.
او همدا رنګه که احمد خالد ته د پنځه زره «۵۰۰۰» افغانیو له ورکړې څخه نیت او مقصد صدقه وي تر څو د الله ﷻ رضایت تر لاسه او د یوې غریبې کورنۍ لاسنیوی وکړي نو په دې صورت کې نوموړي د دې ورکړې پر بنیاد مأجور ګڼل کنل کېږي، او که احیاناً د نوموړي د دې ورکړې څخه نیت او مقصد رشوت او یا هم د حق ابطال او کتمان وي، نو نوموړی شخص د خپل نیت او مقصد پر بنیاد قضاءً او دیانتاً مسؤل ګڼل کېږي.
او همدارنګه که احمد خالد ته پنځه زره «۵۰۰۰» افغانۍ په دې نیت او مقصد ورکوي چې تر څو د همدغه ورکړې له امله د خالد په واسطه یو چا ته زیان ورسوي نوموړی احمد مسؤل ګڼل کېږي او که نیت او مقصد یې الله ﷻ ته د تقرب په نیت د قرض حسن ورکړه وي تر څو خالد د خپل ژوند ضروریات پرې پوره کړي نو په دې صورت کې احمد مأجور ګڼل کېږي لکه څرنګه چې په دې اړه الله ﷻ فرمایي:
(مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ) «[209]».

---

208 قاعدة الأمور بمقاصدها، صـ «۵۲».

209 سورة البقرة «۲۴۵».

ژباړه: څوک دی هغه سړی چې قرض ورکوي الله ﷻ لره قرض نېک «مصرفول د الله ﷻ په لاره کې»نو زيات به کړي الله ﷻ هغه قرض «ثواب د قرض» هغه ته په زياتوالي ډېر او الله ﷻ تنګوي «رزق» او پراخوي «رزق» او هم «خاص» بيا به ده ته بېولی کېږي «د اعمالو د جزاء لپاره».

## دوهم مطلب

## د لقطې حکم په تغير د نيت سره تغير کوي

مخکې تر دې چې د لقطې د حکم تغيرد «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې په رڼا کې بيان شي لومړی بايد لقطه وپېژندل شي او د لقطې له پېژندلو څخه وروسته به د يادې فقهي قاعدې په رڼا کې د لقطې لپاره يوه تطبيقي بېلګه بيان کړو تر څو د شرعي حکم په تغير او تعيين کې د نيت او قصد د تغير په ارزښت او اهميت باندې په پوره او کامله معنی پوه شو او د خپل ژوند په چارو کې خپل نيتونه له هر نوع احتمالاتو او شکوکو څخه پاک او اصلاح کړو.

لومړی: تَعْرِيفُ اللُّقَطَةِ: اللُّقْطَةُ هِيَ الْمَالُ الَّذِي فُقِدَ وَوَجَدَهُ آخَرُ، وَكَانَ غَيْرَ مُبَاحٍ، وَمَالِكُهُ غَيْرُ مَعْلُومٍ«[210]».

ژباړه: لقطه د هغه مال څخه عبارت ده چې ورک شوی وي او بل شخص يې پيدا کړي او دا مال د پيدا کوونکی شخص لپاره مباح نه ګڼل کېږي، او د دغه پيدا شوي مال اصلي مالک هم معلوم نه وي.

څرنګه مو چې لقطه و پېژندله نو که احياناً يو سړی په لاره کې يو شی پيدا کړي او په دې نيت سره يې واخلي چې خاوند ته به يې بېرته سپاري؛ نو دا شی د دې سړي په لاس کې امانت ګڼل کېږي، او که احياناً دا شی پرته د کوم تقصير او تيري څخه د ده په لاس کې تلف شي، دی يې د تاوان ورکولو ضامن نه دی اما که همدغه ورک شوی مال په دې نيت له ځمکې څخه را پورته کړي چې ځان ته يې واخلي، نو نوموړی شخص غاصب ګڼل کېږي، او حتی که د ده په لاس کې پرته د کوم تقصير او زياتي څخه تلف هم شي، نو نوموړی شخص اصلي مالک ته د تاوان ورکولوضامن دی، لکه څرنګه چې په دې اړه د مجلة الأحكام العدليه لاندې ماده داسې صراحت لري:

«إِذَا وَجَدَ شَخْصٌ شَيْئًا فِي الطَّرِيقِ أَوْ فِي مَحِلٍّ آخَرَ، وَأَخَذَهُ عَلَى سَبِيْلِ التَّمَلُّكِ، يَكُونُ فِي حُكْمِ الْغَاصِبِ، وَعَلَى هَذَا: إِذَا هَلَكَ ذَلِكَ الْمَالُ أَوْ فُقِدَ يَضْمَنُهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فِيهِ صُنْعٌ وَتَقْصِيرٌ، وَأَمَّا إِذَا أَخَذَهُ عَلَى أَنْ يَرُدَّهُ لِصَاحِبِهِ

210 درر الحكام شرح مجلة الأحكام، جـ «۲» صـ «۲۰۷».

فَإِنْ كَانَ صَاحِبُهُ مَعْلُومًا فَهُوَ فِي يَدِهِ أَمَانَةٌ مَحْضَةٌ وَيَجِبُ عَلَيْهِ تَسْلِيمُهُ إِلَى صَاحِبِهِ، وَإِنْ كَانَ صَاحِبُهُ غَيْرَ مَعْلُومٍ فَهُوَ لُقَطَةٌ وَأَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُلْتَقِطِ» «211».

ژباړه: که یو شخص په لاره او یا یو بل ځای کې یو شی پیدا کړي او د خپل ملکیت په نیت او قصد سره يې واخلي نو همدا شخص غاصب ګڼل کېږي، نو که همدا شی اګر که د نوموړی شخص د تقصیر او تعدي څخه پرته هم هلاک او یا ورک شي، نوموړی شخص ضامن او مسؤل ګڼل کېږي؛ اما که يې په دې نیت او قصد سره واخلي چې خپل اصلي مالک ته به يې سپاري، نو که يې اصلي مالک معلوم ۇ نو همدا موندل شوي شی د نوموړي شخص په لاس کې د امانت حیثیت خپلوي، او په نوموړی شخص يی اصلي مالک ته تسليمي واجبه ده، او که چېرې يې مالک معلوم نه ۇ، نو بیا دا موندل شوي شی لقطه ګڼل کېږي او د نوموړي شخص په لاس کې د امانت حکم لري.

## دریم مطلب

## له خوراک څخه منع کېدل په تغیر د نیت سره د اباحت، طاعت او حرمت حکم خپلوي

دا یو څرګند حقیقت دی چې نیت او قصد د انسان په ټولو چارو کې ډېر لوړ ارزښت او اهمیت لري، او هر شخص مکلفیت لري چې خپل نیت په کلي معنی له هره اړخه اصلاح کړي، نو په همدې اساس د بېلګې په توګه ویلای شو: که چېرې احمد د ډوډۍ له خوراک څخه په دې نیت او قصد سره منعه کوي او نه يې خوري چې موړ دی او اړتیا نه ورته لري، نو د نوموړي دا منعه یو مباح عمل او فعل ګڼل کېږي، اما که يې په دې نیت او قصد سره نه خوري چې روژه يې ده او یا هم ډوډۍ د بل شخص ملکیت ده او احمد ته يې د خوړلو اجازه نه ده شوې او یا هم د خپل ځان د حفاظت او د ډاکټر د پرهېزد تطبیق په موخه ترې ځان منعه کوي، نو د نوموړي دا کار او فعل طاعت ګڼل کېږي او احمد مأجور ګڼل کېږي، اما که احمد د ډوډۍ له خوراک څخه په دې نیت او قصد سره منعه کوي چې خپل ځانته پرې ضرر ورسوي نو د احمد دا فعل او عمل یو غیر مشروع عمل ګڼل کېږي دیانتاً او قضاءً مسؤل ګڼل کېږي.

---

211 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «١» صـ «١٤٥» رقم المادة «٧٦٩».

## څلورم مطلب

## قتل په تغیر د نیت سره د عمد او خطاء حکم خپلوي

څرنګه چې نیت او قصد د یوه انسان د ژوند په هره برخه کې عملي کیږي، نو په همدې اساس همدا نیت او قصد دی چې قضاءً د قتل نوعیت بدلولای شي لکه د بېلګې په توګه ویلای شو: مدثر چې له ښکار سره زیاته مینه لري او همېشه غره ته ځي او ښکار کوي، یوه ورځ د غره په لوري د ښکار کولو په نیت او قصد روان شو او د غره په یوه برخه کې یې غرڅه تر سترګو شو او ښه مطمئن شو چې غرڅه دی نو خپله سلاح یې له اوږې را ښکته کړه او په غرڅه باندې یې فیر وکړ او غرڅه یې وویشتله، مګر له بده مرغه چې کله ورغی چې ښکار شوې غرڅه راوړي، چې ګوري چې د خپل کلي شپون بخت محمد یې په دې نیت ویشتلی چې ښکار دی، نو په دې صورت کې په مدثر یواځې دیت لازمیږي نه قصاص ځکه قتل قتل خطاء دی، اما که واقعاً او حقیقتاً د مدثر نیت او قصد د بخت محمد په قتل رسول وي، نو بیا په دې وخت کې د بخت محمد قتل یو عمدي قتل ګڼل کیږي او له امله یې مدثر قصاص کیږي، نو که پورتنی بېلګې ته دقت وکړو همدا نیت او قصد دی چې د اختلاف پر بناء یې دوه داسې حکمونه را منځته کیږي چې یو د بل مخالف دي چې یو یې دیت او بل یې قصاص دی.

## پنځم مطلب

## د طبیب امتناع د مریض له معالجې څخه په تغیر د نیت سره تغیر کوي

د طبیب امتناع د مریض له معالجې څخه په تغیر د نیت سره تغیر کوي لکه د بېلګې په توګه ویلای شو زاهد چې د زړه په مریضی اخته شخص دی عمیر ته چې د زړه د امراضو یو متخصص ډاکټر دی د معالجې په موخه ورځي او ورته وایي چې زما معاینات وکړه او دوا راته راکړه ځکه چې سخت په تکلیف یم په دې وخت کې عمیر د نوموړي مریض په لازمه معایناتو پیل کوي او د معایناتو په نتیجه کې نوموړی ډاکټر عمیر د زاهد مرض نه شي تشخیصولای، نو د نوموړي د معالجې او دوا ورکولوڅخه په دې نیت او مقصد ډډه او امتناع کوي چې داسې نه چې مریض ته کوم زیان ورسیږي او مریض ته وایي چې ستا مرض ته زما علم و نه رسېدلو او مریض له خپل کلینیک څخه رخصتوي، مریض د لارو په اوږدو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي، نو په دې صورت کې ډاکټر عمیر نه دیانتاً او نه هم قضاءً کوم مسؤلیت نه

لري؛ ځکه چې د نموړي مریض د مرض په تشخیص کې یې خپل شته امکانات په کار واچول او هڅه یې وکړه، مګر دا چې د نوموړي مریض په تشخیص و نه توانېدلو، نو مریض یې د حسن نیت په موخه رخصت کړ او د مریض د نه معالجې اورخصت څخه یې نیت او مقصد دا ؤ چې داسې نه چې زما د معالجې او دوا له امله ورته زیان ورسېږي؛ اما که ډاکټرعمیر د نوموړي مریض د معالجې څخه په دې نیت او مقصد ډډه او امتناع وکړي او یا هم پرته له تشخیص څخه په دې نیت دوا ورکړي چې تر څو مریض ته زیان ورسېږي نو په دې وخت کې ډاکټر عمیر قضاءً او دیانتاً مسؤل ګڼل کېږي لکه څرنګه چې نبي کریم ﷺ فرمایي:

«قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَنْ تَطَبَّبَ وَلَمْ يَكُنْ بِالطِّبِ مَعْرُوفًا فَأَصَابَ نَفْسًا فَمَا دُونَهَا فَهُوَ ضَامِنٌ» «[212]».

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هر هغه څوک چې طبابت او درملنه کوي او په طبابت او درملنه باندې پوه او عالم نه وي او له امله یې یو شخص خپل ژوند له لاس ورکړي او یا نور زیان ورته ورسېږي؛ نو همدا ډاکټر او طبیب دیانتاً او قضاءً ضامن او مسؤل ګڼل کېږي «[213]».

## شپږم مطلب

## د جنس پیر او پلور د نیت په تغیر سره تغیر کوي

د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې په رڼا کې د پیر او پلور د حکم تعیین او تغیر د فاعل یعنې بایع او مشتري د نیت او مقصد په اساس ټاکل کېږي، لکه د بېلګې په توګه ویلای شو یوسف د مېوې مارکېټ ته ځي او په دې نیت او قصد له عمران څخه انګور اخلي چې په کور کې یې اولادونه وخوري نو یوسف به له یولوري د فرضي نفقې حق اداء کړی وي او له بل لوري به صدقه شي، ځکه تر ټولو بهترینه صدقه په خپل اولاد باندې ده، اما که یوسف له عمران څخه په دې نیت انګور اخلي چې شراب ترې جوړ کړي نو د یوسف دا کړنه غیرمشروع او ناجائز عمل او بیعه ده. او همدا رنګه عمران چې یو مېوه پلورونکی دی که انګور په دې نیت او مقصد په خپلو مشتریانو پلوري چې حلاله ربحه او ګټه ترلاسه کړي، او د خپلې

---

212 السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، جـ «٨» صـ «٣٤١» رقم الحديث «١٦٩٧١».

213 صَحَّحَهُ اَلْحَاكِمُ، وَهُوَ عِنْدَ أَبِي دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيِّ وَغَيْرِهِمَا؛ إِلَّا أَنَّ مَنْ أَرْسَلَهُ أَقْوَى مِمَّنْ وَصَلَهُ. الكتاب: بُلُوغُ اَلْمَرَامِ مِنْ أَدِلَّةِ اَلْأَحْكَامِ، المؤلف: ابن حجر العسقلاني، مكتبة الشاملة، جـ «١»، صـ «٤٦٩».

کورنۍ لپاره حلاله نفقه ترلاسه کړي نو دا کار يې حلال کسب ګڼل کېږي او مأجور  دی، اما که يې نيت او قصد د انګور د پلور څخه دا وي چې تر څو يې خپل مشتريان ترې شراب جوړ کړي نو دا عمل يې يو غير مشروع او ناجائز عمل ګڼل کېږي او نوموړی قضاءً او ديانتاً مسؤل دی او د وخت په امير لازمه ده چې مخنيوي يې وکړي.

همدارنګه د بېلګې په توګه ويلای شو که يوه توليدي کمپنۍ خپل توليد شوي او پروسېس شوي اجناس په عام بازار کې په دې نيت او قصد په ښکته او ټيټ نرخ پلوري چې تر څو د خپلو هېوادوالو سره مرسته او کومک وشي، نو د يادې کمپنۍ دا کړنه د ستايلو وړ ده، اما که يې په دې نيت او قصد سره په ښکته او ټيټ نرخ پلوري چې نورو هم مثله کمپنيو ته ضرر ورسوي او د نورو کمپنيو فروشات په عام بازار کې کم او حتی په کلي معنی بند شي، تر څو ياده کمپنۍ د وخت په تېردو سره ټول بازار انحصار کړي او د بازار د انحصار په صورت کې بيا خپل توليد شوي او پروسېس شوي اجناس په لوړ قيمت خرڅ کړي نو د يادې کمپنۍ دا عمل يو غير مشروع او ناجائز عمل ګڼل کېږي او مسؤلين يې ديانتاً او قضاءً مسؤل ګڼل کېږي.

او همدا رنګه د بېلګې په توګه ويلای شو وليد چې يو مجاهد دی د سلاح پلورنځي ته ځي او په دې نيت او قصد يو ميل اسلحه اخلي چې تر څو پرې فرضي جهاد وکړي او د الله ﷻ په وړاندې خپله ذمه خلاصه او خپل مسؤليت اداء کړي، نو د وليد دا کړنه او عمل د ستايلو وړ دی او د الله ﷻ په وړاندې د نوموړي په ذمه د بار مکلفيت ادا‌ينه ده، اما که وليد په دې نيت او قصد د سلاح پلورنځي ته ځي او يو ميل اسلحه اخلي چې د همدې اسلحې په واسطه سرقت، غير مشروع قتل، غصب او يا هم نور غير مشروع کارونه او اعمال تر سره کړي، نو د وليد دا کړنه او عمل له يو لوري يو غير مشروع او ناجائز عمل ګڼل کېږي او له بل لوري نوموړی قضاءً او ديانتاً مسؤل ګڼل کېږي او د وخت په امير باندې دا لازمه ده چې د نوموړي مخه ونيسي او حتی مجازات يې کړي.

نو پورته بېلګو ته په کتلو سره دا خبره څرګندېږي چې د«الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د تطبيق ساحه ډېره پراخه او وسيعه ده او د يوه مکلف انسان هر عمل او کړنه د نوموړي تر نيت پورې اړه لري، نو په هر مکلف انسان باندې لازمه ده چې د خپل ژوند په هره عرصه او برخه کې خپل نيت او مقصد له هر نوع شکوکوڅخه په کلي توګه پاک او صفا کړي تر څو يې دنيا او آخرت وځلېږي.

## اووم مطلب

## د وصي تصرف په مال د یتیم کې په تغیر د نیت سره تغیر کوي

څرنګه چې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې معنی او مفهوم دا دی چې د هر عمل شرعي حکم د فاعل د نیت او مقصد په اساس ټاکل کیږي، نو د همدې قاعدې په رڼا کې د وصي د تصرف حکم د یتیم په مال کې ټاکل کیږي لکه د بېلګې په توګه: زید چې د محکمې د شرعي وثیقې په اساس د یتیم عمر وصي ټاکل شوی دی نو باید زید د عمر په مال کې داسې تصرف وکړي چې هدف او نیت یې یتیم ته مالي او یا هم معنوي ګټه رسول وي، چې د زید دا تصرف جائز او حتی د نوموړي په وړاندې مکلفیت ګڼل کیږي لکه زید عمر په یو داسې شخصي مکتب کې داخلوي چې ماهانه فیس یې په تناسب نورو مکاتبو ته ډېر زیات دی او له دې څخه د زید هدف یواځې او یواځې دا وي چې عمر غوره زده کړې وکړي تر څو یې دنیا او آخریت ښکلي او روښانه شي او په خپل ژوند کې د خپل فامیل او کورنۍ لپاره د لمر په شان وځلیږي، نو د زید دا تصرف د عمر په مال کې جائز دی، مګر که د زید هدف او مقصد یوازې د عمر د مال ضیاع هدف او مقصد وي نو د زید دا تصرف د عمر په مال کې جائز نه دی او زید قضاءً او دیانتاً مسؤل ګڼل کیږي او همدارنګه زید د عمر مال په دې موخه خرڅوي چې تر څو د عمر سالمه معالجه پرې وکړي او یایې هم د ژوند ضروري اړتیاوې پوره کړي، نو د زید دا تصرف د عمر په مال کې درست او صحیح ګڼل کیږي اما که د زید هدف یواځې د عمر د اموالو ضیاع او یا هم خپله شخصي ګټه هدف وي، نو زید قضاءً او دیانتاً مسؤل ګڼل کیږي. او همدارنګه که وصي زید د عمر مال یو تجار ته په مضاربت ورکړي تر څو د عمر مال د همدې مضاربت په اساس زیات شي، نو که د زید نیت او مقصد دا وي چې واقعاً د عمر مال زیات شي او وده وکړي نو د زید دا کړنه او تصرف د ستایلو وړ دی او که هدف او مقصد یې د عمر د مال ضیاع او یا هم شخصي ګټه وي نو د زید دا تصرف او کړنه هېڅ نوع جواز نه لري او پدې صورت کې مسؤل ګڼل کیږي، نو پورته بېلګو ته په کتلو سره د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې په اساس نیت او مقصد د حکم په تغیر کې مهم رول لري.

توصیه: څرنګه چې زموږ او تاسې په هېواد کې یتیمان زیات دي نو د هر وصي او سرپرست لپاره اړینه او لازمي خبره دا ده چې د یتیمانو په مالونو کې له یو لوري خپل نیتونه درست او صحیح کړي او له بل لوري د یتیمانو په مالونو کې له پوره دقت او احتیاط څخه کار واخلي ځکه چې د یتیمانو مالونه په دې نیت مصرفول چې یتیم ته د ګټې پر ځای زیان او تاوان ورسوي او یا هم خپله شخصي خسیسه او ناچېزه دنیوي

ګټه تر لاسه کړي د الله ﷻ په وړاندې ډېر لوی مسؤلیت لري او فاعل يې د سختې سنګينې جزا مستحق ګڼل شوی دی لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي:

(إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا) «[214]».

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې خوري دوی مالونه د يتيمانو په ظلم سره «بې له شرعي اذنه» خبره دا ده چې خوري دوی په «ډکو» ګېډو خپلو سره اور، او ژر به ورسېږي «ننه به وځي» دوی اور سخت ته.

نو پر هر مسلمان باندې او بالخصوص په هغه کسانو باندې لازمه ده چې خپل ګاونډ کې يتيمان لري چې د همدې يتيمانو هر نوع سرپرستی ته اوږه ورکړي او د يتيمانو همدا سرپرستي په داسې سالمه او غوره توګه وکړي لکه د خپلو صلبي اولادونو چې کوي او حتی تر خپلو اولادونو هم ورته زياته توجه وکړي تر څو يې دنيا او آخرت وځلېږي او په دنيا او آخرت کې د خوشحالۍ ژوند تېر کړی او په ورځې د محشر د نبي کريم ﷺ ملګری او د لاندې حديث شريف مصداق ورګرځي:

«عن سهل بن سعد قال: قال رسول الله ﷺ: أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ كَهَاتَيْنِ فِى الْجَنَّةِ هكَذَا وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا» «[215]».

ژباړه: له سهل بن سعد څخه روايت دی چې وايي چې رسول الله ﷺ و فرمايل زه او د يتيم کفيل به په جنت کې داسې يوځای وو لکه دا دواړه کوتې او بيا يې په سبابه او وسطی کوتو سره اشاره وکړه.

## اتم مطلب

## په طلاق کې د کنايي الفاظو کارول په نيت پورې تړاو لري

کنايي طلاق د طلاق د لفظ د تقسيم په اساس د طلاق له هغه ډول څخه عبارت دی چې د طلاق لپاره داسې الفاظ وکارول شي چې پرته د طلاق له معانيو څخه د نورو معانيوو احتمالات هم ولري، دا ډول طلاق د فقهي اصولو له مخې د نيت او قصد سره تړاو لري؛ نو په کنايي الفاظو سره طلاق معلق تر نيت او دلالت

---

214 سورة النساء «١٠».

215 الكتاب: الجامع الصحيح المختصر «صحيح البخاري»، المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبد الله البخاري الجعفي، الناشر: دار ابن كثير، اليمامة – بيروت، الطبعة الثالثة «١٤٠٧ - ١٩٨٧»، تحقيق: د. مصطفى ديب البغا أستاذ الحديث وعلومه في كلية الشريعة - جامعة دمشق، عدد الأجزاء «٦»، جـ «٥»، صـ «٢٠٣٢»، رقم الحديث «٤٩٩٨».

الحال پورې دی؛ ځکه کنايي الفاظ په مستقيمه توګه د طلاق لپاره نه دي وضع شوي او له طلاق څخه پرته د نورو معانيو احتمالات هم لري او له ګن شمېر احتمالي معانيوو څخه د يوې معنی تعيين يوازې په تعيين د نيت او دلالت الحال سره ممکن دي؛ نو په همدې اساس په کنايي الفاظو سره د طلاق وقوع د متکلم تر نيت او قصد پورې تړاو لري. لکه د بېلګې په توګه ويلای شو، زيد خپلې مېرمنې شبنم ته وويل چې زما له کوره ووځه د پلار کره د لاړه شه او يا د کالي ټول او جمعه کړه او ځه او يا دېته ورته داسې نور الفاظ وکاروي په دې صورت کې د زيد پورتني الفاظ خپلې مېرمنې شبنم ته څو احتمالات لري، کېدای شي د زيد هدف او مقصد دا وي چې د پلار کره د لاړه شه او يا يې هم مقصد او نيت په دې الفاظو سره طلاق وي نو په دې صورت کې د زيد نيت ته کتل کېږي که يې په پورتنيو کنايي الفاظو سره نيت د طلاق ؤ طلاق واقع کېږي او که يې نيت د طلاق نه ؤ نو طلاق نه واقع کېږي البته د يادونې وړ ده که دا ثابت شي چې په پورته الفاظو سره د زيد نيت طلاق ؤ نو په دې صورت کې شبنم د احنافو په اند په طلاق بائن سره طلاقېږي، خو البته زيد په دريو شرطونو سره کولای شي شبنم ته بيا د خاوند په حيث ور وګرځي:

لومړی: شبنم بايد د زيد سره د نوې نکاح کولو پوره او کامل رضايت ولري او ښکاره يې کړي.

دوهم: زيد بايد له شبنم سره له سره نوې نکاح بسته کړي.

دريم: زيد بايد شبنم ته نوی مهر ورکړي.

پورته بېلګې ته که مونږ په دقيقه توګه نظر وکړو نو دا به څرګنده شي چې همدا نيت دی چې له امله يې د زيد او شبنم د لومړنی پخوانی نکاح عقد مات کړ او که احياناً زيد په خپلو کنايي الفاظو سره د طلاق نيت او قصد نه وای کړای نو نکاح به پخپل پخواني صحت باقي پاتې وه او د زيد کنايي الفاظ به په هغه څه باندې حمل شوي وو چې زيد يې نيت او قصد درلودلو«[216]».

## نهم مطلب

## نکاح المحلل په تغير د نيت سره تغير کوي

څرنګه چې نکاح المحلِّل له يو لوري ډېره اهمه موضوع ده او له بل لوري ياده موضوع په اوس وخت کې اکثرالوقوع موضوع ګڼل کېږي؛ نو لازمه ده مخکې تر دې چې د نکاح المحلِّل په اړه د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا»

216 بحر العلوم معدن الفهوم الحافظ الحاج مولانا ابي الحسنات محمد عبدالحی نورَّالله مرقده، کتاب: الهداية شرح البداية، ناشر: المکتبة الحقانية کانيسي روډ کوټه پاکستان، جـ «۲» صـ «۳۵۲».

فقهي قاعدې په رڼا کې د یوې تطبیقي بېلګې یادونه وکړو، غوره به دا وي چې لومړی نکاح المحلِّل تشریح او په اړه یې د مذاهبو اختلافات سره له استدلاله هم بیا شي تر څو له یو لوري لوستونکي یاده موضوع په پوره توګه درک او فهم کړي او له بل لوري په یاده موضوع کې د قصد او نیت په ارزښت او قیمت باندې په دقیقه توګه پوه شي، نو لازمه بولم چې لومړی ځینې اړونده اصطلاحات بیان او څرګند شي.

لمړی محلِّل: بکسر اللام هو الذي يتزوج المطلَّقة ثلاثاً بقصد أن يحلَّها للزوج الأول«[217]».

ژباړه: محلِّل په په کسره یعې زیر د لام سره د هغه شخص څخه عبارت دی چې د مطلقې ثلاثې سره په دې نیت او قصد سره نکاح کوي چې تر څو یې د لومړني خاوند لپاره حلاله کړي، یعني وروسته له نکاح او مجامعت څخه یې بېرته طلاقه کړي تر څو یې لومړی خاوند وسره بیا نوې نکاح وکړي.

دوهم محلَّل له: محلل له د ښځې د هغه لومړني خاوند څخه عبارت دی چې خپله مېرمن یې په ثلاثه طلاق سره طلاقه کړې ده او د محلِّل د نکاح، مجامعت او بېرته طلاق کولو په صورت کې د خپلې مطلقې ثلاثې مېرمنې سره نکاح کوي.

پوښتنه دا را پیدا کېږي چې ایا د محلِّل نکاح صحیح ده او که باطله؟

د محلِّل د نکاح د صحت او بطلان په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف شتون لري، جمهور فقهاء (مالک، احمد شافعي او ثوري«[218]») وايي چې د محلِّل نکاح باطله نکاح ده او د دې باطلې نکاح په سبب مطلقه ثلاثه مېرمن لومړني خاوند ته نه حلالېږي، مګر احناف او بعض شوافع په دې اند دي چې د محلِّل نکاح مکروه ده مګر باطله نه ده.

د احنافو دلیل دا دی چې د محلِّل وجه د تسمیه خپله په حلت او صحت د نکاح سره دلالت ځکه په خپله په محلِّل کې د حلت معنی پرته ده او اوزاعي بیا وايي چې د محلِّل نکاح جائزه ده مګر دا نکاح بیا دېره بده کړنه ده«[219]».

---

217 صابوني، محمد علي، کتاب: تفسیر آیت الأحکام، ناشر: مکتبه اعزازیه سکندري روډ پارهوتی مرادن، الطبعة الأولی «۲۰۰۴م-۱۴۲۵هـ»، جـ «۱» صـ «۲۴۰».

218 د سفیان الثوري لنډه پېژندنه: د دی نوم سفیان بن سعیدبن مسروق الثوري، د بني ثور بن عبد مناة څخه دی، ابو عبدالله : امیر المؤمنین ؤ، په احادیثو ، دیني علومو او تقوی کې د زمانې سردار ؤ، په (۹۷هـ) کال په کوفة کې پیدا شوٶ، او په (۱۴۴هـ)کالکې د کوفې څخه ووانه، بیا یې مهدي ولټوه، بصرې ته ولاړ او په (۱۶۱هـ) کال کې په پټه توګه وفات کړې شو، کتاب : تاریخ بغداد، مؤلف: أحمد بن علي أبو بکر الخطیب البغدادي، ناشر: دار الکتب العلمیة – بیروت، عدد الأجزاء: «۱۴» (جـ «۹» صـ «۱۵۱».

219 تفسیر آیت الأحکام، جـ «۱» صـ «۲۴۱».

د جمهورو علماوو په اند لاندې دلائلو ته په کتلو سره د محلِّل نکاح صحت نه لري:

لومړی: «عن عقبة بن عامر قال: لَعَنَ رَسُولُ اَللَّهِ ﷺ اَلْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَه» «[220]».

ژباړه: له عقبة بن عامر څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په محلِّل او محلل له باندې لعنت ویلی دی«[221]».

دوهم: «قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: لاَ أُوتَى بِمُحِلٍّ وَلاَ مُحَلَّلٍ لَهُ إِلاَّ رَجَمْتُهُمَا» «[222]».

ژباړه: له عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې وېې فرمایل: نه د راوستلی کېږي ماته محلِّل او محلل له مګر که رواستلی شول ماته نو زه به دوی دواړه رجم کړم.

نو پورته دلائلو ته په کتلو سره د جمهورو علماوو قول ته ترجیح ورکول کېږي؛ ځکه هدف او مقصد له نکاح څخه دوام او استمرار دی او موقت والی بیا نکاح باطلوي.

نو اوس مهال د محلِّل په نکاح کي د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې بېلګه په داسې توګه بیانولای او تطبیق کولای شو مثلاً: احمد خپله مېرمن زینب په طلاق ثلاثه سره طلاقه کړه او احمد د خپلې مېرمنې زینب په طلاق سخت خفه، پرېشانه او پښېمانه شو، خو کله یې چې د زینب عدت تېر شو هغې له خالد سره نکاح وکړه او له خالد سره یې مجامعت هم وکړ او یو څه وخت تېردو وروسته د زینب او خالد تر منځ فامیلي ژوند تریخ او سخت شو بالآخره خالد مجبور شو او خپلې مېرمنې زینب ته یې طلاق ورکړه او زینب خپل عدت تېر کړ او له عدت تېردلو وروسته یې پخواني یعنې لومړني خاوند احمد خِطبه وکړه او زینب قبوله کړه او د دوی ترمنځ دوهم ځل بیا د نکاح نوی عقد وتړل شو نو دا نکاح په کلي معنی سره درسته او صحیح ګڼل کېږي او هېڅ نوع شرعي ستونزه نه لري ځکه زینب چې کله احمد طلاقه کړه او خالد ورسره نکاح وکړه نو د خالد نیت او قصد دا نه ؤ چې ببرته به یې طلاقوي تر څو ببرته د لومړني خاوند احمد نکاح کول د زینب سره صحت پیدا کړي او نه هم د احمد، خالد او زینب تر منځ دا شرط شوي

220 علاء الدين علي بن حسام الدين المتقي الهندي البرهان فوري «المتوفى: ٩٧٥هـ»، كتاب: كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال، المحقق: بكري حياني - صفوة السقا، ناشر: مؤسسة الرسالة، الطبعة: الطبعة الخامسة «١٤٠١هـ١٩٨١م» جـ «٩» صـ «٧٠٦» رقم الحديث «٢٨٠٦٦».

221 حكم الحديث: قَالَ التِّرْمِذِيُّ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، الكتاب: نصب الراية لأحاديث الهداية مع حاشيته بغية الألمعي في تخريج الزيلعي، المؤلف: جمال الدين أبو محمد عبد الله بن يوسف بن محمد الزيلعي «المتوفى: ٧٦٢هـ»، صححه ووضع الحاشية: عبد العزيز الديوبندي، الفنجاني ، إلى كتاب الحج ، ثم أكملها محمد يوسف الكاملفوري، المحقق: محمد عوامة، الناشر: مؤسسة الريان للطباعة والنشر - بيروت -لبنان/ دار القبلة للثقافة الإسلامية- جدة – السعودية، الطبعة: الطبعة الأولى«١٤١٨ه/١٩٩٧م»، عدد الأجزاء «٤»، جـ «٤»، صـ «٢٣٩».

222 السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، جـ «٧» صـ «٢٠٨» الرقم «١٤٥٧٦».

وي چې زينب به بېرته خالد طلاقوي، دا چې د خالد او زينب تر منځ فاميلي ژوند سخت او تريخ شو نو خالد مجبور شو چې زينب طلاقه کړي. اما که خالد له زينب سره په دې نيت او قصد سره نکاح او مجامعت کوي چې تر څو يې بېرته طلاقه کړي او بېرته يې احمد په نکاح واخلي نو دا نکاح صحت نه لري او د جمهورو علماوو په اند دا بيا يوه باطله نکاح بلل کېږي او همدا نکاح او مجامعت د لومړني خاوند احمد سره د زينب د نکاح د صحت او حلت سبب نه شي جوړېدلای؛ نو په پورته بېلګه کې څرګنده شوه چې نيت په معاملاتو کې څومره اهم او له ارزښته ډک دی همدا نيت دی چې شرعي حکم ته تغير ورکوي او که په پورتنۍ بېلګه کې دقت وکړو نو دې نتيجې ته به روسېږو چې په پورتنۍ بېلګه کې همدا نيت ؤ چې له امله يې د زينب نکاح له احمد او خالد سره جائزه او ناجائزه وګڼل شوه؛ نو په هر صورت ويلای شو چې د نيت په تغير سره شرعي حکم هم تغير کوي.

## لسم مطلب

## په دام کې د ښکار بندېدلو حکم په تغير د نيت سره تغير کوي

که يو شخص په يو ځای کې لومه «دام» ايښی وي او يو ښکار پکې بند شو؛ نو د نوموړي شخص ښکار د همده ملکيت ګڼل کېږي، لٰکن که يو سړي جال د وچېدو په موخه او نيت غوړولی وي او په هغه کې ښکار بند شو، نو د نوموړي شخص ملکيت نه بلل کېږي، او که بل شخص راغی او همدا ښکار يې د نوموړي شخص له جال څخه خلاص کړ او له ځان سره يې يوړلو نو دا يې په ملکيت کې داخل شو او د جال خاوند پرې دا دعاء نه شي کولای چې دا زما ملکيت دی، ځکه چې نوموړی شخص خپل جال د ښکار په نيت نه ؤ غوړولی بلکې په دې موخه او نيت يې غوړولی ؤ چې وچ شي، لکه څرنګه چې په دې اړه د مجلة الأحکام العدليه لاندې ماده داسې صراحت لري:

إِذَا وَضَعَ شَخْصٌ فِي مَحَلٍّ شَيْئًا كَالشَّرَكِ وَالشَّبَكَةِ لِأَجْلِ الصَّيْدِ فَوَقَعَ فِيهِ صَيْدٌ يَكُونُ لِذَلِكَ الشَّخْصِ لَكِنْ إِذَا نَشَرَ أَحَدٌ شَبَكَةً بِقَصْدِ تَجْفِيفِهَا فِي مَحَلٍّ فَوَقَعَ فِيهَا صَيْدٌ فَلَا يَكُونُ مِلْكًا لَهُ كَمَا أَنَّهُ لَوْ وَقَعَ صَيْدٌ فِي حُفْرَةٍ فِي أَرَاضِي أَحَدٍ فَيَجُوزُ لِآخَرَ أَنْ يَتَمَلَّكَهُ بِأَخْذِهِ لَكِنْ إِذَا حَفَرَ صَاحِبُ الْأَرْضِ تِلْكَ الْحُفْرَةَ لِأَجْلِ الصَّيْدِ فَيَصِيرُ أَحَقَّ بِالصَّيْدِ مِنْ سَائِرِ النَّاسِ«[223]».

---

223 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «١» صـ «٢٤٨» رقم المادة «٣١٣».

ژباړه که چېرې یو شخص په یو ځای کې د ښکار په موخه او نیت د ښکار نیولو یوه وسیله کله دام او یا جال کېږدي او په همدغه دام او یا جال کې ښکار بند شي، نو دغه ښکاره د هغه شخص ملکیت ګڼل کېږي کوم چې دام یا جال د ښکار په موخه په یو ځای کې عیار او برابر کړی دی، لٰکن که چېرې یو شخص خپل جال په دې نیت او موخه وغوړوي چې وچ شي او په همدې جال کې ښکار بند شي نو بند شوی ښکار د جال د مالک ملکیت نه ګڼل کېږي لکه څرنګه چې یو ښکار په داسې کوهي کې ولوېږي او دا کوهي د یو چا په ځمکه کې وي، نو بل شخص لره دا جائزه ده چې په همدې کوهي کې لوېدلی ښکاره را وباسي او تر خپل ملکیت لاندې یې راولي، لٰکن که د ځمکې خاوند په خپله ځمکه کې د ښکار د نیولو او لوېدلو په موخه کوهي وباسي نو په دې وخت کې د ځمکې او کوهي مالک په کوهي کې د لوېدلي ښکار په مالکیت سره تر نورو ټولو حقدار دی.

نو پورته مادې ته په کتلو سره که احیاناً بل شخص لوېدلی ښکار له کوهي څخه را وباسي او د زور په وسیله یې تر خپل ملکیت لاندې راولي نو په دې وخت کې غاصب ګڼل کېږي او که یې په پټه طریقه واخلي نو غل ګڼل کېږي نو په دې صورت کې د کوهي اصلي مالک چې په خپله ځمکه کې یې کوهي د ښکار نیولو په موخه کیندلی دی د خپل حق غوښتنه کولای شي او حتی د لومړي شخص له لوري د نه ورکړې په صورت کې د باصلاحیته محکمې په وړاندې د خپل مسلم حق غوښتنه او دعوی کولای شي او د نوموړي شخص همدا دعوی د باصلاحیته محکمې په وړاندې مسموع ګڼل کېږي.

## دوهم مبحث

## د «الأموربمقاصدها» فقهي قاعدې معاصرې تطبيقي بېلګې

څرنګه چې د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د تطبيق ساحه زياته پراخه او وسيعه ده او د انسان د ژوند ټولو کړو وړو ته شامېلېږي، نو په همدې اساس معاصر احکام او معاملات هم د يادې فقهي قاعدې په رڼا کې حل او فصل کېږي او د معاصرو معلاملاتو احکام هم د ياد قاعدې پر بنياد د انسان د نيت او قصد په تغير سره تغير کوي چې په لاندې مطالبو کې به يې د نمونې په توګه ځينې بېلګې بيان شي.

## لومړی مطلب

## په هداياوو کې معاصر تعامل

د هداياوو د معاصر تعامل اکثريت بېلکې د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مفهوم په اساس هېڅ نوع شرعي جواز نه لري، ځکه د هداياوو دورکړې اصلي مفهوم او مقصد اسلامي شريعت بيان کړی او اوس مهال چې کومې هداياوې د خلکو ترمنځ معمول او مروجې دي د هغه اهدافو او مقاصدو په موخه نه ورکول کېږي کوم چې اسلامي شريعت بيان کړی دي ځکه له ورکړې د هداياوو څخه هدف او مقصد يو د بل سره احسان کول، او د خلکو تر منځ نېک روابط او محبت پالل مطلب او مقصد دي چې همدا د اسلامي شريعت مقصد هم دی لکه څرنګه چې په دې اړه نبي کريم ﷺ داسې فرمايلي دي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ ﷺ قَالَ: تَهَادَوْا تَحَابُّوا«[224]».

ژباړه: له ابي هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ و فرمايل: يو بل ته تحفه ورکړئ تر څو يو د بل سره مينه او محبت ولرئ «[225]».

224 الكتاب: السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي، المؤلف: أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي، مؤلف الجوهر النقي: علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهير بابن التركماني، الناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد، الطبعة: الطبعة الأولى«١٣٤٤ هـ»، عدد الأجزاء«١٠، جـ «۶» صـ «١۶٩» رقم الحديث «١٢٢٩٧».

225 حكم الحديث: رَوَاهُ اَلْبُخَارِيُّ فِي " اَلْأَدَبِ اَلْمُفْرَدِ " وَأَبُو يَعْلَى بِإِسْنَادٍ حَسَنٍ. الكتاب: بُلُوغُ اَلْمَرَامِ مِنْ أَدِلَّةِ اَلْأَحْكَامِ، المؤلف: ابن حجر العسقلاني، مكتبة الشاملة، جـ «١»، صـ «٣۶١».

مګر اوس مهال اکثر تحائف او هدایا د هغه هدف او مقصد په توګه نه ترسره کېږي کوم چې د هدایاوو او تحائفو اصلي مقصد بلل کېږي لکه د بېلګې په توګه: چې یو شرکت له دولت او یا هم له بل شرکت څخه یو قرارداد ترلاسه کوي، نو مخکې تردې چې قراداد ترلاسه کړي د قرارداد طرف ته د هدایاوو او تحائفو په ورکړه قرارداد ته په کتلو سره ګڼ شمېر مختلف النوع قیمتي هدایا او تحائف ورکوي او هغه یې هم د هدایاوو او تحائفو په نوم ترې قبلوي او یو مشروع عمل یې بولي او حال دا چې د موهب اصلي هدف له دغه تحائفو څخه د قرارداد ترلاسه کول وي نه د هدایاوو او تحائفو هغه اصلي هدف کوم چې اسلامي شریعت ښودلی دی؛ نو لهذا یاد تحائف او هدایا د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مفهوم په اساس هېڅ نوع شرعي جواز نه لري او حتی په ځینو اوقاتو کې جانبین قضاءً هم مسؤل ګڼل کېږي او حال داچې د هدایاوو او تحائفو ورکړه یو مستحب او نېک عمل دی او د اسلامي شریعت له لوري یې خلک په ورکړه باندې هم هڅول شوي دي، مګر همدا هدایا او تحائف چې کله له اصلي مقصد څخه بېرون شي او نیت او قصد پکې بدل شي نو شرعي حکم یې د استحباب پر ځای په حرام باندې بدلېږي او دې ته ورته ګڼ شمېربېلګې شتون لري چې د هدایاوو او تحائفو ورکړه پکې حرامه ګڼل کېږي خو په لنډه توګه که ووایو چې هغه هدیه او تحفه چې د هدیې او تحفې د اصلي هدف څخه خلاف ترسره او قبوله شي د حرمت حکم خپلوي.

## دوهم مطلب

## وکاله بالاستثمار

مخکې تردې چې د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې په رڼا کې د الوکالة بالاستثمار تطبیقي بېلګې بیان شي لومړی باید وکاله بالاستثمار وپېژندل شي او بیا یې تطبیقي بېلګې، مشروع او غیر مشروع حالات او صورتونه په ګوته شي، وکاله بالاستثمار المعاییرالشرعیة داسې تعریف کړی دي:

الوکالة بالاستثمار هي إنابة الشخص غیرَه لتمنیة ماله بأجرة أو بغیر اجرة«[226]»

ژباړه وکاله بالاستثمار عبارت له هغه عقد څخه دی چې یو شخص بل شخص د خپل مال د ودې په موخه قایم مقام ګرځوي برابره خبره ده که داعقد د اجورې په مقابل کې وي او یا هم غیر له اجورې څخه وي.

226 هیئة المحاسبة والمراجعة للمؤسسات المالیة الاسلامیة ۱۴۳۷هـ، المعاییر الشرعیة «۱ـ ۵۸»، صـ «۱۱۴۴»، رقم المعیار «۴۶».

څرنګه مو چې له یو لوري وکاله بالاستثمار د پورتني تعریف په اساس و پېژندله او له بل لوري یاده معامله د پورتني تعریف مطابق یوه مشروع او جائز معامله ګڼل کېږي لکه څرنګه یې چې د مشروعیت په اړه لاندې حدیث شریف داسې صراحت لري:

عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم أَعْطَاهُ دِينَارًا يَشْتَرِى لَه بِهِ شَاةً فَاشْتَرَى لَه بِهِ شَاتَيْنِ فَبَاعَ إِحْدَاهُمَا بِدِينَارٍ وَجَاءَهُ بِدِينَارٍ وَشَاةٍ فَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ فِى بَيْعِهِ وَكَانَ لَوِ اشْتَرَى التُّرَابَ لَرَبِحَ فِيهِ«[227]».

ژباړه: له عروة څخه روایت دی چې: نبي کریم صلى الله عليه وسلم یو دینار ورکړ چې په هغه باندې نبي کریم صلى الله عليه وسلم ته یو ګډ واخلي، نو هغه په هغه یوه دینار باندې نبي کریم صلى الله عليه وسلم ته دوه ګډان واخیستل، او یو یې بیرته په یوه دینار باندې خرڅ کړ او نبي کریم صلى الله عليه وسلم ته یې یو ګډ او یو دینار راوړلو او راغی؛ نو نبي کریم صلى الله عليه وسلم د نوموړي په بیعه کې په برکت سره دعاء ورته وکړه، نو که چیرې نوموړي خاورې هم اخیستې وای نو ګټه به یې پکې کړې وای.

او همدارنګه د یادې معاملې د مشروعیت په اړه د مجلة الاحکام العدلیه لاندې ماده داسې صراحت لري:

إذَا عَيَّنَ الْمُوَكِّلُ الثَّمَنَ فَلَيْسَ لِلْوَكِيلِ بَيْعُهُ بِأَنْقَصَ مِمَّا عَيَّنَهُ الْمُوَكِّلُ فَإِذَا بَاعَ يَنْعَقِدُ الْبَيْعُ مَوْقُوفًا عَلَى إجَازَةِ الْمُوَكِّلِ وَلَوْ بَاعَهُ بِنُقْصَانِ الثَّمَنِ بِلَا إذْنِ الْمُوَكِّلِ وَسَلَّمَ الْمَالَ إلَى الْمُشْتَرِي فَلِلْمُوَكِّلِ أَنْ يُضَمِّنَهُ ذَلِكَ النُّقْصَانَ«[228]».

ژباړه: کله چې مؤکل د وکیل لپاره ثمن معین او مشخص کړي چې زما مال به تردې په کم قیمت نه پلورې، نو وکیل نه شي کولای چې ترمعین قیمت یې په کم قیمت باندې وپلوري، او که احیاناً په کم قیمت یې وپلوري نو په دې صورت کې بیع منعقده کېږي، مګر د مؤکل تر اذن پورې موقوفه ده، او که چیرې یې بدون د اذن د مؤکل څخه له معین شوي قیمت څخه په کم قیمت باندې وپلوري او مال مشتري ته تسلیم کړي نو په دې صورت کې مؤکل کولای شي چې د وکیل څخه د نقصان او تاوان غوښتنه وکړي او وکیل ضامن ګڼل کېږي.

227 الكتاب: الجامع الصحيح المختصر «صحيح البخاري»، المؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبد الله البخاري الجعفي، الناشر: دار ابن كثير، اليمامة – بيروت، الطبعة الثالثة «١٤٠٧ - ١٩٨٧»، تحقيق: د. مصطفى ديب البغا أستاذ الحديث وعلومه في كلية الشريعة - جامعة دمشق، عدد الأجزاء «٦»، جـ «٣» صـ «١٣٣٢» رقم الحديث «٣٤٤٣».

228 مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ، جـ «١» صـ «٢٩١» رقم المادة «١٤٩٥».

پورته دلائلو ته په کتلو سره یاده معامله یوه مشروع معامله ګڼل کېږي مګر په ځینو بانکونو او مالي اداراتو کې د وکالې بالاستثمار ترعنوان لاندې د شرعي محصول په نوم یو داسې محصول ځینو شرکتونو، مؤسساتو، ملي پانګوالو او وګړو ته وړاندې کېږي چې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې په اساس یې شرعي اعتبار له منځه ځي او همدا شرعي عقد په یو حرام او ناجائز عقد باندې بدلېږي لکه د بېلګې په توګه احمد چې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د قانوني جواز په اساس فعالیت او کافي تجربه لري او په همدې برخه کې یې خپلې پنځه میلیونه افغانۍ په کار بار اچولې دي او هر کال د همدې سرمایې په توسط لس فیصده تخمیني ګټه هم ترلاسه کوي خو نوموړی غواړي چې خپل اصل سرمایه زیاته کړي ترڅو په کلنۍ ګټه کې یې زیات راشي، نو په همدې موخه یو بانک او یا هم یوې مالي ادراې ته مراجعه کوي او ورته وایي چې زه د کرنې او مالدارۍ په برخه کې کافي تجربه او د فعالیت جواز لرم او خپله هم پنځه میلیونه افغانۍ سرمایه لرم، چې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې مې په کار اچولې ده چې هر کال ماته تقریباً لس فیصده تخمیني ګټه کوي، نو اوس غواړم چې ستاسو څخه پنځلس میلیونه افغانۍ د یو شرعي عقد په اساس ترلاسه کړم تر څو زما کلنۍ ګټه هم زیاته شي او تاسې ته هم یوه اندازه ګټه درکړم، نو په دې صورت کې بانک یا مالي ادراه احمد ته وایي چې بانک یا مالي اداره ستا احمد سره وکاله بالاستثمار چې شرعي معامله ګڼل کېږي منعقدوي هغه دا چې بانک یا مالي اداره تا احمد ته پنځلس میلونه افغانۍ د یو کال تأجیل په موده په وکاله بالاستثمار سره د لس فیصده مفاد او یو نیم سل فیصده تضمین په مقابل کې په څلورو اقساطو سره د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د کارولو په موخه درکوي او ته احمد به د بانک یا مالي ادارې وکیل شمېرل کېږې، چې هر قسط به په هرو دریو میاشتو کې بانک یا مالي ادارې ته پرته له تأخیر او تقصیر څخه جمع کوې البته د پنځلس میلیونه افغانیو اصل مبلغ لس فیصده مفاد یعنې یو میلیون پنځه سوه زره افغانۍ به د لومړي قسط سره یو ځای او یاهم د هرقسط سره په علی السویه توګه جمع کوې او که تر لس فیصده زیاته ګټه دې ترلاسه کړه هغه یوازې ستا حق ګڼل کېږي او بانک یا مالي اداره پکې سهیم نه ګڼل کېږي او که احیاناً هر قسط د خپل ټاکلي وخت پر اساس جمع نه شي نو پر تا باندې د هرې ورځې د تأخیر په اساس نقدي جریمه وضع کېږي او په ورکړه او اداء یې مکلف ګڼل کېږې او د تاون په صورت کې به خپل مؤکل په جریان کې اچوې د جریان په صورت کې به د خپل مؤکل لاربښونه تعقیبوې او د نه تعقیب په صورت کې ضامن او مقصر ګڼل کېږې، نو په دې صورت کې احمد یاد عقد قبول کړي او له بانک یا مالي ادارې سره قرارداد لاسلیک کړي قرار داد د وکالې باالاستثمار د شکلیاتو په اساس کوم مشکل نه لري مګر د یادې معاملې د تطبیق او مقصد په اساس هېڅ نوع شرعي حیثیت نه لري ځکه له

يولوري بانک يا مالي اداره لس فيصده مفاد د اصل مبلغ په اساس په ابتداء د عقد کې تعيين او ټاکي او له بل لوري د وکيل د اقساطو د تأخير د نېټې په صورت کې په نوموړي باندې د نقدي جريمې په نامه زيات مبلغ وضع کېږي چې د هرې ورځې په تأخير سره د نقدي جريمې په نوم تعيين او ټاکل شوی مبلغ زياتېږي چې دا اصلاً سود ګڼل کېږي؛ ځکه سود هم د وخت د تأجيل او تأخير په مقابل کې د پيسو ترلاسه کول او زياتول دي او په نوموړي باندې د تأخير له امله وضع شوې جريمه هم د سود مفهوم او مقصود افاده کوي نو څرنګه د يادې معاملې مفهوم او مقصد د شرعي اصولو سره برابر نه دی اګر که د شکلياتو او نوم په اساس يوه شرعي معامله ګڼل کېږي نو ياده مروجه معامله يوه غير مشروع معامله بلل کېږي البته که د يادې معاملې مفهوم او تطبيق په داسې توګه ترسره شي کله څرنګه مو چې پورته تعريف کړه نو بيا ياده معامله يوه شرعي او جائزه معامله ګڼل کېږي او شرعي حيثيت خپلوي.

## دريم مطلب

## په بيع العِينة کې د معاصر تعامل بېلګې

مخکې تر دې چې د بيع العِينة د معاصر تعامل بېلګې بيان شي لومړی بايد بيع العِينه و پېژندل شي بيع العِينة امام النَّووي رحمه الله داسې تعريف کړې ده:

هو أن يبيع غيرَه شيئاً بثمن مؤجل و يسلمه إليه ثم يشتريه قبل قبض الثّمن بأقل من ذلك الثمن نقداً«[229]».

ژباړه: بيع العينة عبارت له هغه بيع څخه ده چې يو شخص يو څيز په مؤجله توګه په بل شخص باندې وپلوري او ورته تسليم يې کړي او مخکې له قبض د پيسو او وروسته له تسليمۍ د مبيعي څخه يې بېرته لومړنی بايع په کمو پيسو له لومړني مشتري څخه و پيري.

نو که چېرې دوهمه بيع په لومړنۍ بيع کې شرط شوې وي لکه د بېلګې په توګه احمد خالد ته ووايي چې زه دغه موټر پرتا په پنځه سوه زره افغانۍ د شپږ مياشتو په تأجيل سره په دې شرط پلورم چې ته به يې بېرته پر ما باندې په څلور سوه زره افغانۍ په نقدو پيسو پلورې او زه به اوس مهال تاته د ياد موټر څلورسوره زره افغانۍ قيمت نقداً او تعجيلاً درکړم او ته به شپږ مياشتې وروسته د ياد موټر پنځه سوه زره

229 عثماني، محمدتقي، کتاب، فقه البيوع على المذاهب الأربعة مع تطبيقاته المعاصرة مقارناً بالقوانين الوضعية، ناشر: مكتبة المعارف القرآن كراتيشي باكستان، الطبعة: ربيع الأول، ١٤٣٦هـ يناير،٢٠١٥ع، جـ «١» صـ «٥٤٧».

افغانۍ قیمت راکوې خالد دا شرط و مني او د دوی تر منځ بیع منعقد شي؛ نو دا بیع په اجماع د امت سره یوه فاسده بیع ده.

اما که دوهمه بیع په لومړنۍ بیع کې د پورته بېلګې په شان شرط نه کړل شي نو دا بیع یواځې د امام شافعي رحمه الله په اند یوه جائزه بیع حسابېږي اما احناف، مالکیه او حنابله یې په عدم جواز باندې متفق دي او همدا رنګه د بیع العِینة د عدم جواز په اړه په لاندې حدیث شریف باندې استدلال کوي چې داسې صراحت لري:

«عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم يَقُولُ إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلاًّ لاَ يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ» «[230]».

ژباړه: له ابن عُمَرَ رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې ویل یې: کله چې تاسې په عِینه او د غواګانو لکۍ ونیسۍ یعني په دنیا پسې لاړ شئ او په کرنه باندې راضي او مصروف شئ او جهاد پرېږدئ؛ نو په دې وخت کې به الله جل جلاله پرتاسې باندې داسې ذلت مقرر او مسلط کړي چې له دې ذلت څخه به تر هغه وخته پورې خلاص نه شئ او نه به هم زائل شي تر څو چې خپل دین ته رجوع و نه کړئ «[231]».

اما که چېرې دوهمه بیع د لومړنۍ بیع په قیمت او یا هم زیات له هغې څخه په عین تأجیل چې په لومړنۍ بیع کې تعیین شوی دی منعقده شي؛ نو په دې صورت کې په اتفاق د فقهاوو سره همدا دوهمه بیع جائزه ګڼل کېږي ځکه په دې صورت کې مقصد او هدف سود نه دی او د دوهمې بیع ممنوعیت هغه وخت صورت نیسي چې دوهمه بیع د لومړنۍ بیع په کم قیمت منعقده شي او یا هم د لومړۍ بیع په مثل قیمت، خو سره له زیادت د تأجیل منعقده شي لکه د بېلګې په توګه احمد په خالد باندې یوه عراده موټر په پنځه سوه زره افغانۍ د یو کال په تأجیل سره و پلوري او بیا په عین وقت کې بېرته احمد همدغه موټر د خالد څخه په عین قیمت یعني پنځه سوه زره افغانۍ د دوه کلونو په تأجیل سره و پیري نو دا بیع هم فاسده ګڼل کېږي ځکه زیادت په تأجیل کې په مالي موضوعاتو کې نقصان بلل کېږي«[232]».

---

230 سنن أبي داود، جـ «٣» صـ «٢٩١» رقم الحديث «٣٤٦٤».

231 حكم الحديث: قال الألباني: حديث صحيح. سنن أبي داود، جـ «٣» صـ «٢٩١».

232 فقه البيوع على المذاهب الأربعة مع تطبيقاته المعاصرة مقارناً بالقوانين الوضعية، جـ «١» صـ «٥٥١».

څرنګه چې اوس مهال ګڼ شمېر خلک د سود د ترلاسه کولو لپاره د بيع العِينة څخه په زياتو برخو کې استفاده کوي او له امله يې نا مشروع ګټه لاسته راوړي او دوی په دې بهانه ترلاسه شوې نامشروع ګټه ځان ته حلاله بولي چې مونږ خو بيع کړې ده نه سود، څرنګه چې د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې مفهوم زيات وسيع او پراخ دی نو بيع العِينه هم د يادې فقهي قاعدې لاندې راځي لکه د بېلګې په توګه زيد چې يو ميليون نقدو اوفغانيو ته اشده اړتيا او ضرورت لري نو عمر ته چې د وريجو پلورنځی لری ورځي او ورته وايي چې يو ميليون نقدو افغانيو ته سخته اشده اړتيا او ضرورت لرم، نو عمر ورته وايي چې دروسته ده زه به يو ميليون افغانۍ تاته په داسي طريقه درکړم چې له يو لوري ستا مشکل حل شي او له بل لوري ماته هم پرته له سود څخه ګټه وکړي، نو زيد ورته وايي چې دروسته ده، نو په دې صورت کې عمر زيد ته وايي چې زما خو د وريجو پلورنځی دی او زما سره يوه بوری وريجې په دری زره افغانۍ دي نو زه به پر تا پنځه سوه بورۍ وريجې في بورۍ په دری زره افغانۍ د يو کال په پور وپلورم چې مجموعي قيمت يې يو نيم ميليون افغانۍ کېږي او ته به بېرته همدا پنځه سوه بورۍ وريجې في بورۍ بېرته پر ما باندې په دوه زره افغانۍ په نقدو پيسو وپلورې او زه به تاته يو ميليون افغانۍ ستا د پنځه سوه بورۍ وريجو قيمت نقداً درکړم او ته به يو کال ورسته زما د پنځه سوه بوريو وريجو مجموعي قيمت يونيم ميلون افغانۍ راکړې؛ نو د دوی تر منځ همدا بيع منعقده شي چې دې بيع ته په فقهي اصطلاح کې بيع العِينه وايي نو دا بيع اصلاً يوه فاسده بيع ده ځکه چې له يو لوري يې د ممنوعيت په اړه صريح حديث شريف راغلی دی لکه څرنګه مو چې مخکې ترې يادونه وکړه او له بل لوري همدا بيع د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې لاندې راځي ځکه اصلاً په دغه صورت کې د لومړني بايع هدف او مقصد په نقدو پيسو سره د نفع ترلاسه کول هدف او مقصد دي او په نقدو پيسو سره د نفع تر لاسه کول سود ګڼل کېږي.

مګر که همدا زيد همدا پنځه سوه بورۍ وريجې په عمر په عين قيمت يعني في بورۍ په دری زره افغانۍ د يو کال په تأجيل او نېټه سره بېرته وپلوري او د سود هدف او مقصد پکې متحقق نه شي، نو همدا بيع بيا هېڅ نوع شرعي مشکل نه لري.

نو پورته دلائلو ته په کتلو سره ويلای شو چې زمونږ په ټولنه کې مروجه بيع العِينه يوه غير مشروع او فاسده بيع ګڼل کېږي او زمونږ د ټولنې په ځينو ساحو کې د موټرونو، اوړو، او ورويجو په برخه کې زياته مروجه هم ده نو د «الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مفهوم په اساس له يادې بيع څخه اصلاً هدف او مقصد غير مشرع نفع او سود ترلاسه کول دي او که احياناً همدا بيع د سود او غير مشروع ګټې د مقصد

او هدف ځخه پرته ترسره شي نو بيا همدا فاسده بيع په يوه صحيح بيع باندې بدلېږي لکه ځرنګه مو چې په اتفاق د علماوو سره د مشروع صورت ځخه هم مخکې يادونه وکړه.

## څلورم مطلب

## د قرض حسن حکم په تغیر د نیت سره تغیر کوي

څرنګه چې د قرض حسن ورکړه یو مستحب او غوره عمل ګڼل کېږي او د ورکړې په اړه یې زیات خلک تشویق شوي دي او حتی د قرض حسن د ورکړې خطاب الله ﷻ خپل ځان ته کړی لکه څرنګه چې په لاندې ایت کریمه کې فرمایي:

(مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ) «233».

ژباړه: څوک دی هغه سړی چې قرض ورکوي الله ﷻ لره قرض نېک « مصرفول د الله ﷻ په لار کې» نو زیات به کړي الله ﷻ هغه قرض «ثواب د قرض» هغه ته په زیاتوالي ډېر او الله ﷻ تنګوي «رزق» او پراخوي «رزق» او هم «خاص» بیا به ده ته بېولای کېږئ! «د اعمالو د جزاء لپاره».

څرنګه چې قرض حسن یو مشروع بلکې مستحب عمل دی او مسلمانان یې په ورکړه باندې هم هڅول شوي دي؛ خو بیا هم د قرض حسن ورکړه په تغیر د نیت سره تغیر کوي د استحباب او مشروعیت پر ځای یې شرعي حکم په غیر مشروع او حرام سره بدلېدلای شي لکه د بېلګې په توګه ویلای شو احمد چې د خالد سره یوه حقوقي دعوی لري او احمد د خپلې دعوی په اثبات د باصلاحیه محکمې له لوري مکلف شوی او بینه او اسناد ترې غوښتل شوي دي، څرنګه چې احمد د خپلې دعوی د اثبات لپاره بینه او اسناد نه لري نو د خپلې دعوی د اثبات په نیت او قصد سره زید او عمر ته چې پیسو ته سخته اړتیا لري قرض حسن ورکوي او له دغه قرض حسن څخه یې هدف او مقصد دا وي چې تر څو زید او عمر زما په نفع په محکمه شاهدي ادا کړي؛ نو د «الأمور بِمَقَاصِدِهَا» فقهي قاعدې د مفهوم په اساس د احمد د دغه قرض حسن ورکړه زید او عمر ته یو غیر مشروع او حرام عمل ګڼل کېږي، اما که د احمد د قرض د ورکړې څخه واقعاً د زید او عمر حاجت پوره کول او مشکل حل کول هدف او مقصد وي نو په دې صورت کې احمد مأجور ګڼل کېږي او همدارنګه له محمد بن سرین رحمه الله څخه نقل شوي دي چې: عمر رضي الله عنه ابی بن کعب رضي الله ته لس زره درهمه په قرض حسن ورکړل نو بیا ابی بن کعب رضي لله حضرت عمر رضي الله عنه ته خرما هدیه ورکړه؛ نو حضرت عمر رضي الله عنه دا هدیه ابی بن کعب رضي الله عنه ته بېرته رد کړه

---

233 سورة البقره «۲۴۵».

نو بیا حضرت عمر رضي الله عنه د ابی بن کعب رضي الله سره ملاقي شو او ابی بن کعب رضي الله عنه ورته وویل چې ای عمره رضي الله عنه! ایا تا داگومان وکړچې ما خرما تا ته د ستا دمال په خاطر هدیه کړې وه؟ نو دا استفهام انکاري دي بلکې د ستا د مال او قرض حسن په خاطر مي خرما تالره نه وه هدیه کړې، نو بیا حضرت عمر رضي الله عنه ابی بن کعب رضي الله ته ویل چې زما هدیه بېرته ماته رد کړه او په همدغه مونږ هم عمل کوو ځکه حضرت عمررضي الله عنه هدیه رد کړه سره لدې چې حضرت عمر رضي الله نورې هدیې قبلولې ځکه حضرت عمر رضي الله عنه دا گومان وکړ چې کېدای شي دا هدیه یې ماته په دې نیت او قصد سره را کړې وي چې تر څو د قرض حسن په حصول او غوښتنه کي ورسره همکاري وکړم؛ نو دا خو منفعت د قرض شو او هغه قرض چې منفعت راکش یعنې رواړي سود گڼل کېږي، مگر هرکله چې ابی بن کعب رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه په دې پوه کړ چې ما تا ته هدیه د ستا د مال په خاطر نده درکړې نو بیا حضرت عمر رضي الله عنه له ابی این کعب رضي الله څخه هدیه قبوله کړه نو له پورته دلائلو څخه دا ښکاره شوه چې شرعي احکام او معاملات د نیت او قصد په تغیر سره تغیر کوي، نو که چېرې مونږ په دقیقه توگه متوجه شو خو همدا یوه ورکړه ده که د قرض حسن د مفهوم او شرعي غوښتې مطابق تر سره شي مشروع او مستحب عمل گڼل کېږي او ورکوونکی یې مأجور گڼل کېږي؛ مگر که د قرض حسن د مفهوم او شرعي غوښتني مطابق ورنه کړل شي او د ورکونکي نیت او قصد دا وي چې تر څو یې له امله یو غیرمشروع مفاد لاسته راوړي نه په دې صورت کي پر ځای د دې چې مأجور وگڼل شي بلکې شرعاً عاصي او گنهگار شمېرل کېږي او حتی په ځینو موارد کې کېدای شي قضاءً هم مجازات شي. اوهمدارنگه د بېلگې په توگه ویلای شو احمد چې د کابل ولایت ابتدائیه شهري محکمې مدني دیوان کې د خالد سره د یو دربند حویلي په سره د غصب حقوقي دعوی لري نه شي کولای چې د یادې محکمې رئیس او قاضي ته په داسي صورت کې قرض حسن ورکړي چې د دوی تر منځ مخکې له دې د قرض حسن ورکړه معمول او رائج نه وه اگر که اشده اړتیا هم ورته ولري؛ ځکه چې کېدای شي د خالد همدا ورکړه د قرض حسن د شرعي مفهوم په اساس نه بلکې د حق د کتمان او ابطال په موخه او هدف ترسره شي.

## پنځم مطلب
## په نیت او قصد کې تردد

څرنګه چې اوس مهال زيات خلک يو جنس لکه ځمکه، کور، موټر او داسې نور شيان د خپل ځان د استفادې لپاره اخلي او بيا په خپل نيت او قصد کې مترددد کيږي او له ځان سره وايي چې که ګټه پرې راغله نو خرڅ به يې کړم او که ګټه پرې رانغله نه يې خرڅوم لکه د بېلګې په توګه ويلای شو احمد چې د خپل ځان د استفادې لپاره په کابل ښار کې يو واحد اپارتمان د خپلې استوګنې په نيت او قصد په درې ميليونه افغانۍ وپيرلو او بيا په خپل نيت او قصد کې مترددد شو او ويې ويل چې که ګټه پرې راغله يعنې که همدا اپارتمان مې په درې نيم ميليونه افغانۍ پلورل کېدلو نو پلورم به يې تر څو پکې ګټه وکړم، نو اوس که د احمد نيت او قصد ته له يو لوري وګورو نو دا کور يې که چېرې اصلاً د خپلې استوګنې په نيت او مقصد را نيولی دی او که بل لوري ته وګورو د احمد نيت او قصد دا دی چې که يې همدا کور ورته ګټه کوي نو په ګټه به يې وپلوري، چې په دې صورت کې بيا د احمد نيت او قصد په همدې کور کې د تجارت ګڼل کيږي او زکات پرې لازميږي، نو اوس که چېرې د احمد اصلي نيت چې استوګنه ده مراد کړل شي، نو په ياد کور کې په احمد ورکړه د زکات نه واجبيږي او که د احمد دوهم نيت ته اعتبار ورکړل شي چې په ياد کور کې يې ګټه لاسته راوړل هدف او مقصد دي، نو بيا خو ياد کور د تجارت په نيت او مقصد را نيول شوی دی، نو په دې صورت کې په احمد باندې د زکات ورکړه لازميږي ځکه چې ياد کور د تجارت په نيت او مقصد را نيول شوی دی، څرنګه چې ټول امور په مقاصدو پورې اړه لري دا چې د احمد اصلي نيت په کور کې استوګنه او خپله استفاده کول دي نه تجارت نو په همدې اساس د احمد لومړنی اصلي نيت ته اعتبار ورکول کيږي او تردد په نيت او قصد کې د زکات د وجوب سبب نه ګرځي نو د نيت د تردد له امله په احمد باندې زکات نه واجبيږي«[234]».

---

234 تاجي، هبة الله « ولد في دمشق سنة ١١٥١هـ وتفي في منطقة أُسكدار بِاسطنبول سنة ١٢٢٤هـ»، كتاب، التحقيق الباهر شرح الاشباه والنظائر، ناشر: مكتبه رشيديه، جـ «١» صـ «٥٤٣».

## شپږم مطلب

## د ښځو تزیین او سینګار

د ښځو د تزیین او سینګار مسئله چې اوس مهال له یو لوري ډېره مطرح او معاصره مسئله ګڼل کېږي او له بل لوري ښځينه جنس الله ﷻ خلقتاً او فطرتاً لطیفه او ښایسته پیدا کړې ده، نو په همدا اساس د ښځې فطرت هم دا غواړي چې تل خپل ځان سینګار او ښایته کړي او دا سینګاره یو مشروع کار دی او حتی په ځینو مواردو کې په سینګار کولو باندې مأمورې هم دي خو البته دا سینګار باید د اسلامي شریعت له حدودو څخه په هېڅ صورت تجاوز ونه کړي، څرنګه چې د سینګار مسئله یوه مشروع مسئله هم ده خو بیا هم د هرې ښځې د قصد او نیت په اساس سره یې شرعي حکم بدلون مومي لکه د بېلګې په توګه ویلای شو کله چې یوه ښځه په دې نیت خپل ځان سینګار او ښایسته کوي چې تر څو یې خپل خاوند خوشحال او زړه یې ترلاسه کړه نو د همدې ښځې همدا سینګار یو جائز عمل دی؛ اما که د خپل ځان د سینګار څخه یې هدف او مقصد دا وي چې نامحرم خلک ورته وګوري او په فتنه کې یې اخته کړي نو د نومورې همدا عمل او سینګار یو حرام عمل ګڼل کېږي.

